# کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: اروا پوهنه

څانګه: اداره او منجمنټ

مولف: محمد طيب ببرک

ژباړن: قاری محمد حليم

د څار کمېټه:

- محمد آصف ننګ د تخنيکي او مسلکي زده کړو معين
- ديپلوم انجنير عبدالله کوزابي د تعليمي نصاب رييس
- محمد اشرف وحدت په تعليمي نصاب کې د معينيت د مقام سلاکار

د تصحيح کمېټه:

- فرشته
- عبدالجميل ممتاز

د ګرافيک او ډيزاين څانګې مسئول: محمد جان عليرضايي


ګرافيک او ډيزاين: علی مومنی

چاپ کال: ۱۳۹۲ لمريز کال

تيراژ: ۳۰۰۰ ټوکه

چاپ ځل: لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښناليک:** info@dmtvet.gov.af

**ISBN کډ:** ISBN [illegible]



Ketabton.com



د چاپ حق د تخنيکي او مسلکي زده کړو له معينيت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د توري — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه سوکاله ژوند د اسبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همدارز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، څکه دغه ستر او سپېڅلي هدف ته د رسېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیستی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربیون باید په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، سموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیر کې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیاوړو استادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| خپرکي | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | د اروا پوهنې تعریف | ۱ |
| دویم | د شخصیت تعریف | ۱۳ |
| درییم | د هېرېدنې حافظه | ۲۵ |
| څلورم | احساس او ادراک | ۳۱ |
| پنځم | شرطي کېدل او یادګیري | ۳۷ |
| شپږم | هوښ | ۴۳ |
| اووم | انګیزش | ۵۳ |
| اتم | هیجان | ۶۱ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۶۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مقدمه

ګرانه زده کوونکیه! ممکن چې له داسې پوښتنې سره مخ شې، چې اروا پوهنه څه ګټه لري. مخصوصاً کله چې ته د اروا پوهنې یا تربیتي علومو محصل نه اوسې، ممکن چې له خپل ځان څخه وپوښتې، چې ولې د عمومي اروا پوهنې تر عنوان لاندې یو مضمون مطالعه شي. البته احتمال لري ځینې په طنز سره دا خبره وکړي، چې د اروا پوهنې د مطالعې هدف دا دی چې یو مضمون په نورو مضامینو ور اضافه شي؛ تر څو وکولای شي خپل تحصلي سند تر لاسه کړي، ممکن دا خبره د ځینو لپاره هدف وي. خو پوره یقین لرم چې دا به د ټولو محصیلینو لپاره هدف نه وي، که لاندې مطالب په غور سره ولولی ښایي دا به ښه درک کړی، چې زموږ موخه د دې کتاب له تدوین څخه څه شی ده؟ یا د اروا پوهنې له علم سره آشنایي کومې ګټې کېدای شي چې ولري.

اروا پوهنه یې د یون، یا تګ په علم سره تعریف کړې، یعنې د یوه فرد عکس العمل په یو محیط او یوه ټاکلي وخت کې، چې په عین حال کې هم په فرد او هم په یوه محیط پورې تړلی وي، تل د معنی لرونکی دی، نو بناً د اروا پوهنې له علم سره د اشنایۍ کلي موخه او هدف دا دي چې وکولای شو، خپل او د نورو رفتار یا عکس العمل په یوه چاپیریال اوپه یوه ټاکلي وخت کې مطالعه کړو.

ممکن دا پوښتنه وکړی، چې په داسې حال کې چې څوک نه غواړي اروا پوه شي، بیا نو دغه مطالعه څه ګټه لري. موږ هم فکر نه کوو، چې د دې پوښتنې ځواب ډېرسخت وي. لنډه اشاره څو داسې مواردو ته چې هلته پکې اروا پوهنه د استفادې بڼه نیسي، نو هلته به نه یوازې داچې ستاسې پوښتنې ځواب، بلکه تاسو به د دې کتاب ویلو ته ښایي ترغیب کړي.

د اروا پوهنې د یادولو او یا مطالعې اړتیا:

تر هر څه مخکې تاسو پدې پوه یاست، چې تاسو زده کونکي یا محصلین یاست، نوباید د دې کتاب او د ټولو نورو درسي کتابونو مطالب زده کړی. تاسو نه یوازې دا چې د خپلو درسي کتابونو مطالب زده کړی، بلکه هغه باید د آزموینې تر وخته پورې په خپله حافظه کې وساتی.

ځینې نور کسان هم همدا راز په لرې او نیژدې کې شته ( ورور، خور، زوی، لور، دوست او آشنا) چې په اجباري ډول باید څه شیان یاد کړي. احتمالاً ځینې افراد به ښه موفقیت او ځني نور به بیا چندانې موفقیت په لاس نه راوړي. تاسو هم ممکن د دې دوو ډلو څخه د یوې ډلې جز واوسی. د اروا پوهنې له علم سره آشنایي، په ځانګړي ډول آشنایي د یادولو له اصولو سره کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي؛ تر څو په خپله تاسو یو شی سم او بهتره زده کړی او هم خپل اطرافیان په غوره یادولوکې رهنمایي کړی.

که د یادولو په اصولو ښه پوه وی، نو بیا به په لازم وخت کې ښایي، چې د مطالبو د یاد ولو لپاره صرفه جویي وکړی، یعنې دا معنې چې خپل وخت به موسپمولی وي او په نتیجه کې به د نورو کارونو لپاره وخت درته سپمېدلی وي.

پوهېږو چې کوچنی په تدریجي ډول سره وده کوي او له خپلې ودې سره ډېر قدرتونه په لاس راوړي. د دې لپاره چې کوچنې وکولای شي، د ځینو کارونو د ترسره کولو له عهدې څخه ووځي، نو لازمه ده، چې کوچنی باید د جسمي او ذهني ودې له پلوه ټاکلي هدف ته رسېدلی وي.

لکه، کوچنی باید تقریباً یوکلن وي؛ تر څو په لاره تګ وکړای شي، دوه کلن وي؛ تر څو معنی لرونکې کلمې په خوله راوړای شي او پنځه کلن یا شپږ کلن وي؛ ترڅو وکولای شي ویل او لیکل زده کړي.

په کلي توګه سره هرکار خپل وخت لري، هرشی په هر وخت او هر چا ته نشو کولاي ورزده کړو، هر هغه څوک چې دغه واقعیت په نظرکې نه نیسي، نو دا په اصل کې اوبه په هاون یا اوکلۍ کې ټکول یا کیښتۍ په وچه کې چلول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــو د دې کتــاب په مطالعه کولو سره به دا درک کړی، چې د مختلفو عمرونو درلودونکو کوچنیانو څخه د څه شي انتظار او تمه ولرو.

تاســې ښــایي متوجه شــی، چې ټول متعلیمن په هغه چې ممکن دي د عمر له پلوه توپیر ونلري، د ذهني وس او تــوان لــه نظره د پام وړ توپیرونه لري، نوځکه خو د هغوی په ښــو ونه اوروزنه کې حتــماً باید فردي تفاوتونه په نظرکې ونیسی.

لــه کلمو څخه یوه کلمه، چې هغه زمــوږ د ټولو په ژبه باندې جاري ده هغه د هوښ کلمه ده. هغه کوچنی چې ښې خبرې کوي یا ښه درس وایي، نو هغه ته په هوښ یا هوښیار وایو، همدارنګه هغه افراد چې حاضر ځوابه وي هغه ته هم هوښیار وایو.

خو لنډه داچې هوښ په تحصیل، کار، شــغل او په کلي توګه سره د عادي ژوند په اکثره څانګو کې د بریالیتوب او کامیابۍ خورا مهم عامل بلل کېږي، کله هم هوښ توارث ( ارث ) ته او کله یې هم چاپېریال ته نسبت ورکوو.

د دې کتاب په مرستې سره به ښایي متوجه شی، چې کامیابي یوازې د هوښ محصول نده، ډېر محصلین او متعلیمن شــته، چې له پورتنۍ خبرې سره چنداني موافق ندي، دغه کتاب به ښــایي تاسو ته در وښي چې عدم مو فقیت په کومو عواملو کېدای شي تړلی وي او کله چې په دغه کتاب کې وړاندې شــوي دلایل او نتایج تاســو قانع کړای شي، چــې چاپېریــال او توارث دواړه د هوښ په پیــدا کولو کې مهم رول لري او هېڅ یو هم په تنهایۍ سره نشي کولای، چې یو رول یا یو نقش ولري، نو له عقل څخه، د داســې چاپیریال په راوســتلوکې شــی، چې په هغه کې ستاسو د اولاد د هوښ د خوشحالۍ او سپړلو امکان را منځته کېږي ښای غور او دقت وکړی.

ډېــر خلــک له خپلې کمزورې حافظې څخــه ګیله لري، ډېری محصلین هم دغه ګیله لري، احتمال لري تاســو هم داســې متعلمین او محصلین وپېژنی، چې هغوی د ډېر زیات زحمت او زیار په مقابل کې ډېره کمه پایله په لاس راوړي، یعنــې هېــره د هغــوې له خواه غټه ســتونزه ده، چې هېره څه مهال او ولې رامنځتــه کېږي او د هېرې د مخنیوي لارې کومې دي.

شاید دا زده کړی، چې څرنګه ولولی او مطالعه یې څه ډول ذهن ته وسپاری؛ تر څو مو هېره کمه شي. دغه کتاب به تاســوته در زده کړي، چې یادول تل پاتې او زر هېر نشي، اړتیا څه وخت دې ته مهال پیداکوي؛ ترڅو په بشــپړه توګــه پــه ذهن کې ځای ونیسي، نوځکه باید د یوې مطالعې له یاد ولو وروســته، نــه باید پرته له فاصلې څخه بل مطلب یې یاد شي، بلکه د هغوی په منځ کې باید یوه وقفه رعایت شي.

په ورځني ژوند کې ډېر خلک وینو، چې متفاوتې او بېلې موخې تعقیبوي، یو یې د قدرت غم نیولی اما یو بل فرد بیا وینو چې په کلي توګه ورزش یا هنرته بېګانه دی، خو د لوړو مؤسســو محصلین بیا هغه موخې تعقیبوي، چې بیا هغه د عامو خلکو لپاره بېګانه پاتې دي. موږ ټول به همېش په یوحال نه پاتې کېږو، کله به ډېرزیات خوښ او کله به ډېر زیات غمجن کېږو، کله به غصه کېږو او کله به وېرېږو، یعنې حالتونه په خپل ځان کې وینو، چې ډېر سخت او زر تلونکي دي. دغه حالتونه د هیجان په نوم نومول شوي دي.

نو بناً پردی هیجان یعنې کلي عکس العمل ســخت او لنډ اورګانیزم (پیکر بدن) یو غیر منتظر موقعیت ته له یوه عاطفي حالت سره خوشــاینده او ناخوشــاینده کېداي شي وویل شي، چې هیجان هغه عامل دی، چې ارګانیزم په حرکت راولي، د اروا پوهنې په علم کې یو ډېر اساس او بنستیز ځای لري، ځکه چې را بطه یې له نیازونو او انګیزش سره ډېره نیژدې ده او کېدای شي، له رواني یا بدني اختلا لونو څخه یې ډېره ریشــه وي، هیجان کولای شي د انســان سلامتي تخمین کړي، ځکه چې هیجان د اورګانیزم د جوړښت موجب ګرځي.

احتمال لري چې تر اوسه پورې مو د رواني امراضو کلیمات لکه د لیونتوب، رواني رنځ، د نوروله تکلیف څخه خوند اخیســتل، مړاوی توب اوداسې نورو ځینو امراضو نومونه اورېدلي وي اوپه دقیقه معنی به یې نه پوهېږی. ممکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، چې پوه به نه یاست، په دې هکله چې د طبیعي ( بهنجار) او غیر طبیعي ( نا بهنجار) په منځ کې څه توپیردی، ښايي نه به پوهېږی، چې رواني مریض لیونی نه دی، بلکه مریض دی. احتمالاً وینی به یې چې نیکه یا انا او یا پلار اومور تل د پښــو او معدې له درد څخه چیغې وهي، اما ډاکټر هغه ســالم او روغ ســړی تشخیصوي او وایي، چې نوموړی په ( رواني) مرض مبتلا دی اوتاسې په دې تر اوسه نه پوهېږی، چې هستري څه معنې لري، چې ځینې یې تاســو وینی، افراد په دوره یي توګه سره مړاوي او خوشــحاله کېږي او تاســې د دې حالت په علت نه پوهېږی، نو د دې اثــر په مطالعې سره البته په دې شرط، چې په بشــپړ فهــم سره مطالعه شي، نه په چرت وهلو سره، نوبیا له پورتنیو پوښتنو څخه ډېرو پوښتنو ته مناسب ځواب ولری.

خپــل او د نــورو د رفتــار علتونه تر یوې اندازې پورې تحلیل کړئ، د طبیعي او غیــر طبیعي افرادو په منځ کې په توپیر باندې پوه شــی، ناروا تور په جا مه لګوی او هم پدې پوه شــی، کوم رفتار طبیعي اوکوم غیر طبیعي دی. او په مختلفو موقعیتونو کې کوم ډول رفتار مناســب او کوم ډول نامناســب دی. احتمالآ دغه به مو اورېدلي وي، تر بیم نه ســړی په بلا کې ښــه وي،ممکن چي پوښــتنه وکړي، چې منظور او هدف څه شی دی، هدف دا دې چې په هېڅ وخت کې د وه زړه کېږي مه او په حالت د نه تصمیم نیونې کې مه اوسي، یو معروف قول دی، مرګ یو ځلې راځي، یوځلې هر څه چې دی تصمیم ونیسي، کوښــښ دا کوي، چې زړه نازړه یعنې دوه زړه پاتې نشي، ځکه چې هغه افراد په همدغه حالت وخت تېروي.

ټول آزمایښــتونه داښــیي چې احتمالاً د معدې په زخم به اخته کېږي اوکه داسې تصمیم ونیسي، چې هغه تصمیم لــه غــم، زحمت، له ناراحتۍ سره وي، نو د هم دغه تصمیم ضرر او زیان د دوه زړه توب، په پرتله مراتبوکې لازمه ده، لــه دوو لارو څخــه یــوه لاره انتخاب کړو، ډېر تردید خپل ځانته مه پرېــږدئ او مه ډېر وخت په حالت د بې تصمیمۍ کې تېروئ، بنأ پرهغه ویل شــوې د اروا پوهنې زده کړه، برســېره، پردې چې د ښــوونکو او پالونکو لپاره ضرور ده، همداراز په دولتي او خصوصي دوایروکې د اداراتو د مسؤلینو او کارکوونکو لپاره هم یوه ټینګه او حتمي اړتیــا بلل کېږي؛ تــر څو د روحیاتو، علتونو اود افرادو د عکس العمل د انګېزې د اوامرو او لارښــونوپه مقابل کې اوپه محوله اموروکې د هغوی د موفقیت او عدم کامیابۍ د څرګندوالي علتونه وکولای شي غوښتونکي لازم تصامیم اتخــاذ کــړي. د اداري آمران او کارکونکي اړتیا لري؛ ترڅو په اســتفادې له دې رفتار څخه خپل ځان د همکارانو او مراجعینو په مقابل کې عیار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د اروا پوهنې تعریف

**ټولیز موخه:**
د اروا پوهنې د علم تعریف، اهمیت، دندې او موخې

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې زده کونکې کولای شي:

- د اروا پوهنې د علم د انکشاف او توسعې تاریخچه تشریح او توضیح کړي.
- د اروا پوهنې مختلفې شعبې توضیح کړي.
- د ذهني شاته پاتې والي علتونه توضیح کړي.

تاســو چې اوس فعلاً د دې کتاب په ویلو مشــغول یاستی آیا پوهېږی، چې لوست مو څرنګه زده کــړ؟ آیــا پوهېږی، چې په لاره تلل مو څنګه زده کــړل او همداراز خبرې کول او فکر کول مو څنګــه زده کــړل؟ آیا تل د خپــل رفتار او او اعمالو په علت پوهېږی، چــې ولې ځینې محصلین د پوهنتون د کانکور په آزموینه کې نه شي کولای چې ومنل شي او ځینې بیا منل کېږي؟ آیا پوهېږی، چې هوښ څه شــی دی او څنګه وده کوي، آیا پوهېږی، چې د هوښــیارۍ علت څه شی دی؟ آیا پوهېــږي، چې دځینو خلکو رفتــار عجیب معلومېږي او علت یې څه شــی دی. آیا پوهېږی، چې ذهني وروسته پاتې والی څه شي دي، اوکوم لاملونه د وروسته پاتې والي سبب ګرځي؟ آیا پوهېږي، چې ولې خوب وینې؟

اروا پوهنه، کوښــښ کوي، چې داســې پوښــتنو ته بلکه په ســل هاوو نورو داسې پوښتنو ته ځواب پیداکړي، نوځکه خو د اروا پوهنې جزابیت په همدې کې دي، چې ستاسو پوښتنو ته ځواب درکوي، بله دا چې اروا پوهنه په خپله ستاسو په باره کې ګړېږي، چې څنګه فکر کوی، چې څنګه قبلېږي او څنګه نه قبلېږي، څرنګه د غم او ښــادۍ احســاس کوي، ولې مو له یوه شــخص او یا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه رنګ څخه بد راځي، ولې موکله یو نفر بد ابسي، په داسې حال کې چې په علت یې نه پوهېږو.

لنـډه داچې څرنګه رفتارکوي، نو په همدې بنا(نوپه حقیقت کې) کله چې اروا پوهنه مطالعه کوی یا یې وایی، نو په اصل کې خپل رفتار مطالعه کوی اوپه نتیجه کې کولای شي د نورو رفتار هم همداسې مطالعه کړی. په دې اساس اروا پوه هر هغه څوک دي چې خپل او د نورو رفتار مطالعه کوي، البته ښه او غوره اروا پوه هر هغه څوک دی، چې لومړی خپل ځان او بیا نور مطالعه کړي.

اما تجربه لرونکې اروا پوه ډېر ښه پوهېږي، چې هر فرد له نورو سره فرق کوي، یعنې پوهېږي، چې د هغه افکار، علایق، انګېزې، عواطف او قدرتونه هغه نه دي، چې نور یې لري، تجربه لرونکې اروا پـوه پـه هغه څه پوهېږي، چې خپله د ده پـه هکله صدق کوي، ممکن چې د نورو په هکله صدق ونکړي.

اروا پوهــان هغــه څه بیانوي، چې خلک یې تر سره کوي، لکـه خندل، لوبې کول، منډه وهل، شوخي کول، د مطالعې تمرین کول، اشعار ویل، البته تردې هم اضافه ماناوې لري چې وروسته به ښایې ور ورسېږو.

نو په همدې حســاب دا معلومېږي، چې اروا پوهنه  یو جالب او په عین حال کې ســتونزمن علم دی، ځکه چې هر هغه څه چې د اروا پوهنې اړونده دي هغه مســتقیماً د لیدنې وړ نه وي، اروا پوهنه نه شي کولای، د افرادو هوښ، حافظه او شــخصیت مســتقیماً اندازه کړي، هغه یوازې کولای شي، د افرادو کړنې مشــاهده کړي او د هغوی په بنســټ ووایې چې؛ مثلاً: هوښــیار دی یا کم هوښــیار، قوي اوپیاوړې حافظه لري او یا ضعیفه، طبیعي شخص دی، که غیر طبیعي، یو مثال راوړو؛ تر څو په ښه توګه روښانه شي، چې اروا پوهان څرنګه ذهن مطالعه کوي. د سره کاغذ یوه پارچه د ۵×۵ ســانتي مترپه اندازه تیاره کړئ او بیایې د یو ه خاکســتري متن په مخ کېږدی، په یوه ســترګه او د ۴۰ ثانیو لپاره یې منځ ته ځیر شــی او روسته له څلوېښــتو ثانیو یې پورته کړئ، ترې لاندې به یې یوه شــین رنګې لکه ووینی، دغه شــین رنګې لکه، چې د انځور د شــاه د اصطلاح یا (after image) پــه نامه یادېږي، هغه چېرته قرار لري، ستاســو د جســم څخه  د باندې او یا هم د ننه؟ مســلماً د خاورین متن په مخ کوم داســې واقعي شی شتون نه لري، ځکه که وغواړی، چې هغه په لاس لمس کړی، نو ښایې کوم څه شی به احساس نکړی، د دې ترڅنګ که خپلې سترګې په حرکت راولی، نو لکه به هم ښایې حرکت وکړي، نو له دې څخه پردې نتیجه اخلي، چې ستاسو له بدن څخه د باندې څه شی وجود نه لري او هر هغه څه چې وینی، هماغه انځور دي، چې ستاسو د بینایۍ په دستګاه کې منځته راغلي دي، دغه پایله اخیستنه یا دغه استنتاج پرته له کوم چون او چرا څخه د منلو وړ ده، اما نه باید هیر کړو، چې یوازې یو استنتاج دی، نه یوه مستقیه مشاهده.

له هر هغه څه چې تاسې خبرداری او آګاهي لری، هغه هر هغه شی دي، چې ستاسو له جسم څخه د باندې شتون لري. تاسو د هغه ذهني انځور د تولید له پیدا ینښتونو څخه، چې ستاسو د ننه پېښېږي، معلومات نه لری، تاسې له خپل لیدونکې مستقیم رفتار څخه نتیجه اخلی، چې د بینایۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دستګاه په د ننه کې پېښ شوي دي.

ستاســو رفتار هماغه ليدل د شــنې لکــې او د هغه اعلانول دي، څکه چې ټــول دغه رفتار په همدغه شرايطوکې ښيې او په منلوکې يې د ترديد ځاى نه پاتې کېږي.

نــو بنــاءً ذهن يا روان يوازې کېداى شي، چې په غير مســتقيمه توګــه وپېژندل شي، د هغه د باندنيوښودنو په بنسټ، د هغه څه په مرسته چې انسانان يې وايې او هغه کارونه چې يې ترسره کــوي او حتــی کله هم د هغو کارونو په مرســته چې نه ترسره کېږي، ياخــبرې چې نه يې کوي ، ( مخکېنيو مواردو په پرتله ) د ننه په انســان کې پېچلې ســاختمانونه شــتون لري. کېداى شي دغه ســاختمانونه د مختلفو محرکونو په واسطه تحريک کړل شي. د هر تحريک اثر تر مشاهدې لاندې ونيول شي. او د ذهن يا روان په هکله څېزونه کشف کړل شي. اما نه بايد له پامه وغورځولاى شي، چې په بدن کې د شــته ساختمانونو کړنې واقعاً پېچلې دي او د دې کړنوپه هکله چې اروا پوهنې هرڅومره ډېرشيان کشف کړي دي، خو سره له هغه بياهم د دې پېچلتيا د حل د پاره ډېره اوږده لاره پــه مــخ کې لري. او معلومه نده چې څه وخت به وکړاى شي، چې په دې مهمه کاميابۍ لاس بري شي.

نو په دې هکله، هغه څه چې مو تر اوســه او تردې ځايه وليدل، کولاى شــو په لاندې ډول يې را ونغاړو.

(اروا پوهنې يعنې د روان يا ذهن پېژندل څکه نه شو کولاى د نورو له ذهني خلقتونو يعنې له هغه څخه چې د نورو د مغز په د ننه کې پېښــېږي، مستقيم شناخت ولرو. دهغوی کړنې بايد په اجبار يا په بل عبارت دهغوی رفتار بايد په نظرکې ونيســو، البته دغه طريقه زموږ د خپلو ذهني خلقتونو په هکله صدق کوي . )

يعنې هغه وخت کولاى شو، له خپلو ذهني ( موندنو) څخه باخبر شو، چې خپلې کړنې په غور او وخت سره په نظر کې ونيسو.

شايد د پورتنيو مطالبو وروستی جمله ستاسو لپاره بې معنی ښکاره شي، په همدې ترتيب چې تصور وکړی، هر انســان له هر هغه څه چې د ننه په ده کې تېرېږي خبر لري، اما داســې ندي او دغه واقعيت فرويد(freud 1856-1939 )تايد کړی.

اوخپله تاسې په کمه توجه سره کولای شی هغه تجربه کړی،

فرويد ( ۱۹۳۹ ـ ۱۸۵۶) به ويل د ژوند په عادي اوضاع کې ممکنه ده په يو شي فکر وکړو، پرته له دې نه چې وپوهېږو، په هغه فکر کوو، مثلأپه وار، وار له خپلو دوســتانو او قريبانوڅخه اورو، چې د هغه کار په هکله چې تر سره کړی يې دی. يا يې ندی تر سره کړی، داسې وايې نه پوهېږم چې ولې مې دغه کار ترسره کړی يا نه پوهېږم چې ولې مې هغه هېر کړی.

فرويــد بــه کله له دې نه هم مخکې ځي، هلتــه چې به يې ويل خندل هم کېدای شي د تنفر يوه نښه وي. دغه خندا ( چې له خشم څخه بدتره وي ) حتی د افرادو د نوم هېرونه اويا د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوم په تلفظ کولو کې، سـختي یاسـتونزه هم کولای شي د تنفر یوه نښه وي. دغه بېلګه دا ښیې چـې احتـمال لري موږ په یوه شي فکر کوو پرته له دې څخه چې ویوهېږو په هغه فکر کوو، نوبنا پـردې چې مسـتقیم لیدونکې هغه څه چې په ذهن کې تېرېږي امکان نـه لري، نو ناچاره باید د ذهن کړنې تر مشاهدې لاندې ونیسو او د هغوی په بنسټ دهغه شي په هکله چې زموږ په د ننه کې تېرېږي پایله اخیستنه وکړو.

البته نباید هېر کړو چې دا ډول نتیجه اخیستنې همېشه په لاس کې نشته، مخکې تر دې چې د دغو پایلو اخیستنو له صحیح والي څخه مطمئن شو، لازمه ده چې په ډېر دقت او غور او تعمق سره رفتاربــررسي کړو، ځکه چې خندا نشي کېدای همېشــه متنفر آمېــزه وي. په ډېرو مواقعو کې ساده او هېره هم پېښېږي.

د فرویــد موخــه له دغــه رنګ خپرونوڅخه دا وه، چې وښــیې څرنګه کېــدای شي د ذهن په مطالعه کې په عین توګه سره اســتدلال وشي، هغه دغه طریقې دخپلو ذهني بهیر په مطالعه کې هم کارولې دي.

مثلاً: کله به یې چې د ځینو افرادو نوم هېراوه، نو نتیجه به یې اخیسته چې یو څه شی به یې پــه مغز کې شــتون لري، چې خپله دی له هغو څخه بې خــبره دی. هغه د مغز دغه برخه ناخبره نوموي.

**د اروا پوهنې تاریخچه:**

که څه هم د اروا پوهنې د علم ظهور ( ۱۸۷۹م ) کال ته نســبت ورکول کېږي، هغه کال چې ویلیم وونټ ۱۹۲۰ـ ۱۸۳۲م د اروا پوهنې لومړنۍ آزمایش ګاه د آلمان د لاپزیک په ښار کې جوړه کړه، د روح یا روان مطالعه یا د ذهن کړنې ډېر اوږد تاریخ لري او حتی کیداي شي، چې د انســان له خلقت سره سم منځ ته راغلی وي.

ټولو لرغونو فلاســفه وو لیکونکو او ډاکټرانو، په یو ډول نه په یو ډول یې د انســان د رفتار په هکلــه خــبرې کړې دي، نو بنا پــر دې، د اروا پوهنې د تاریخ د پېژندنې لپــاره لازمه ده چې، په لرغونې زمانه کې د ادبیاتو فلســفي طبابت او د نورو ټولو علومو غوړولو او ظهورته اشــاره وشي. دغــه کار د یــوه بېل کتــاب د اروا پوهنې د تاریخ تر عنوان لاندې تهیه کولــو ته اړتیا لري. او نور کتابونه په همدې هکله لیکل شویدي. د دې لپاره، چې هم خپل کار آسانه کړو او هم د محصلینو حالت په نظرکې ونیســو، نو یوازې د اروا پوهنې مختــصره تاریخچه په دوو پېړیو یعنې په ۱۹ او ۲۰ پیړۍ کې توضیح کوو.

د ۱۹ پېــړۍ پــه لومړنیو کې د علومــو ودې او صنعتي انقلاب ډېرې ټولنیــزې اړتیاوې منځته راوړې، د تولید د زیاتونې په منظور عامې روغتیا، د کوچنیانو تحصیل، انساني مناسب روابط او ... په دې دوره کې ســیاسي انقلابونه پیښېږي. په ډېرو هېوادونو کې شاهي نظامونه ټولېږي، انسانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرأت پیداکوي؛ څو خپل ځان د پادشـا هانو او ډلو ټپلو له سـلطې څخـه خلاص کاندي، اوخپلو بنسټیزو حقونوته لکه، د ژوند حق، کور اوهمداراز د خپل ځان او نورو د مواظبت او ساتنې حق ته ورسېږي.

د ژان ژاک روسـو (J.J.Rousseau) (۱۷۱۲-۱۷۷۸) پـه ادبیاتو کـې ټولنیزې بې عدالتۍ فاش کېږي. ویکتورهوګو(V.Hugo) رومانتیزم (داستان وېینه ) د شګوفایې اوج ته رسوي او مارکس او انګلس (K.Marx,F.Engles) کتابونه نشروي، لنډه دا چې د دوو پېړیو ۱۹ او ۲۰ په اوږدو کې د انسان د هیلو اعمال اورفتار په ټولو جبهاتو او په مختلفو طریقو بیانېږي.

(W.Weber) په آلمان کې د بینایې د احساس په اړه کارکوي. اود وبر د قانون په نتیجه کې د خورا کم محسوس تفاوت په مفهوم سره منځ ته راځي.

فیخنر(G.Fechner) د وبرکارونه تعقیبوي. او د سایکوفیزیک ( د بدني یا جسمي اروا پوهنې) طرح رېزي کوي.

( هغـه څـه چې د جسـم او د روان د روابطو نظریه بولي) وونت د فیخنرشـاګرد، څنګه چې مو اشـاره کړې ده، داروا پوهنې د لومړني آزمایښـت ځای بنسټ ایږدي، اوپه پایله کې د نوې اروا پوهنې د پلار په نامه شهرت مومي. د وونت د لټولو په سیوري کې د اروا پوهنې توصیفي څنډې تـه کوي؛ تر څـو د تجربوي علم په بڼه را ووځي. په امریکا کې ویلیام جېمز (W.James) پرېکړه کوي څو آلمان ته لاړ شي او د وونت د شـاګردانوله جملې څخه راووځي جېمز هم د وونت ټولې آګاهۍ یا هوښـیارۍ تر آزمایښتي څېړنې لاندې نیسي. د هیجانونو په هکله داسې نظریه وړاندي کوي، چې په هغه کې هیجاني آزمویښـت د فزیولوژیک له بل ډولیز څخه د معلوماتو موندنې په بڼه تعریفېږي.

**د هیجان څېرکي:**

جېمـز اروا پوهنـه تقریباً د امریکا ټولـو ښانګو ته وړي. او موخه یې مشـخصه وي او ډېرې څېړنیزې موضوګانې وړاندې کوي، هوښ، هیجان، نګرش، زمان او عکس العمل ...

په فرانسـه کې فزیولوژیکې اروا پوهنه د بروکا (P.Broca). د کارونو د همت په وجه پراختیا مومي، شـارکو (J.M.Charcot) د هسـتریک د افرادو د مشـاهدې طریقې رواني مریضان منځته راوړي.

هغه ډېر شاګردان روزي، چې له هغوی څخه یوېې، د ریبو (Th.Ribot) په نامه یادېږي، چې په فرانسه کې یې آزمویښتي اروا پوهنې طرح ریزي یا پلان کړې دي.

او بینه (A.Binat) بیا د کوچني له ودې سره او د هوښ له مطالعې سره علاقمند کېږي.

پـه اوتریـش کې (S.Freud) اروا پوهنې ته او په روسـیه کې پاولـوف د اروا پوهنې په علم پیل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه همدې ترتیب د ۲۰ پېړۍ پــه لومړیو کــې اروا پوهنه په کارپیل کوي. په آلمان کې وونټ، په فرانسه کې شارکو او ریبو، په امریکا کې جیمز، په اوتریش کې فروید او په روسیه کې پاولوف.

**د اروا پوهنې مکتبونه عبارت دي له:**

- ساخت پالنه
- کردار پالنه
- ټول پالنه
- روان کاوي ( د روح اوځان کاوش )
- انسان پالنه
- رفتار پالنه
- پېژندل پالنه
- ټولنه او دود پالنه
- ژوندون پالنه

**د اروا پوهنې څانګې:**

ومو ویل چې اروا پوهنه د انســان رفتار حتی، چې د حیوان رفتار مطالعه کوي، چون درفتار ډولونه ډېر زیات دي، طبیعتآ باید د اروا پوهنې بېلا بېلې څانګې شتون ولري؛ څو هر یو له هغوی څخه د انسان او حیوان د رفتار اړخونه مطالعه کړي.

په اروا پوهنه کې د موجودو څانګو تعداد ډېر دی، اما دلته مهمو څانګوته اشاره کېږي.

**۱ ـ حیــواني اروا پوهنــه:** د حیوانانو د رفتار مطالعه په طبیعي یا آزمایښــتي چا پېریال کې د هغوی د یو بل سره د پرتله کولو په خاطر او د انسان رفتار ته د نتایجو دودول یاخپرول.

**۲ ـ فزیولوژیکــي اروا پوهنه:** د بدن او رفتــار د رابطې مطالعه د بنیادي، عصبي، خلقتونو د پېژندنې لپاره لکه حافظه او ژبه.

**۳ ـ جنیتیک یا وراثتي اروا پوهنه:** د رفتارمطالعه د انسان له ودې سره سم: کوچني والي، نوې ځواني، ځواني، پوخ عمر، ډېر عمري، او زړتوب، له دې مطالعې څخه موخه د انسان د ودې پېژندنه او د هغه بحراني شیبې.

**۴ ـ ټولنیــزه اروا پوهنــه:** د فرد د مطالعې د رفتار په ډله کې د متقابل کردار دپېژندنې لپاره د فرد او ډلې په مابین کې او له فرد سره مرسته د خپلې ټولنې د جوړښت لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ ـ د ژبــې اروا پوهنــه:** د ځينو هغو خلقتونو مطالعه، چې د فرد لپاره ځانګړې شــوې ده، د انساني او حيواني ژبو له جملې څخه دغه ځانګه تر يوې اندازې پورې تازه پويا او الهام بخښونکې ده، هدف دادی چې په ژبه باندې حاکم قوانين او کلامي ارتباط وپېژندل شي.

**۶ ـ د فردي توپيرونو اروا پوهنه:** د انسانانو د تشابهاتو او توپيرونو په هکله څېړنه او همداراز د دې ځانګې موخه د بنسټيزو رفتارونو پېژندنه د ننه په يو ډول او په مابين د ډولونو کې ده.

**۷ ـ تربيتي اروا پوهنه:** په ښوونه اوروزنه کې د اروا پوهنې کاري اصول، د يادولو د بېلابېلولارو مطالعه او د تدريس فنون د محصلينو د مرستې په منظور په تحصيل کې دهغوی د کاميابۍ لپاره.

**۸ ـ صنعتي اروا پوهنه:** د کارکوونکو ټاکنه، د توليد د فنونو ټاکنه، د حرکاتو تحليل او په بازار بانــدې د حاکمو فنونو مطالعه، د دې ځانګــې موخه د اروا پوهنې کارول او د فرد مطالعه د کار په چاپيريال کې ده.

**۹ ـ عمومــي اروا پوهنــه:** د اروا پوهنې د بنســټيزو مفاهيمو مطالعه؛ لکــه: يادول، حافظه، هېريدنه، احساس، ادراک، انګېزش، هيجان او ...د رفتار له کلي اړخونوسره د محصلينو او متعليمينو د آشنايۍ په منظور او د هغوی آماده کول، د اروا پوهنې د تخصصي درسونو د پيل لپاره.

**۱۰ ـ د شــخصيت اروا پوهنه:** د يوه فرد د ســبک يا تګلارې مطالعه، د هغه شي مطالعه، چې هغه د يوه فرد، له نورو افرادو سره د ټمايز يا بېلوالي لامل ګرځي، د شخصيت د اروا پوهنې موخه د شــخصيت د جوړېدنې هغه اغيزمنو عواملوته ځان رسول او له افرادو سره د پوهې او دانش په منظور مرسته.

**۱۱ ـ د يادېدلــو اروا پوهنه:** د انســان او حيوان د يا دېدلــو د څرنګوالي مطالعه اوپه يادېدلو باندې د مؤثرو عواملو مطالعه، د دې ځانګې موخه په اصل کې مرســته له محصل او متعلم سره ده؛ ترڅو وکولای شي، په يادولو د هغه څه کې چې ورته اړتيالري هغه په لاس راوړي.

**۱۲ - د مريضۍ اروا پوهنه:** د رفتاري نا بهنجاريو مطالعه د هغوی لاملونوته د رســېدولو په منظور او نهايتاً له رفتاري اختلالونو يا عيبونوڅخه يوځای وليکل شي.

**۱۳ – د کوچني اروا پوهنه:** د نوې ځوانۍ او کوچني د ودې د پړاوونو مطالعه، د رفتار په ودې بانــدې د اغيزمنــو عواملو د لاڊېرې پېژندنې لپاره، ځکه چې د کوچني د دورې زده کړه د لوينې د دورې د رفتارونو او زده کړو بنسټ دی. د ماشوم يا کوچني، اروا پوهنه يو ځانګړی اهميت لري.

**۱۴ - د مشــاورې اروا پوهنه:** د اروا پوهنې له موندنو څخه اســتفاده د ښوونکو، محصلينو او عادي خلکو د دانش او پوهې د لارښونې لپاره او د دې، لپاره چې ستونزې او سختۍ حل او هوارې شي او ديو سالم ژوند درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ذهني شاته پاتې والی**

ذهني شاته پاتې والی یوه بله زمینه ده، چې د اروا پوهنې د پام وړ ده، تقریباً ۳ فیصده نفوس د هوښ په آزموینښت کې ټیټې نمرې په لاس راوړي، څنګه چې کېدای شي هغوی د هغو کسانو په کتارکې ډلبندي شي، چې هغوی ذهني شاته پاتې والی لري. د دې جملې مفهوم دا دی، چې لومړی هوښ د هوښ په آزموینښتونو اندازه کېږي، نو بیا ذهني شاته پاتې کسان هغه دي چې په دې آزموینښت کې له ټاکلي حد څخه کمې نمرې واخلي.

ضریب هوښي اویا(۷۰) سرحده لوړ اوپس پاتې افراد ښیې.

د ماشوم د هوښي ضریب د ۶۵ او ۷۰ ترمنځ وي، نو هغه کولای شي چې په مکتب کې پرمختک ولري، چې البته له ماتې سره به مل وي، هغه کولای شي لوستل زده کړي اماّ لرې ده، چې له دې یادیدنې څخه پوره ګټه ترلاسه کړي، هغه به یو کتاب تر پایه پورې لولي، خو د تحصیل تر پرېښودو وروسته به ممکن دومره د بې سوادۍ تر اغیزې لاندې راغلی وي، چې یوازې او یوازې به کولای شي، خپل نوم، لاسلیک او ځینې کلمې و لیکلای شي یا و ویلای شي، له ۷۰ څخه د ټیټو ضریب هوښیو سره سره، لازماً په دې معنی نده، چې فرد نه شي کولای خپل کارونه تر سره کړي. تل به له اشخاصوڅخه یوه ډله په ټیټو د هوښیو ضریب سره ښایې شتون ولري، چې ممکن د هغوی د کوچنۍ دورې د تجربو له محدوده تونو څخه را ټوکېدلي وي. له هغوي څخه ډیري کولای شي خپل ټغر له اوبو څخه را وباسي. هغه ماشومان چې له ۶۰ څخه ټیټ ضریب هوښي لري، معمولاً په لوړو مکاتبو کې نه کامیابېږي. او په ډېرو ټیټوذهني کچه کې قرار لري حتا هغوی نشي کولای خپلې جامې واغوندي او په ټولو مواردو کې د نورو مرستې ته اړتیالري.

د دې حالاتو عوامل ډېر متفاوت دي، یو له مهمو علتونوڅخه دادی، چې احتمال لري، د زیږیدو په مهال اتفاقات یا پیښې مخې ته راشي. البته دغه پیښې هر ډول مغزي ضرر یا تاوان لره شاملې دي، چې د زېږېدنې په مهال یا په همدې دور کې حاصلېږي. له بد ه مرغه نیورونونه یعنې د مغزعصبي حجرات نه تجدیدېږي. او ډېری حساسي دي، د زیږېدنې پر مهال مخکې تر دې چې نوي زېږدلی له زیږېدني کانال څخه د باندې شي، که چېرې مغزته د اکسیجن رسېدل د رسېدلې فشار د علت په سبب د نو پربند یوازې د څوثانیو په مخه ودرېږي. او په پایله کې ماشوم ونشي کړای په هغو خپلو خاصو دستګاوو تنفس وکړي، نود مغز حجرات ښایې مړه شي. اوبیا به هېڅ شي ونه شي کړاي دهغوی ځای ونیسي. د دې پیښې د اهمیت زیانمند شوې برخې ته او همدا راز د زیانمندی شویو حجراتو په تعداد پوري به ښایې تړلې وي. یو بل ډول اوکاملا ذهني پس پاتیو سره توپیر ممکن له مغزي تاوان ارثي نقص څخه نوي، بلکه ماشوم ته د توجو د فقدان محصول وي.

خورا غم انګېزه موارد د ماشومتوب دوره ده، چې په روزنتون کې لویېږي، هغه روزنتونونه چې په هغو کې ماشومان له فزیکې مراقبتونوڅخه برخمن دي.

اما له رواني پاملرونوڅخه یې بې برخې پرېږدي، هر ماشوم اړتیالري؛ ترڅو له هغوی سره خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي، لوبې وشي، هغه باید د انساني او طبیعي چاپېریال د آثارو په معرض کې قرار ونیسي. د نړۍ په مختلفو نقاطوکې ډېر روزنتونونه شــتون لري، چې هلته ماشــومان په سمې طریقې سره تغذیه کېږي، پاکې، ســوتره اوکاملاً صحی جامې اغوندي، اما د خوب په کوچنیو تختونو کې په خپل حال پرېښودل کېږي. هغوی کولای شي چې چت ته ځیر شي، او د ټولو ماشومانو چیغې واوري، هغوی بــل کار نــه ترسره کوي مګر داچې په تصادفي توګه سره کــوم پالونکې او یا کوم روزونکې دهغوی د ســترګو مخې ته څرګند شي. دغه راز چاپېریال د ماشــومانو لپاره ډېر کم محرکونه لري، د هغو ماشومانو حرکې وده چې په دغه راز چاپېریالونوکې لویېږي، ډېرې ناقصې او ټپې صورت مومي.

له همدغو کوچنیانوڅخه ځینې کوچنیان په درې کلنۍ کې په لاره باندې په تللو هم ســم نه پوهېږي، د ځینو اروا پوهانو څېړنودا ښودلې ده، چې په روزنتونونو کې درې کلنه اوسېدنه تقریباً د ۶ میاشــتې څخه تر ۳ کلو او ۶ میاشــتې په متوسطه توګه د ۷۲ ضریب هوښې منځته راوړي، په داسې حال کې چې د روزنتون د کوچنیانو ورته ډله کله د کورنۍ په واک او اختیارکې کېوزي، په پایله کې له طبیعي چاپېریال څخه برخمن کېږي.

په متوسطه توګه سره د ۱۰۰ ضریب هوښې ښیې.

د هوښې آزمایښتونو له اجرا کولو څخه لاسته راغلې پایلې د ۱۰کلنۍ یا ډېرې مودې روزنتون د ماشــومانو په هکله دا ښــودلې ده، چې په فقر کې د رواني چاپیریال اثر د ژوند په لومړنۍ دوره کې نسبتاً تل پاتې ده، ضریب هوښې وروسته له ۱۲ کلنۍ څخه تر۱۵ کلنۍ پورې ډېر لږ بدلون مومي، په بل عبارت هغه ماشوم چې د خپل ژوند لومړني کلونه د فقر په رواني محیط کې تېر کړي، نو بیا به هېڅکله ونشي کړای، چې دخپل هوښ کمبودي جبران کړي.

**د لومړي څپرکي لنډیز:**

د اروا پوهنــې لغت یا اصطلاح د روان یا ذهــن د پېژندولو په مانادە، اروا پوه هر هغه څوک دی، چــې روان یاذهن مطالعه کــوي، ځکه چې روان یا ذهن یوازې نه شي کېدای ولیدل شي او نه یې هم مستقیم مطالعه کولای شو.

څرنګــه چې د موټر چلونکې د پیرودنې پر مهال د هغه د وس او قدرت په هکله پوښــتنه نه کــوي، بلکــه عملکرد یا کړنه یې په نظر کــې نیسي، نو اروا پوه هم د ذهن یــا روان کړنه په نظر کــې نیــسي. او د عملکرد له مخې یې د ذهن ځانګړتیاوو ته پام رســوي، نو ځکــه خو اروا پوه په غیرمستقیمه توګه د روان د څرګندېدنو او ښکارولو له مخې کولای شي، هغه څه چې یې په ذهن کې تېرېږي مطالعه کړي.

د روان یا ذهن کړنې او څرګندونې اصطلاحاً، رفتار نومول کېږي، نو بنا په دې رفتار داسې یوه کلمــه ده، چې اروا پوهان یې دهغه څه لپاره کاروي، چې خلک یې تر سره کوي او مطالعه؛ کوي. لکه: خندل، لوبې کول، منډې وهل، مطالعه کول، او... د رفتار یوه برخه حسابېږي، یعنې د عضلاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ليدلو وړ فعاليت او د باندني افرازي مرغيړيو زيم يا ترشح.

ويلای شـو، چې اروا پوهنه د انسـان له پيدايښـت سره سـمه منځ ته راځي، اما دعلمي اروا پوهنې تاريخ له لومړنيو ازمويښـتونو سره سـم چې په کال ۱۸۷۹ د آلمان د لايپزيک په ښـار کې ترسره شول پيلېږي.

د نړۍ له هره کونجه له هرې نقطې څخه ډېر شـاگردان دې، آزمويښـتونو ته راځي او خپلو هېوادونو ته له سـتنېدو وروسته په ټوله نړۍ کې د اروا پوهنې د علم تخم پاشي، څکه هرهېواد خپلې ځانګړې طريقې او خپل خاص دودونه لري، نو د اروا پوهنې علم له هغوی سره په مخامخ کېدو کې له بيلا بيلو لارو او طريقو څخه کار اخلي او استفاده کوي.

پـه آلمـان کې ډېر په سـايکوفزيک کار کېـږي. او د وبر د قانون په نتيجه کـې او د خورا کم محسوس تفاوت سره مفهوم منځ ته راځي. په امريکا کې څکه کوم داسې ځانګړي سنت يا طريقه مسـلطه نه وه، نوځکه اروا پوهنه په اکثرو څانگو کې وده کوي. په فرانسـه کې د رواني مريضانو مطالعه او د ذهني پس پاتې کسانو تشخيص رونق اخلي، په اتريش کې د فرويد عقايد غلبه کوي او په نتيجه کې د نيورونونو مطالعه پيلېږي.

د انګلسـتان د اروا پوهنې له ارقامـو سره پيوندېږي، او د داروين د نظريو تر اغيزې لاندې د توارث په مطالعه کولو پيل کوي، په روسيه کې پاولوف له بازتابونو مطالعې ته ادامه ورکوي، داروا پوهنې له ودې سره سـم په ډېرو هېوادونو کې داسـې افراد پيداکېږي، چې هغوی د انسـان او د انسـان د رفتار په هکله ځانګړې نظريې وړاندې کوي. دغه نظريې په نورو کې مؤثرې واقع کېږي او په نتيجه کې يې ډېر مکتبونه منځته راځي، چې مهم مکتبونه يې عبارت دي له:

د سـاخت يا جوړ پالنې، عمل يا کردار پالنې، ټول پالنې، روان کاوي، انسان پالنې، رفتار پالنې، پېژندل پالنې، ټولنه او دود پالنې، ژوندون پالنې څخه.

څرنګه چې درفتار ډولونه او اقسام ډېر زيات دي، نو اروا پوهنه هم مجبورېږي، چې مختلفې څانګـې ولـري. او هريو د هغوی څخه رفتار له يوه ځانګړي ليد څخه مطالعه کوي. د ارواپوهنې خـورا مهمې څانګې عبـارت دي له حيواني، فزيولوژيکې، وراثتی، اجتماعـي، ژبه، فردي تفاوتونه، روزنيز روان سنجي، صنعتي عمومي، د شخصيت آزمويښتي، يادېدل، مرضي ماشومان، او مشاوره.

اروا پوهنه د انسـانانو درفتار د مطالعې لپـاره مختلفې طريقې په کار وړي، چې خورا مهمې يې عبارت دی له:

آزمويښتونه، له آزمويښتي طبيعي مشاهدې څخه او د هر يوه روان لوری.

له دغو طريقو څخه خپل ځانګړي محدود يتونه او امتيازونه لري.

هره پديده او هره پېښه چې په انسان پورې اړوندېږي، د ارواپوهنې د مطالعې د مورد زمينه ښايې جوړ، کړی.

کېـدای شي وويل شي يادېدنـه د ارواپوهنې لومړنۍ د مطالعې د مـورد زمينه ده، څکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادېدنه د زیږېدنې له شېبې سره سمه را منځته کېږي. او د انســان ژوند پرته له یادېدنې څخه امکان نه لري. دیا دېدنې مسئله د مطالعې وړ، له نورو وسایلو څخه ډېره دمطالعې وړ ده.

**پوښتنې (د ځان آزموينه)**

۱ ـ روانشاسي په اصل کې یعنې مطالعه؟

الف: د روان یا ذهن

ب: د ذهن څرګندونې

ج: رفتاري اختلالونه

د: ذهني شاته پاتې والی

۲ ـ د اروا پوهنې علم مشکل په دې کې دې چې؟

الف: خپله موضوع مستقیمه نه مشاهده کوي.

ب: هم انسان او هم حیوان مطالعه کوي.

ج: زیاتره له ذهني طریقوڅخه استفاده کوي.

د: باید کاملاً له عیني طریقوڅخه برخمن شي.

۳ ـ وروسته پاتې ماشوم هغه ماشوم دي چې؟

الف: یوه بې قرار ماشوم ته ورته وي.

ب: په ښوونځي کې رټل کېږي.

ج: د ښوونکې ویناوې سمې نشي درک کولای.

د: په هوښي آزموینوکې د هغه نمرې له ۷۰ څخه ټیټې وي.

۴ ـ د نوي او تازه مطلب په یادولو کې له لاندې طریقو څخه کومه یوه مؤثره ده؟

الف: د مطالبو ساده تکرار

ب: برخه برخه ویل

ج: یادښت نیول

د: پر له پسې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ـ د ځان ازموينې پوښتنوته ځواب وينه له لاندې پديدو څخه کومه يوه سنجوي؟

الف: هوښ

ب: معلومات

ج: د روان کړنه

د: استعداد

۶ ـ د آبي رنګ شاتنی انځور کوم رنګ دي؟

الف: شين

ب: تور

ج: نارنجي

د: سور

۷ ـ د سره، نارنجي، تور او شنه شاتني انځورونه د عبارت په ترتيب ښايې وي؟

الف: شين، آبي ، سپين، سور

ب: آبي، سور، سپين، شين

ج: نارنجي، تور، سور، شين

د: ژېړ، شين، آبي، سپين

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د شخصیت تعریف

**ټولېزه موخه:**
دشخصیت واقعي درک او ارزونه

**د زده کړې موخې:** زده کونکې د دې څپرکې په پای کې کولای شي:

- شخصیت تعریف کړي.
- د شخصیت حیاتي عوامل توضېح کړي.
- اعمال توضېح او تفسیرکړي.
- په مختلفو عمرونوکې دانسانانو ځانګړ تیاوې تشرېح کړي.

**دشــخصیت تعریف:** د شــخصیت د مفهوم تعریف کول د اکثره هغو مفاهیمو چې د انســان د ځانګړتیاوو اړوندېږي، په شــان ســاده او آســانه کار ندی، ځکه چې کوم مفهوم دغې کلمې په عامیانه ژبه کې پیدا کړی دی، له هغه مفهوم سره، چې په اروا پوهنه کې ورته قایل شوی دی، ډېر توپیرلري. په عامیانه ژبه کې د شــخصیت کلمه مختلفې مانا وې لري، لکه د دهخدا په لغت نامه کې د شخصیت لپاره راتلونکې معنا وې ذکر شوې دي. شرافت، رفعت، نجابت، د درجې او مرتبې لوړوالی او په ورځنیو خبروکې چې کله دا وایو، چې فلانی شخص ډېر باشخصیته سړی دی، موخه موداوي چې یعنې نوموړی مقام او منزلت لري، خلک ورته احترام لري، ناشایسته کارونه نه ترسره کوي. یو وس او تصمیم نیونه لري، باســواده دی، شــجاعت لري، چاپلوس ندي او ....په اروا پوهنه کــې بیا له پورتنیو مانــا وو څخه د اروا پوهنې د اصطلاح لپاره یو هم نه کارول کیږی، بلکه معنی یې د فرد له ســبک یا (style) څخه ده، پرته له دې څخه چې یوه ډېره کوچنۍ ارزښــتي پرېکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولرو او یا هم د هغه له بدی، زشــتی، ښــکلا، ښه توب، سمې او ناسمې څخه بحث وکړو، نو بناءً باید ووایو چې هر ســړی خپل سبک اویو ځانګړی شــخصیت لري، چې همدغه سبک له نوموړي څخه یو ځانته انسان، تر یوه فرد پورې یې منحصر جوړوي.

ښــایې غوره به داوي چې ووایو څرنګه چې انســانان یو له بله د څېرې، د خطونو، تن، غړ، په لاره باندې د تللو د طریقو، خبرې کول، جامو اغوستلو، حرکت کولو، او د داخلي اوباندنیو محرکونو په مقابل کې د عکس العملونو له نظره توپیر سره لري، همدا راز سبک یعنې د شخصیت له نظره هم یو له بله سره توپیرلري، نو په همدې ســبب ویلی شــو، چې شــخصیت یعنې د ځانګرتیا یوه طریقه:

د شخصیت د مفهوم دلاښې روښا نتیا لپاره به غوره داوي، چې د دې کلمې ریښه په نظر کې ونیســو، د شــخصیت کلمه د انګلېسي د (personality) یا فرانسوي د پرسانلیته کلمې ترجمه ده، چې دواړه د لاتین د پرسونای له کلمې څخه اخیستل شوي دي. پرسونا یو ماسک ( نقاب ) و، چې پــه لرغونــې زمانه کې به د تیاتر لوبغاړو په خپلو څېــرو باندې را کش کاوه او هغه به یې تر پایه پورې ساته.

د نقاب یا مخپوټي له ځانګړتیا وو څخه یوه ځانګړتیا دښودنې( نمایش) په اوږدو کې دغه ټیک والی ( ثبات ) اوتل والی دی، په همدې ترتیب سره کولای شــو ووایو چې شــخصیت یعنې د فرد ثابت، رفتار، عنصر او د هغه خوی خصلت او په کلي توګه سره هغه څه چې تل او همېشه له ده سره وي، او د ده له نورو سره د تمایز یا جلاوالي موجب ګرځي، دغه ثبات یوه داسې زمینه وړاندې کړاي شي؛ تر څو په مختلفو موقعیتونوکې د فرد رفتار او په عیني توګه سره په یوه اندازه وړاندوینه وشي. لاندې بېلګه زموږ سره مرسته کوي؛ ترڅو د شخصیت مفهوم ښه او بهتره درک کړو.

کــه چېرې دخپلــو اطرافیانو رفتار (کړنی) ته پام او غور وکړو، مثــلآ د پلار، مور، ورور، خور، ګاونډیانو، دوستانو، په کلي توګه سره د ټولو هغو کسانو رفتار چې موږ ورسره اړیکې لرو په نظرکې ونیسو، نو ښایې چې ووینو په مختلفو موقعیتونو کې بېلابېلی کړنې دي. کله بشپړه په سړه وینه کــې او کلــه هم بیا ډېــر په قهر او غصه کې، کله په یوه یــا دوې افغانۍ چنې وهي اوکله هم بیا ۱۰۰۰ افغانۍ یو چاته ببښي.

**معروفه وینا ده:** چې کله خو د ســتنې له ســوري څخه تېرېږي اوکله خو بیا له دروازې څخه هم نه ننوځي، خو له دې سره سره د هغوی په رفتارکې یو ډول ثبات وینو، څرنګه چې کولای شو په بېلابېلو ځایونوکې د هغوی کړه وړه تقریبا په لوړ اطمینان سره پېش بیني کړو، نوپه د اســاس مجموع صفتونه چې له نســبي ثبات سره په یوه فرد کې شــتون لري او نورو ته اجازه ورکوي؛ تر څــو وکــولای شي رفتار یې یوه انــدازه پېش بیني کړي او د هغه له نــورو څخه په تفاوت پوه شي شخصیت نومول کېږي.

د شخصیت په تکوین یا جوړښت کې دوه کلي عاملونه رول لري، چې هغه حیاتي او اجتماعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، حياتي عوامل معمولاً ارث ته رسېږي، او له هغې ابتدا څخه په فرد کې شتون لري، اجتماعي عوامل د اجتماعي چاپيريال محصول دي، هغه چاپيريال چې فرد د ژوند لومړني کلونه په کښې تېر کړي دي، يعنې کورنۍ، مکتب او هغه اشخاص چې له هغوی سره اړيکې لري يايې درلودلې، د ماشومتوب د لومړنۍ دورې کاميابي او ماتې.

**حياتي عوامل يا د شخصيت ژوند:** لکه څرنګه چې مو اشاره وکړه د شخصيت د ژوند عوامل چې معمولاً د مزاج تر عنوان لاندې په کاروړل کېږي، هغه دي، چې ارث ته رسېږي، له دې عواملو څخه خورا مهم عوامل عبارت دي له:

**الف: جنس:** د ژوند له عناصرو څخه يو عنصر چې د شخصيت په ټاکلو کې په څرګند ډول رول لري جنس دی، د ښځې او نر حياتي تفاوتونه ډېر څرګند او متفاوت دي، دغه توپيرونه د فزيولوژي بـدن په ظاهري بڼه باندې او پـه ځانګړې توګه سره داخلي مرغېړې په څرګند ډول په نظر راځي. د ښځې او نر په منځ کې د رواني توپيرونو موجوديت له لرغونې زمانې څخه د تائيد وړ دي او په اوس وخـت کې د دغو توپيرونومطالعه له مهمو څېرکيو څخـه يو څېرکي ( د فردي توپيرونو اروا پوهنې) جوړوی.

په جنس پورې اړونده توپيرونه کېدای شي له مختلفو اړخونوڅخه تر څېړنې لاندې ونيول شي، له هغوی څخه ځينوته په لاندې ډول اشاره کېږي.

**١ ـ حسي او حرکتي کړنې(اعمال):** کولای شـو ووايو چې ښـځې د سـړيو په پرتله د رنګونوپه تشـخيص کې او د اندازو په سريع او تېز ادراک کې دپام وړ برتري لري، نن ورځ دشـک او ترديد ځـای نه دی پاتې چې ړوند رنګـی ارثي اړخ لري او په جنس پورې د اړونده صفاتوله جملې څخه دي، ځکه چې د ړوند رنګو سـړيو شـمېر د ړوند رنګو ښـځو د تعداد په پرتله شپاړس برابره دی، حتی که ړوند رنګي افراد څنډې ته کړو بيا هم د رنګ د اداراک له نظره د ښځوبرتري يا لوړ والی په سړو باندې په ډېره آسانۍ اوراحتۍ سره تايدېدای شي.

د حرکتي اعمالو له نظره سرعت اودقت په هغو اعمالوکې، چې ډېره غوړېدنه لري، توپيرونه د سړيوپه ګټه دي، اما د ګوتو د قابليت او مهارت له نظره بياهم ښځې وړونکې دي، د ښځو اوربېدنه د سړيو تر اوربېدنې پيا وړې او قوي ده.

ښايې همدا دليل وي، چې ښځې له خپلې ستاينې اوستايلو څخه خوشحالېږي. او په عوض کې د سړيو بينايې، ياليد د ښځو په پرتله ډېر پياوړی او قوي دی، او احتمالاً هم دغه دليل به وي، چې سړي سترګې پېوونکې(سترګې څرودونکي) دي.

**٢ ـ ذهني اعمال:** د ذهني قدرتونو د زمينې په اړه، چې د آزموينښتونو په مرسته سره يې اندازه اخيسـتل کېږي، بيا هم د ښـځې او نر په منځ کې توپيرونه شـتون لري، ليدل کېږي، چې ښځې د سړيو په پرتله د بصري حافظې او په کلامي آزموينښتونو کې ډېر امتيازونه خپلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال دا چې ســړي په غیر کلامي آزموینوکې خصوصاً په هغو آزموینوکې چې د فضایې تجســم استــعدادونه ســنجوي، لوړوالی ښیې، په عددي استعدادونو کې هم ســړي برتري لري، البته دغه توپیرونه ورځ په ورځ کمېږي.

**۳ ـ د رغبتونــو او خواهشــاتو پېرزوینــې او لورونې.** په دې زمینو کې هم د ښــځې او ســړي توپیرونه په بشپړه توگه ځرگند او ښکاره دي، اما د هغو تفسیر څه آسانه کار ندی، سړي تر ښځو واک غوښتونکې او دښمني ډوله رفتار ښکاره کوي، دغه توپیر حتی د کوچینوالي په دوره کې لیدل کېږي، هلکان اشــیاوو ته او نجونې بیا ټولنیزو اړیکو ته ډېره علاقه او میلان ښــیې. یوه بله زمینه چې په هغه کې د ښــځې او نرېه منځ کې مهم توپیرونه وینو، عبارت د ي له تمایل څخه، اختلال کېدلوتــه هیجــاني کېدل، یا د اختلال د رفتارونو د یوه تعداد هیجــاني بې ثباتي مثلآ د نوکانو ژوول او رودل، د گوتــو په مابین کې د وړو نجونوکې د وړو هلکانوپه پرتله ډېر لیدل کېږي، همداراز د هیجان غیر ارادي ځرگندونې هم په ښځوکې د سړیو په پرتله د پام وړ دي.

مثلآ د درد په ځای او حالت کې ښځې د سړیو په پرتله ډېرې کمزورې او ضعیفه وي، همدغه دلیل دی، چې ښځې د ډېر لږ تکلیف او زحمت په مقابل کې د درد احساس کوي، د ځان پېژندنې د هغو خپل پوښتلیکنو د پوښتنو اجرا چې د هغو پوښتنې د  اختلال کېدلو په نښو او نښانوپورې اړه لري.

د ښځو پایلې د سړیو په پرتله ډېر ښیې، په مقابل کې کېدای شي د نورو رفتاري اختلا لونو نوم واخلو، چې په اکثرو فرهنگونوکې زیاتره د سړیو له لوري پېښېږي.

لکه غلا، چاقوایستنه، اعتیاد، سړي وژنه، اونور ....

که چېرې د ســړي او ښــځې په منځ کې ټول لیدل شــوي توپیرونه راټول کړل شي، نو د هغو آزموینــو تیاری چې وکولای شي د هغــوی رواني توپیرونه ځرگند کړي، ښــایې امکان منونکې وي، دغه آزموېښــتونه به ښایې وښیې، چې یو سړی خومره مردانه صفتونه او یوه ښځه خومره ښځینه صفتونه لري.

باور پردې باندې دی، چې که چېرې په دې آزموېښت کې د یوې ښځې د پایلو توضېح د سړیو د پایلو په توضېح باندې او برعکس د یوه سړي د پایلو توضېح د ښځو د پایلو په توضېح باندې په بشپړه توگه سره برابره شي، نودا به ښایې وړنه وي.

اما څېړنې داښیې، هغه نارینه چې ځینې ښځینه او هغه ښځې چې ځینې نارینه صفات ولري بهتره کولای شي یو جوړښت او سازگاري وښیې، هغه نارینه چې باوري دي حتمآ باید مرادنه صفات وښي، او هغه  ښځې هم چې یوازې ښځینه صفات ښیې له مېړه سره په گډ ژوند کې کم جوړښت او سازش لري.

**۴ ـ د اعمالو تفســیر:** په یوه ټاکلي فرهنگ کې ښــځې او ســړي د شخصیت له نظره ځرگند او ښکاره توپیرونه سره لري، یو واقعیت دی، چې په قاطعیت سره تایید شوی او په دقت اوغور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحلیل شوي دي، د دې توپیرونو د ربښې تفسیر څه آسانه کارندی. بدیهي ده، چې له هغوی څخه د ځینوپه هکله، لکه د ژوند دعواملو د منځ قوه ډېر مهم نقش لري، د ځینو نورو په هکله د ژوند د عواملو د ســهم او د اجتماعي نقشــونو تمیز یو سخت کار دی، مثلا د ووړو هلکانو خصوصیت پر ووړو نجونو باندې او د خودکاره اســتعدادونو په زمېنه کې ښــایې په دې علت چې زموږ په کلتور کــې کوچني هلکان له هماغې د ووړکتوب له دورې څخه تشــویق کېــږي، چې د لوبو د خود کاره اســبابو په واســطه لوبې وکړي، حال داچې ووړې نجونې بیا په دغه ډول اسبابو باندې له لوبو کولو څخه منع کېږي.

پــه عوض کې ووړې نجونې تشــویق کوي، چې ناوې ناوې ( گــودي بازي) یا مېلمه پالنې یعنې مهــمان نوازي وکړي، دغــه راز مطالعې کېدای شي، د تفاوت په ټولــو زمینوکې ولیدل شي، په دې هکله د ننۍ ارروا پوهنې موخه په لاندې شرحې سره ده.

د جســمي او ذهني قدرتونو د ښــځې او سړي په منځ کې د شــخصیتي ځانگړیتا وو له نظره څرگند اوښــکاره توپیرونه شــتون لري، دغه توپیرونه تر ډېرې اندازې پورې محیطي عوامل منځ ته راوړي. له دې سره سره باید ومنل شي، چې دچاپېریال یا محیطي عواملو اثر او د دوو جنســونو د تفاوتونــو لمنــه د ژوند د عواملو تر کنترول لاندې ده. چاپېریال کــولای شي تفاوتونو ته زیاتوالی یا کم والی ورکړي، اما هېڅ چاپېریال نشي کولای، چې یو نر په بشپړه توگه سره په ښځې او ښځه په نارینه تبدیل کړي، یا د هغوی توپیرونه په کلي توگه سره له منځه یوسي.

**سن یا ( عمر)**

د هرفرد د شــخصیت جوړښــت د هغه دعمر په زیاتوالي سره بدلون مومي. دغه بدلون چې د بدني جوړښــتونو د مجموعې د داخلي مرغېړیو د دســتگاه او د عصبي د ســتگاه د مجموعې تر نفــوذ لانــدې ده. زیاتره د حیاتي ودې تر اغیزې لانــدې ده، په دې خصوص کې د ځینو پړاونو رول یو ځانگړی اهمیت لري.

لکــه پړاونــه چې په هغو کې ژوندي بحرانونه منځته راځي مثلا: د رســېدنې او ودې علایم په هلکانو او نجونوکې پرته له دې چې وغواړو د زیســت دعواملو نقش د شــخصیت په رشد کې کم ارزښــته څرگند کړو، نولازمه ده چــې دا ووایو چې ژوندني او رواني بحرانونــه په یوه مهال منځته راځــي، جنسي بلوغ یعنــې د ووړکتوب له دورې یا مرحلې څخه د لوړ کلنــۍ دورې ته تېرېدل په پرمختللیــو فرهنگونوکې معمولاً په ســختۍ سره طی کېږي، د ځوانو نجونــو وده یو نوی او تازه رواني حالــت منځتــه راوړي، چې غالباً په نافرمانۍ او له کورنۍ څخه په بېزارۍ، مخصوصاً له مور څخه په نه اطاعت کولو پېښېږي، لکه څرنگه چې موپه شخصیت کې د جنس داثر په هکله اشاره وکړه د ژوند او چاپېریال عوامل دلته همدارازلاس په لاس ورکوي او د نوي ځوان د شــخصیت په بدلون کې مؤثر واقع کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شخصیت ټولنیز عوامل:** د شخصیت په شکل نیونه کې مؤثر ټولنیز عوامل هغه جوړښتونه په برکې نیسي، چې له لاندې عناصروڅخه جوړیږي.

کورنــی محیط هغه ډله چې په کورنۍ پورې اړونــده ده اوفرهنګ چې یوه ډله په هغو پورې تړلــې ده اجتماعي عوامل معمولاً د نهادي عواملو تر عنوان لاندې په کار وړل کېږي. او دهغوی له نهادي کېدلو څخه هدف دا دی چې کارول کيږي. سره عمل ته واردیږي او استمرار یعنې دوام لري.

**الــف: ښــوونه اوروزنه:** ټول هغــه اقدامات چې ټولنیــزه ډله يې اخلي؛ څو ماشــوم له ځینو موقعیتونو سره مخامخ شي او د یادېدنې په مرســته د هغه شــخصیت بڼه ونیسي، ښوونه اوروزنه اصطلاحاً په پراخه معنی کې کلمه نومول کېږي، په ډېرو فرهنګونوکې ښوونه اوروزنه سنتي نښې نښــانې لري، اود هغو کســانوله لوري، چې هغه کاروي، کاملاً منل شــوې ده، نوپه همدې اساس اړتیا نشته، چې په علمي څېړنې سره توجیه شي. په نننۍ پرمختللې ټولنه کې له منځه تللې سنتي فرهنګ څخه دغه برخه موجب شــوې ده، چې د علمي ښــوونې اوروزنې د بنسټونو په زمینه کې څېړي، یعنې هغه طریقې چې کولای شي د ګټورتیا اثریې د شــخصیت په شکل نیونه په آزموښتي ډول په ښودلوسره تر سره شي.

یو وارې باید له پامه و نه غورځول شي چې د ځانګړې ښوونې او روزنې ډول آثار یوازې کېدای شي لــه یوې اوږدې مودې څخهورروســته مطالعه شي، مثلا که چېرې وغواړو د کوچني د شــیدو اخیســتلو د طریقې پایلې د هغه پرشــخصیت پوه شو، نو کم تر کمه باید ۲۰ کاله صبروکړو، ځکه چې له نیمې پېړۍ څخه مخکې، چې کومې ســپا رښــتنې په دې برخه کې پشنهاد شوې، د فرضیو پر بنسټ منځته راغلې، نه د عیني پایلو پر بنسټ اوځرنګه چې د له هغوی څخه ډېرېې یوله بله سره تناقص یا ضدیت لري موږ د نسبي عدم اطمینان په حالت کې ساتي.

**د ژوند دلومړنیوکلونونقش:**

لــه نظریــو څخه یوه نظریه چــې د اروا پوهنې مکتب وړاندې کــړې او کمه تراعتراض لاندې راغلې د شخصیت په وده کې د ژوند د لومړنیو کلونو بنستیز اثر دی.

د اروا پوهنــې د دې ادعا په تایید آزمویښــتي او حیواني اروا پوهانو ډېرې زیاتې تایید شــوې پایلې راټولې کړې دي، د ژوند لومړني کلونه د عصبي جوړښــتونو د بڼې په چټکه توګه بدلون سره یــو ځای وي، په دې دوره کې ځرنګه چې عصبي جوړښــتونه د انعطاف منني له لوړ قدرت څخه برخمن دي.

یادونــه هم په سرعت سره ترسره کېږي او هم ډېر ټینګښــت ښــيي، هغــه میکانیزونه چې د ماشــوم اجتماعي والی ټاکې مختلف ډولونه لري، چې تر اوسه پورې د فرضیې په ډول مطرح دي، د اروا پوهنــې د مکتب له نظــره دوه اصلي ټاکونکې لاملونه چې د کلمې په پراخه مانا د جنسي ودې له پړاوونو او یورنګ جوړونې څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ـ د اروا پوهنــې د مکتــب له نظره د جنسي ودې پړاوونــه ټولې هغه ټولنيزې هڅې، چې په پرلپســې توګه د جنسي ودې موزون پړاونه را ټول کاندي، يا برعکس هغه ګډوډوي، د شخصيت د شکل اخيستنې په تګلاره باندې بنسټيز اثر لري.

په اصل کې د غير طبيعي شخصيتونو مختلف ډولونه د جنسي ودې په لومړنيو پړاوونوکې يو ډول اختلال لري، همداراز اروا پوهنه، چې د ماشوم د تغذيې طريقه د مور د تي په مرسته په ټاکليو ساعتونوکې يا له غوښتنې سره سمه د شيدو اخيستلو نېټه او طريقه په کنټرول کې د سختۍ نېټه اوميزان د ټولو ممانعت کولای شي د شخصيت په شکل اخيستنه کې نقش ولري.

د دې خــبرو دتاييد لپاره چې ځومره ډېرې آزمويښــتي څېړنې منځتــه راغلې، تر ننه پورې يې متناقضې پايلې منځته راوړې.

۲ ـ يورنګي کول دويم هغه عامل دی، چې اهميت يې په اروا پوهنه کې د تاييد وړګرځېدلی، د يورنګي کولو موندنې يعنې د زوی ټمايل د پلار د صفاتو په منلوسره اود لور ټمايل د مور د صفاتو په منلوسره ياله خپله جنســه د يوه بل شــخص احتمال يورنګي کول پــه واقعيت کې د والدينو د رفتار له نمونو څخه د بې خبره تقليد يو ډول دی، چې د داخلي ميکانيزم په مرسته ترسره کېږي.

د شــخصيت شکل نيونه د تدريجي اجتماعي کېدلو په بڼه څرګندېږي او د اروا پوهنې مکتب دهغه په و ده کې پرله پسې او ګڼې هم رنګۍ اغيزمنې بولي.

**د شخصيت جوړښت:**

د فرويد په نظر شخصيت له دريو برخو ياله دريو سطحو څخه جوړيږي، نهاد، زه خپل ( اوبرتر زه ) په دري کې په لاندې الفاظو ذکر شوي دي. نهاد من (خود ) او من برتر

نهاد: هغه قوه ده، چې د اوليه غرايزو له مجموعې څخه جوړيږي او د لذت له اصلي کسبولو څخه پيروي کوي، نهاد دټولو نا خبرو او غريزي غيرارادي طبيعي حالتونو نماينده ده.

دفرويد په وينا سره هرڅوک د زيږېدنې پر مهال نهاد له خپله ځانه سره دنيا ته راوړي، او ټول عمرله هغه سره تېروي، د ژوند اصلي ماېې نهاد او د شــخصيت بنســټ ريزي يې کوي، دغه قوه کاملاً داخلي منشــه لري، اوله بهرنۍ نړۍ څخه هېڅ اطلاع نه لري او له درد او غمه تښــتېدونکې ده، هېڅ حد اوسر حد نه پېژني او له هېڅ اصل او قاعدې څخه ماســوا د لذت له کســبولو څخه تابعيت او پيروي نه کوي، نهاد د واقعيت له نړۍ څخه خارج، له اخلاقي موازينو او ټولنيزو قيدونو او بندونوڅخه لرې دی، نو په همدې بنا د آزادۍ په کمال کې او د لزوم په صورت کې په سختۍ اوخشونت سره او د خپلو خواهشاتو د پوره کولو په هڅه کې او د لذت د کسبولو په لټه کې دی.

د نهاد شــتون د موجوديت او ســلامت د ســاتنې لپاره لازمه ده، نهاد دی چې انسان د ژوند د اوليــه احتيــا جاتو د رفع کولو په مقابل کې لکه د لوږې، تندې، جنسي اړتيا او د ګرمۍ او يخنۍ د خطرونو په مقابل کې فعاليت کولو ته اړکوي.

ځکه چې نهاد د لذت له کسبونو څخه پيروي کوي، د انرژۍ په مصرفولو له زدو بندونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کموي، اوحياتي تعادل برقراره ساتي.

البته د نا مقبولو خواهشاتو نهاد هم لري، اماځرنګه چې يوازې د فعاليت عامل نه دی، نو نشي کولای په ساده ګۍ سره له انسان څخه يو بې بندوباره فرد منځته راوړي، همېشه له من او له برتر من سره دی، نهاد يوازې په وړو ماشومانو کې چې تر اوسه پورې له اصل واقعيت څخه خبرنه دي او په ځينو رواني فشاره، افرادو کې چې هرڅه غواړي ترسره کوي يې.

ناوړه خبرې کړي او نورو ته آزار رسوي او ناشايسته حرکات کوي. د ميدان يکه تاز يا بې ساری دی. د دې لپاره، چې د نهاد مفهوم لا ښــه روښــانه شي، يو فرضي مثال راوړو، يوکوچنی هلک په نظرکــې ونيســی، چې له خپلې مور سره د مغازو مخې ته رســېږي، يو ناڅاپــه يې په مغازه کې د شيشــې شاته سترګې د ده دعلاقې وړ د لوبو په سامان لګېږي، نو هغه ده چې ماشوم دواړه پښې په يوه موزه کې اچوي، چې حتماً دې هغه ورته واخيســتل شي، هر دليل چې ورته وړاندې کوي، لکه د قيمت لوړوالی، د پيسو نشتوالی، هېڅ کله غوږ نه نيسي، د دې لپاره چې نه د قيمت مفهوم او نه هم د پيســو د نشــتوالي مفهوم ورته مطرح دی، دغه ماشوم په دې وخت کې صرف د نهاد د دستوريا حکم پيروي کوي او له واقعيت څخه تښتېدونکې دی.

**من يا اصل واقعيت:**

د بهرنــۍ نــړۍ او واقعيت سره د نهاد د بر خورد په وخت کې رامنځته کيږي.ا ود واقعيت له اصــل څخه موخه دا ده، چې منطقي تفکر د من بنســټ جوړوي، من په حقيقت کې د نهاد يوه برخه ده، چې منطقي تفکر د من بنسټ جوړوي، من په حقيقت کې د نهاد يوه برخه ده، چې د بهرنۍ نړۍ د مقتضياتو په اثر کې د شکل بدلون موندلی دی. د من د مفهوم د لاډېرې روښانتيا په خاطر پورتنی مثال بيا ځلی په نظرکې نيسو. ماشوم دواړې پښې په يوه موزه کې اچولې، چې حتماً بايد د خپلې خوښې وړ د لوبو سامان ولري، د ماشوم مور د د بيلابيلو دلايلو په وجه؛ لکه: د قيمت لوړوالی، يا د خراب يا ټيټ کېفيت په سبب د هغه له اخيستلو څخه ځان پېچې، داعمل څوځلې تکرارېږي اوماشوم په تدريج سره دا درک کوي، چې نبايد هر شې په هر مهال کې وغواړي، هغه په دې فکر کې لويېږي، چې بايد د هدف لاندې شرايط په نظرکې ونيسي، لکه: هغه وخت دی په دې پوهېږي، چې کله يې مور دګاونډيانو له ښځوسره د پيرودنې لپاره ووځي، ياکله: چې له خپلې نيا، نيکه سره بهروځي، کولای شي چې د خپلې علاقې وړ د لوبو اســباب و غواړي، دغه ځای دي، چې د ماشوم من جوړيږي.

لنډه داچې من د زدو بند ( تنش) د کمښت لپاره اولذت ته د رسېدلو لپاره له عقل څخه مرسته غواړي، او دهغه د لارښــوونو پربنسټ د نهاد د خواهشونو ټاکنې ته اقدام کوي. اود هغود مهال،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکان او د هغوی د وېستلو د څرنګوالي په هکله تصمیم نیسي، نوپه همدې بنا د من دنده دا ده، چې د امکاناتو او بهرنۍ نړۍ د مقتضیاتو په نظرکې نیولو سره اود نهاد د غوښتنو مصلحت عملي کوي؛ تر څو د فرد سعادت او د هغه د ډول د بقآ امکان ومنل شي، له چاپېریال سره جوړښت اود هغــو تضادونــو حل چې د ارګانیزم او د بهرني چاپېریال د واقعیت په مابین کې منځته را ځي او د ډول ډول او متضادو اړتیاوو پوره کول، دغه ټول د من له دندو څخه شمېرل کېږي او یوه برخه یې د مــن ده، چې له ټولنیزو محدودیتونــو او ممانعتونو سره په مقابل کېدو سره د بنې تغیرموندلې دی، په پورتنیو ســطرونو کې مو وویل، چې من له واقعیت څخه پیروي کوي، اوس دا زیاتوو، چې من اخلاقي او ټولنیزو اصولو او موازینوته هېڅ پاملرنه او توجه نه لري، کله چې دغه توجه منځته راغله د شخصیت دریمه او خورا لوړه سطحه جوړوي، چې فروید هغه من برتر نوموي.

**د شخصیت ټیپونه:**

د ټیپ مفهوم مســتقیماً د پرسونا له مفهوم یعنې ماســک څخه مشتق کېږي، په لرغوني تیاتر کې د نقش یوڅو محدوده شــمېر شــتون درلود، هر نقش به د ماســک له مخې د پېژندلو وړ و، بنــا پردې کېدای شي وویــل شي، چې ټیپ یعنې د عکس العمل مجموع طرزوو یا د شــخصیت جوړښــت مجموعو، د شخصیتي ټیپونو له تشخیص یا د اشخاصو د مختلفو ډولونو له طبقه بندۍ څخه موخه دا ده چې د انسانانو جسمي او رواني ځانګړتیاوې مخصوصاً د هغوی رابطه تر مطالعې لاندې ونیول شي.

**د دویم څپرکې د مطالبو لنډیز:**

شــخصیت مو د ســبک په مانا تعریف کړی اوپه دې تعریف کې موهېڅ ډول ارزښتي پرېکړه عمــلآ نه ده راوړې، وموویل څرنګه چې انســانان د څېرې دخطونو، غــږ، په لار باندې دتللو طرز خــبرې کولو، جامو اغوســتلو، د محرکونو پــه مقابل کې د عکس العملونو لــه نظره متفاوت دي، همداشان د سبک یعنې د طرز له مخې هم توپیرونه سره لري، همداشان مخکې مو ویلي وو، چې د شــخصیت کلمه د انګلیسي د پرســونالیتي کلمې ژباړه ده، چې هغه هم د لاتین له پرســونالیتي څخه مشــتق شــوې ده. پرسونا په لرغوني تیاترکې عبارت له هغه ماسک څخه وه، چې لوبغاړي به په خپلې څېرې باندې کېښــود او د نمایش ترپایه پورې به یې ســاته، د ماسک له ځانګړتیاوو څخه یــوه ځانګړتیا د هغه ثبــات او دایمي والی و، نوپردې بنا له شــخصیت څخه مو موخه عبارت له هغوځانګړتیــاوو څخــه ده، چې تقریباً په دایمي توګه سره د فرد په وجود کې حضورلري او دهغه له نورو څخه د تمایز موجب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر فرد شــخصیت د دوو ډلو عواملو تر اغیزې لاندې راځي. ژوندني (زیســتي) او اجتماعي، کېــدای شي نقــش، جنس، عمــر، او د مرغېړو عصبي عواملوته د شــخصیت اشــاره وشي، نن ورځ تاییدشــوې ده، چې د ښــځو شخصیت د سړیو له شخصیت څخه توپیر لری، همدا راز د ماشومانو او د ځوانانو شخصیت د پاخه عمر او د زاړه عمر لرونکو افرادو له شخصیت سره توپیر لری، همدا راز د عصبي دستګاه د نقش او د داخلي مرغېړیو د سیستم په هکله د شخصیت په څرنګوالي کې هم د تردید ځای باقي نه دی پاتې شوی، لکه د تایرویید د مرغېړویو زیاته څڅېدنه د دې موجب ګرځــي، چې فــرد له اندازې څخه زیات تحریک منونکې وي، اما دهغه په څڅېدنه ( ترشــح) کې کمېدنه د دې موجب ګرځي؛ تر څو حساسیت ډېرې ټیټې اندازې او حد ته را ورسوي، ټولنیزعوامل هم پخپل وارسره د فرد شــخصیت تر اغیز لاندې راولي، له ټولنېزوعواملو څخه کېدای شي، د کورني نقــش یعنــې هغه ډله چې په کورنۍ پورې اړه لري او هغــه فرهنګ چې کورنۍ یې په د ننه کې ځای نیسي اشــاره وشي، فروید باوري و، چې د ماشــوم د ژوند لومړني کلونه د هغه د شخصیت په څرنګوالي کې ډېر مهم نقش او رول لري.

د اروا پوهنې مکتب معتقد دی، چې شــخصیت له دریو سطحوڅخه جوړېږي، نهاد، زه (من) او لوړ زه (من برتر) فراخود د هغې قوي نهاد دی، چې د اولیه غرایزو له مجموعې څخه جوړېږی، د لذت د کســبولو له اصل څخه پیروي کوي، نهــاد ړوند اوکوڼ دی او له هېڅ منطق څخه پیروي نه کوي، نهاد له واقعیت سره په برخورد کې متعادل کېږي اود شــخصیت دویم قســمت یعنې من جوړېږی، من یعنې له منطقي فکر څخه اســتفاده کول او د نهاد غوښــتنې د زمان اومکان د سره سم پوره کول.

مــن (زه ) لــه اجتماعــي مقراراتو څخه بې خــبره دی، له مــن څخه یوه برخه لــه اجتماعي محدودیتونــو سره په لګېدلو کــې پر من برتر تبدیلېږي، په همدې بنا من برتر یعنې هماغه د پلار او مور امر او نهې یا د ټولنیز چاپېریال امراو نهې د شــخصیت د دریو ســطحو په منځ کې د من کار له ټولونه زیاد ســتونزمن دي، ځکه چې د نهاد دغوښتونواوټولنیز چاپیریال د محدود یتونو تر منځ باید تعادل ایجاد کړي.

شــخصیتونه په مختلفو ښو طبقــه بندي کوي، او هره طبقه یو ټیپ ونومــوي. اروا پوهانو د انســانانو د شــخصیت پیژندنې لپاره پر پلټنې علاوه دا کوښښ هم کړی؛ څو د هغوی ارزونه هم وکــړي، لــه همدې نظره د شــخصیت ارزونې د ډېر اهمیت او ارزښــت وړ ده، چې کېدای شي په مناســبو موقعیتونوکې د افرادو له شــتون څخه اســتفاده وشي. هغه کړن لارې چې د شــخصیت ارزونــې لپــاره پکارول کېږي، عبارت دي د روان ســنجۍ له کړنلارو( دشــخصیت د عیني آزموینو پوښتن لیکونو ) څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکي پوښتنې:**

۱ شخصیت د یوه سړی ..... څخه عبارت دی؟

الف: جسمي ځانګړتیاوې ب: طریقه والی

ج: رواني ځانګړتیاوې د: خوي او خصلت

۲ د ښځو کوم قدرتونه او ځانګړتیاوې د نارینه وو په پرتله ډېردي؟

الف: عد دي استعداد ب: هیجاني والی

ج: مکانیکې استعداد د: د ښمني والی

۳ مزاج یعنې؟

الف: د شخصیت د ژوند عوامل. ب: د شخصیت ټولنیزعوامل.

ج: د شخصیت اکتسابي عوامل. د: د یوه شخص دوران ځانګړتیاوې.

۴ د شخصیت له سطوحو څخه کوم یو ډېر اهمیت لري؟

الف: نهاد. ب: من. ج: من برتر. د: فراخود.

۵ د شخصیت مختلف اړخونه د لاندې طریقې څخه په کومه یوه طریقه ارزیابي کېږي؟

الف: فرافکن. د: بالیني. ج: عیني شخصیت. د: پوښتنلیک

۶ من برتر یا فراخود څرنګه جوړیږي؟

الف: د من د لګېدنې له ټولنیزو محدودیتونو څخه.

ب: د نهاد له لګېدنې څخه یا ټولنیز واقعیتونه.

ج: د نهاد لګېدنه له من او فراخود سره.

د: د نهاد له مهارولو څخه اوطبیعي اړتیاوې.

۷ د نارینه وو کومه ځانګړتیا له ښځو څخه زیاته ده؟

الف: سیالي کلامي ب: ټولنیز والی

ج: هیجاني والی د: دښمني والی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ په شخصیت باندې د مؤثرو ټولنیزو عواملو له نهاد والې څخه موخه داده چې هغو ی
الف: په فرد باندې قاطع او مسلم اثر لري     ب: په هره اجتماع کې شتون لري
ج: په ارادي توګه سره وارد د عمل ګرځي     د: د ژوند له عواملو سره ارتباط نه لري

۹ اکثره نابهنجاره اشخاص په هغو کورنیو پورې اړه لري چې:
الف: د هغوی د افرادو تعداد ډېر دی     ب: له والدینو څخه یو فوت شوی دی
ج: د هادي ژوند مسیر نه و     د: والدین د عقیدې اختلاف لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هېرېدنې حافظه

تولیزه موخه:
داطلاعاتو دپروسس دطریقې زده کړه او د حافظې اهمیت د اطلاعاتوپه کسبولو اود هغه په کار ولو کې.

**د زده کړې موخې:** د دې هدف په پای کې له زده کوونکو څخه انتظارکېږي څو:

- له حافظې څخه په اغیزمنه اوګټوره ګټه پوه شي
- د حافظې د تقویت په طریقه باندې باید پوه شي
- د حافظې په متقابله اړیکو او هېرې باید پوه شي او دهغو اهمیت توضېح کړي

**د هېرولو حافظه:**

**د حافظې د جوړښت درې ګوني پړاوونه:** ارواپوهانو کشف کړې ده، چې حافظه کم تر کمه په دریو پړاوونو کې جوړیږي، چې حسي حافظه ( sensory memory)، لنډ مهاله حافظه (short-term memory)
او اوږد مهاله حافظه (Long- term memory)

۱ـ حسي حافظه یعنې په حسي اندامونوکې د اطلاعاتو مؤقتي ساتنه.

۲ ـ لنډ مهاله حافظه یعنې د ډېرې کمې مودې په مخ د اطلاعاتو ذخیره کول.

۳ ـ اوږد مهاله حافظه یعنې د اطلاعاتو ذخیره کول په راتلونکې کې له هغوڅخه د استفادې په منظور، نو په همدې بنا حسي حافظه اطلاعات د ګذرا په توګه ساتي، لنډ مهاله حافظه اطلاعات تر هغه وخته پورې ساتي؛ څو چې د استفادې وړ وي او اوږد مهاله حافظه بیا اطلاعات د تل لپاره ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویــر د حافظــې د بېلابېلو پړاوونو تر منــځ د اطلاعاتو لېږد ښــيي. څرنګه چې وينو حسي حافظې لره کولای شــو د لنډ مهاله حافظې د انتظار له اتاق سره يې تشــبيه کړو، وروسته له هغه چې اطلاعات لنډ مهاله حافظې ته وردننه شول کېدای شي له هغو ځايه اوږد مهاله حافظې ته لاړ شي، البته اطلاعات کېدای شي بيا لنډ مهاله حافظې ته وګرځي او د لنډې مودې لپاره تر ګټې لاندې ونيول شي، د حافظې د جوړښت په هر پړاو کې د هېرېدنې امکان شته.

**دتحليل (پردازش) سطحې:**

له لنډ مهاله حافظې څخه د بشــپړې اســتفادې لپاره د اطلاعاتو د ســطحې ځانګړتيا ووته د پاملرنې پرځای کولای شو، د هغه ژوره معنی په نظر کې ونيسو.

په مجالســو کې که يوازې د اشــخاصو نوم او د هغوی ظاهري وضعې ته پام وکړو،ويل کېدای شي چې په سطحي تحليل مو لاس وهلی، اما که چېرې دهغوی سياسي افکارو يا د مذهبي سرګرميو په هکله بحث وکړو، نوښايې يو ژور تحليل تر سره کړو، اوښايې ډېرچانس ولرو؛ ترڅوپه بله کتنه کې د هغوی نوم په ياد راوړو، د پردازش د ســطحو د فرضيې پر بنســټ، اوږد مهاله حافظې ته د اطلاعاتو د ننوتو ژورتحليل او په پايله کې د هغوی يادښت ته دمه ورکوي.

د پردازش په سطحو پورې اړوند مطالعاتو کې هغه آزمايښتونه چې د ډېر شمېر کلمو ترمنځ د قافيې کلمې پيدا کوي، ياهغه چې په غټو تورو ليکل شوي وي، علامت ګذاري کوي يې، سطحي تحليل ترسره کوي، اما هغه آزمويښتونه چې په هماغه فهرست کې د مترادفو کلمو په لټه کې وي، ژور تحليــل ترسره کوي، او په پايله کــې کليمې د يوه بام په ډول يادوي او اوږد مهاله حافظې ته ښه او غوره سازمان ورکوي، نوبنا پردې کله چې د کلماتو معنی ته توجه کوو، نوپه لاډېر ژورتحليل لاس وهو او اوږد مهاله حافظې ته د اصطلاحاتو لېږد آسانه کوو.

**بيا پېژندنه او په ياد را وړل:**

يو شخص په کوڅه کې وينی او مطمئن کېږی چې هغه مو مخکې ليدلی دی، د دې لپاره چې مشخص شي چې واقعاً هغه پېژنی، د بيا موندنې د لارښوونې له يوه ډول څخه استفاده کوی، چې همدغه بيا پېژندنه (Recognition) نومول شــوېده، خپلــه اوږد مهاله حافظه ګرځوئ؛ څو هغه محرکونه چې په مخکې لرى، هغه ووينی، يوه شــخص مخکې خپل کوم اثر پرې ايښــی او که نه، کومــه پايلــه چې دلته په لاس راوړئ ډېره دقيقه ده، اما کله چې غواړی د هغه نوم په ياد راوړی، دبيا موندنې يوه بله لارښــوونه چې يوڅه ســخته ده او په ياد راوړل نومول کېږي، کاروو، تاسو د هغه شــاخص په بنســټ چې د يوې اطلاع تر بيا پېژندنې ډېره بشــپړه ده مخ ته ځي او په خپله اوږد مهاله حافظه کې اطلاعات سره له محرکه پلټی، مثلاً ديوه شخص څېره د هغه د نوم په پرتله کلي شــاخص دی، له دې ټولو سره سره په اغلب ډېرو دغو مواردوکې دغه شــاخص کفايت نکوي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو وکولای شـو دیو شـخص نوم دټولو هغو نومونو په منځ کې چې ستاسو اوږد مهاله حافظه یې اشغال کړې ده بیا ومومو.

**د خاطراتو د شــکل تحلیل:** اروا پوهانو تصور کاوه چې لنډ مهاله حافظه د تازه ســیمیا په رقم تغیــر منونکې، اما اوږد مهاله حافظه چې د وچې ســیمیا په رقــم تغیرنه منونکې ده، لکه څرنګه چې به وروســته ښایې ووینی د لنډ مهالې حافظې محتوی واقعآ تاواني ده، او امکان لري له منځه لاړه شي، یا مخکې تر دې چې په تلپاتې خاطره بدله شي د بنې بدلون مومي، اما ډېری اروا پوهان معتقــد دي، چــې خاطرې اوږد مهالې حافظې ته له ننوتو وروســته هم ممکنې دي چې د شــکل بدلون ومومي.

**هېرېدنــه:** ځیني څېړونکې علاقمند دي، چې د هېرېدنې هغه حالتونو مطالعه کړي، چې کله ګټور اوکله هم د تأســف وړ وي، که څه هم موږ ټول غم انګېزه او کړاو ورکونکې خاطرې لرو او غواړو چې د هغوی له لاسه خلاص شو.

هېرونه په ډېری وختونو کې بې ځایه او بې مورده ده، د هغوی لاملونه کوم دي؟ لومړنی اروا پــوه چې هېرونه یې مطالعه کړېده (هرمان بینګاوس ) و، هغه به وروســته له دې چې د بې مانا هیجا ګانو فهرست به یې په بشپړه توګه سره خاطرته سپاره، خپله حافظه به یې په ټاکلیو فواصلو کې آزمویله، هغه متوجه شــو، چې د فهرســت له یادولوڅخه یو ساعت وروسته یوازې کولای شي، چې په سلو کې پنځه څلوېښت هېجا ګانې په یاد راوړي دغه یاد راوړنه وروسته له یوې ورځې په سلو کې پنځه دېرش او وروسته له یوې هفتې څخه په سلو کې یو ویشتو ته راټیټېږي.

**د حافظې د تقویت لارې:**

ځیني په دې باوري دي، چې د حافظې د تقویې لپاره باید قوي غذاګانې وخوري، حتی ځینې میندې او پلرونه دا تصورکوي، چې که چېرې د خپلو بچو نســونه په قوي غذا ګانو لکه غوښــه او داســې نورو غذاګانو باندې ډک کړو، نوښایې د هغوی هوش او حافظه بهتره او قوي شي، او ښایې چې بهتره او ښه درس ووایې، دغه تصورسم نه دی، په داسې حال کې، چې په هوښ، حافظه، دقت، او د یادېدنې په میزان باندې د غذایې موادو کمښــت منفي اغیزه لري، ځکه چې وړی هلک نشي کــولای دقــت ولري، اوهغه څه چې وایې حافظې ته یې وســپاري، اما  د غذایې موادو زیات والی ذهنــي قدرتونو ته زیادت نه ورکوي، د حافظــې د تقویت لپاره باید نورې دیادونې اغیزمنې لارې چارې وکتل شي، د حافظې د تقویې لپاره د یادېدنې د لارو پکار اچولو سرېېره داســې غوره شــی نشته، دغه دي، چې اوس د هغوی تعداد ته اشاره کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱ـ تمریــن:** تکــرار یا مرور ذهني یعنې ذهني ګرځېدنه یا فعالیت د یادونې لپاره د دې موجب ګرځي، چې له لنډ مهاله حافظې څخه اطلاعات اوږد مهاله حافظې ته انتقال کړي، ممکن دا چرت ووهــي چې تکرار یــو میخانیکې عمل دی او ډېرګټور ندی، اما بایــد داخبره له پامه ونه غورځول شي، چې په همدې تکرار سره مو د عددي او ســاده محاســبې توري یاد کړي، ماشــومان د کلماتو، املا په څو څو ځلې لیکي؛ څوېې حافظې ته وســپا ري، د ســینما تیاتر، جمناســتیک هنرمندان په نه ســتړي کېدونکې توګه ځینې حرکات تکراروي؛ څوله هغو څخه عملي حافظه تشــکېل کاندي، وروســته له هغه چې مو فورمولونه، اشــعار، یا متلونه حفظ کړل په دې فکر کې لوېږی، چې څه وخت به هغه کاروو.

**۲ - د نویو اطلاعاتو ارتباط ورکول په هغه څه چې مخکې پرې پوه شوي یاست:** په ذهن کې د شــته اطلاعاتو ارتباط ورکول په اصل کې هماغه تکرار د هغوی د یوالي لپاره دی، موږمعمولاً د اطلاعاتو په یو ځای کولو سره خپل ځان خپروو او پراخوو، لکه ماشــومان دا یادوي، چې پ له ب سره شــباهت لري، په دې توپیر سره، چې د یوه ټکې په ځای دری ټکې لري همداراز ماشــومان دا یادوي، چې د والیبال توپ د فوټبال له توپ سره شــباهت لري، اما د فوټبال توپ نســبتاً د والیبال توپ ته دروند دي.

**۳ - غیــر معمــولي دعواګانې:** هغه محرکونــه، چې د لیرې څخه په خپلوکــې سره جلا وي، په راحتــۍ سره په حافظه کې پاتــې کېږي، ځکه چې هغوی ته زیاتره توجه او پاملرنه کوو،او هغوی هــم هیجــاني عکس العملونه ایجادوي، نو په همدې بنا وکولای شــو، د نویو اطلاعاتو په واســطه غیرمعمولي، یا هم شــدیدې دعواګانې منځ ته راوړو، نو په راحتۍ سره به ښایې، وکولای شو، هغه په خپله حافظه کې وســاتو او په لازمه موقع کې بــه یې اظهار کړو. فرض کړئ، غواړی مغازې ته لاړ شی اوڅو قلمه خوراکې توکې واخلی، له هېرېدنې څخه د مخنیوې په خاطر کولای شی، نخود له خپلو سترګو، رشته له خپلو باڼوګانو، اسفنج له خپلو ورځو او قلم له خپلې پزې سره تشبیه کړی، اومطمئن اوسی، چې د دې عمل په ترسره کولو سره به انشا الله بیا هغه شی هېر نکړی.

د کلیــدي کلماتو طریقه په دې ډول ده، چې یوه پېژندل شــوې کلمه له هغوکلماتو سره، چې غواړ حافظې ته یې وسپارو تداعي کوو ، دغه طریقه مخصوصآ د خارجي ژبې په یادولوکې ګټوره واقع کېږي. فرض کړئ، غواړی د (News) کلمه د خبرپه معنی ماشوم ته وریاده کړی، کولای شی ووایــی، چــې خبر په اصل کې هرې نوې اطلاع ته ویــل کېږي او NEWS کولای شي له نوې سره تداعي شي ځکه، چې همغږي سره لري.

**۴ - له اختصاري علایموڅخه اســتفاده:** اختصاري علایم یعنې دکلماتو د لومړنیو حروفو پورته کول اوپه هغو یوه یاڅو کلمې جوړول مثلآ د حفظ لپاره مرکبه او طولاني کلمه.

(Electroencephalogram) ....EGG

د اوو رنګونو ( سور، نارنجي، ژېړ، شین، آبي، نیلي، چنېیا) د ترتیب د حفظولو لپاره باید د سنز سانب کلمه په کاریوسو یا ورڅخه استفاده وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دریم څپرکی لنډیز:**

د هرډول اطلاع ساتنه او د هغه په یاد راوړل حافظه نومول کېږي. څنګه چې په دریو پړاوونو کې جوړېږي. حسي، لنډمهاله، اوږد مهاله.

حـسي حافظه یعنې په حسي اندامونو کې د اطلاعاتو مؤقته ســاتنه، لنډ مهاله حافظه یعنې د ډېرې لنډې مودې په موخه د اطلاعاتو ذخیره کول، او اوږد مهاله حافظه یعنې د اطلاعاتو جوړونې زخیره کول په راتلونکې کې له هغو څخه د اســتفادې لپاره. څېړونکو کشــف کړېده، چې حافظه کم ترکمه په دریو مرحلو کې تشکېلېږي.

۱ ـ حسي حافظه

۲ـ لنډ مهاله حافظه

۳ـ اوږد مهاله حافظه

۳ اوږد مهالــه حافظــه: د ژورتحلیل د تحلیل د ســطحو اوږد مهاله حافظې ته د اطلاعاتو ننه ایســتل اوپه پایله کې د هغو یاد ته ســپارل راحت او آسانه کوي، د تحلیل په سطحو پورې اړوندو مطالعاتو کې هغه ازمایښتونه چې د ډیرو کلمو په منځ کې د قافیې کلیمې پیدا کوي. یاهغه چې په غټوتورو لیکل شــوي دي نښاني کوي یې، ســطحي تحلیل ترسره کوي، اما هغه آزمویني چې په هغه فهرســت کې د مترادفو کلموپه لټه پســې ګرځي کله چې د کلمومانا ته پام وکړو په یوه ژور تحلیل لاس پورې کوو او اوږد مهاله حافظې ته د اطلاعاتو لېږد آسانه کوو.

اروا پوهانو فکر کاوه چې لنډ مهاله حافظه د تازه سیمیا په شان تغیر منونکې اما اوږد مهاله حافظه د وچې سیمیا په شان تغیر نه منونکې ده.

لومړنی اروا پوه چې هیرونه یې مطالعه کړه هرمان ابینګاهوس و، هغه به وروسته له دې چې کله به یې په بشــپړه توګه سره د بې معنې هیجاګانو فهرست خاطرته وسپاره، خپله حافظه به یې په ټاکلو فواصلو کې آزمویله، هغه متوجه شو چې دیوه فهرست له یادولو څخه یوساعت وروسته یوازې کېدای شي په ســلوکې پنځه څلویښــت هیجاګانې په یاد راوړي، دغه یاد راوړنه وروسته له یوې ورځې څخه په ســلوکې پنځه دېرش او وروســته له یوې اونۍ څخه په سلوکې یوویشتو ته را ټیټېږي.

د حافظــې د تقویــې لپاره بایــد د یادولو اغیزمنې اومؤثرې لارې چــارې زده شي، د حافظې د تقویې لپاره دیادولو د لارښــوونو او نورو چارو څخه پرته بل داســې غوره او بهتره شی نشته، دغه ده چې دهغوی یوه تعداد ته اشاره کوو.

۱ـ غیرمعمولي تداعي

۲ـ د اطلاعاتو ارتباط ورکول په هغه څه چې مخکې پرې پوه شوي یاست.

۳ـ له اختصاري علایموڅخه استفاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېيم څپرکي پوښتنې :**

۱ تداخل څه وخت منځ ته را ځي؟

الف: مخکنۍ يادېدنه د وروستۍ يادېدنې مانع ګرځي

ب: وروستۍ يادېدنه به د مطالبو د په ياد راوړنې مانع وي

ج: يوه يادېدنه د بلې د تضعيف موجب ګرځي

د: دوې يادونې بايد ګډ اړخونه ولري

۲ـ له لاندې کارونو څخه د کوم يوکارترسره کول، په تدريج سره ستاسو حافظه ضعيفه کوي؟

الف: د مطالبو ديوپارچګۍ لپاره تکرار

ب: په لومړي سرکې د څپرکي خلاصه ويل

ج: د مهمو مطالبو لاندې خط کشول

د: د اختصاري علايمو تهيه کول

۳ـ په واقعيت کې د حافظې تقويه عبارت ده له ؟

الف: هرڅومره ډېرتکرار اوتمرين

ب: ديادېدنې دلارو په کارول

ج: مطالعه په ډېر دقت سره

د: د فاسفورس لرنکو اوقوي غذاګانو خوړل

۴ـ هېرېدنه، مخکې له واقعې څخه په څه مانا دي؟

الف: د تازه او نويو پېښوهېرول

ب: له حادثې څخه وروسته د مطالبو په يادونه کې ناتواني

ج: د تازه اشخاصو په پېژندنه کې ناتواني

د: هېرول دپېښو نه مخکې ترپېښېدو

۵ـ د حافظې له ډولونو څخه کوم يو ډول د شخصي تجربو يا آزمويښتونو خاطره ده؟

الف: پېښه ييزې. ب: معنايې. ج: عملي. د: لنډمهاله

۶ـ د لنډ مهاله حافظې توپير له اوږد مهالې سره په څه کې دی

الف: يادېدل. ب: تحريک. ج: ساتنه. د: په ياد راوړنه.

۷ـ حافظې ته وارد شوي اطلاعات په کوم قسمت کې د بڼې بدلون مومي؟

الف: حسي حافظه. ب: اوږد مهاله حافظه. ج: لنډ مهاله حافظه. د: بينايې حافظه.

۸ـ د نويــو اطلاعاتــو ارتباط ورکول په هغه څه چې تر مخــه پرې پوهېږي، په واقعيت کې هماغه تکرار د هغوی لپاره دی؟

الف: يوه پارچه کېدل. ب: حفظ کول. ج: ذهني مرور. د: تمرين کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلورم څپرکی

## احساس او ادراک

**ټولیزه موخه:**
د حسي او ادارکي اعضاوو نقش، اهمیت، او اغېزې.

**د زده کړې موخې:** د حسي او ادراکې اعضاوو نقش، اهمیت، اواغېزې د څپرکي زده کړه ییزی موخی له ښوونکې څخه انتظار کېږي؛ څو د دې څپرکې په پاي کې:

- احساس او ادراک تعریف او توضیح کړي.
- هغه غړي یا اعضاچې د احساس او ادراک په پروسه کې سهم یا برخه لري، هغوی وپېژني او د هغوی د وظایفو د ترسره کولو څرنګوالی توضېح کړي.
- د نه درک کولو او نه احساسولو علل او عوامل توضېح کړي.

**احساس او ادراک:** د ارګانیزم رابطه له محیط سره داخیستونکې اعصابو په کړنې (Recepto) او دهغــه په ځواب ورکونکــې (Respondent) پورې تړلې ده، دحیواناتو په لومړنیو ډولونو کې دغه کړنه یوازې د یوې حجرې په اختیارکې ده، په همدې ترتیب حیوان په ټولو محرکونو ځواب ورکوي. په لوړو سطوحو حیواناتوکې دری ډوله کاملاً متمایز اختصاصي اعضا شتون لري، رانیوونکې، ځواب ورکوونکې، او د رانیونکو او ځواب ورکونکو اندامونو په منځ کې اړیکه.

**رانیونکي اندامونه:** هغه دي چې د محرکونوپه مرسته په فعالیت راځي، محرک له یوې داخلي او یاخارجــي پېښــې څخه عبــارت ده چې په تحریکــې توګه سره منځ ته راځــي او دغه تحریک رانیوونکې اعضا اخلي.

**ځــواب ورکوونکي اندامونــه:** هغه دي چې د محرک په مقابل کې عکس العمل ښــیې، دغه عکس العمل معمولاً د مرغېړیو د ترشــح په بڼه یا د عضلې د انقباض په بڼه څرګندېږي. بنا پردې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلالی شئ چې د مرغېړیو ترشح او د عضلې انقباض محرک ته د ارګانېزم ځواب دی.

**رابـط اندامونه:** په واقعیت کې مرکزي عصبي دســتګاه ده، چــې له حرام مغز څخه د سرمغز لاندې برخه چې حرام مغز د مغز په نورو برخومرتبط کوي د مغز (بصل النخاع) جوړوي.


**احســاس:** یعنې د محیطــي تحریکونو لاس ته راوړل د رانیونکــو اندامونو له لارې او دهغوی انتقال داسې مراکزونو ته چې د هغوی د موندنې لپاره اختصاص شوي وي، ادراک یعنې داحساس تعبیر او تفســیر بنا پردې کېدای شي ووایو  چې احساس محیطي تحریکونوته یوژوندنی تخلیق او اندام رانیونکې عکــس العمل دی.. هغه محرکونه چې تحریک ایجادوي عبارت دي له میخانیکې، کېمیاوي، الکترونیکي، حرارتي او نوري الکترونیک هغه محرکونه چې انرژي لري.

**د اروا پوهنې له نظره د نور احساس:** د دې لپاره چې وښیو هغه څه چې وینو یوازې فزیکي اړخ (منعکس شوی نور اندازه) نه ده، د شدت بدلوونکې په نظرکې نیسو او لاندې ساده ازمویښت ترسره کوو.

له دوو مربع ۵ × ۵ سانتي وړو خاکستري کاغذونو څخه یو د A په نامه او بل یې د B په نامه نوموو، د A مربع د یوې سپینې صفحې په منځ کې او د B مربع دیوې تورې صفحې په منځ کې چې ابعاد یې ۱۵× ۱۵ ســانتي متره وي نیښــلوو، په لومړي سرکې دوې غټې صفحې د هغه تصویر مطابق چې په شــکل کې ښــودل شــوي دیو بل څنګ ته ږدو، د A مربع د B مربع په پرتله یوڅه تیاره او تیز وینو، د یوه معمولي ســپین کاغذ ورقه تقریباً د ۱۵×۳۰ ســانتي د ابعادو په درلودلو سره پورتــه کوو، ســپین کاغذ دیوه تصویر په مــخ ږدو، او هغه برخې چې د A او B مربع په مخ لوېږي ســورۍ کوو، ښــایې ووینو چې د دوو مربعو تازه والی او روښــانتیا یو راز او یو برابر لیدل کېږي. اوس پورتنی ازمویښت د فزیولوژي او اروا پوهنې په عبارت ټاکو، طبیعي ده چې دوه مربع خاکستري کاغذونه، نور یو راز او یوبرابر منعکس کوي، ځکه چې موږ هغه له یوه خاکستري کاغذ څخه پرېکړي، اوکه چېرې یوفزیک دان هم دغه د منعکس شــوي نور اندازه واخلي ښــایې ووایې چې دغه دوه نوره یوبرابر انعکاس کوي، اما موږ یې متفاوت وینو، نوپه همدې راز یوشــان ادراک یا که صحیح ووایو یو راز روښنایی به ایجاد کړي.

همداشان کېدای شي وښودل شي چې د نورکېفیت یعنې د رنګ ادراک په دې چې اصولاً د نور د موج په طول تړلی دی او نوروعواملوته د هغې زمینې له جملې څخه چې په هغې قرار نیسي د هغې شــبکې ناحیه چې نور هلته منعکس کېږی د سترګې انطباق یعنې رنګونه چې مخکې ادراک شوي دي وابسته دي. دلته هم د رنګ ادراک یوازې د محرک د فزیکي ځانګړتیاوو نتیجه نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ړوندرنګي (په ليدلو کې ناتواني): (Color Blindness)**

ړوند رنګي يعنې بې وسي د رنګونو په ليدنه کې، ځينې افراد هېڅ رنګ نه تشــخيصوي او په واقعيت کې د رنګونو په اړه بشپړ ړوندوالی لري، د دغسې افرادو تعداد ډېر کم دی.

د ړوند رنګۍ دوديز او رايج ډول عبارت دی له د سرو او شنو رنګونو په ليدنه کې چې اصلاحآ (daltonism) نومــول کېــږي ناتواني ځينې افراد په سره رنګ اوځينې بيا په شــنه رنګ او د ځينې افرادو بيا په سرو او شنو دواړو رنګونو باندې، ړوند رنګي يې ممکنه ده د افرادو ړوند رنګي کامله او يا هم ناقصه وي، هغه کســان چې په سره رنګ ړوندوالی لري،د ليدنې طيف يې نســبتآ څه لنډ ويني، اما هغه کسان چې په شنه رنګ ړوندوالی لري، د ليدنې د نور طيف دوه ټوټې ويني، دغه افراد د سوراو شين رنګ په خاکستري رنګ ويني اوپه نارينه ووکې د هغوی تعداد د ښځوپه پرتله ډېردی.

**شــاتنی انځور:** شــاتنی انځور يعنې هغــه اثرچې د اصلي محرک يوه طرف تــه له تللو څخه وروســته څه موده په ســترګو کې باقي پاتې کېږي، مثلآ که چېرې يوه نوراني جســم ته له دېرشــو څخه ترڅلوېښتو ثانيوپورې ځيرشی، نو هغه مهال يوې بې رنګه صفحې ته وګورئ، نويوه توره لکه (داغ) به پکې ووينی، همدغې تورې لکې ته دهغه نوراني جسم شاتنی انځور ويل کېږي. د شاتنيو انځورونــو پــه ليد لو کې ټوليز اصل پدې شرحه دی، کله چې لومړنی محرک يوه طرف ته کېږي او په ځای يې تازه محرک راځي، حسي اخيســتونکي نشي کولای چې تازه محرک پرته له فاصلې څخه ووينې، ځکه چې د مطلقې عدم تحريک پذيرۍ او د نسبي عدم تحريک پذيرۍ په حالت کې دي.

**ادراک:** نه بايد ادراک له احســاس سره مخلوط او ګډ شي، لکه څرنګه چې مو وويل احساس د حــسي اطلاعاتو عصبي مراکزوته تر ننوتلوپورې دی، حسي اطلاعات امکان لري په مســتقيمه توګه عضلاتــو او مرغېړيــو ته انتقال شي، يا د لوړو مرکزونــو (cortex) په لور يا د مغز د بهرني قشر په لور لار پيداکړي، او خپل اثريوازې د فعاليت په بدلون سره چې د (cortex) په سطح ترسره کېږي، وښــيې، که چېرې حسي اطلاعات مســتقيمآ عضلاتو او مرغېړيوته ولېــږدول شي، نو د حاکميت د ماتحت فرد رفتار به ښايې احساس وي، او له ادراک سره به ښايې رابطه ونلري. اما که چېرې حسي اطــلاع د کورتکــس لوړو مرکزونوته انتقال شي، نو ادراک به ښــايې شــتون ولري، او د حسي اطلاع ترحاکميــت لانــدې د فرد رفتار او د مغز د بهرني قشر جريانونه ښــايې وي، نو په دې بنا هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې احساســوو د حسي رانيونکو له فعاليت او همدا راز هغه فعاليتونه چې د حسي رانيوونکوپه فعاليت پســې د راوړنکي په مســيرونوکې ايجادېږي، او دتي لرونکــو د کورتکس په اړوند ترحسي مناطقــو پورې يا نور ورته نقاط په هغو حيواناتوکې چــې کورتکس نه لري ادامه پيداکوي، ادارک عبارت له هغو منځګړو جريا نونو څخه دی، چې د هغوی د مستقيم احساس جريان په لار اچوي په داسې ځای کې چې منځګړی جريان شتون نه لري، په داسې ځای کې چې تفکر شتون نه لري، په داســې ځای کې چې رفتار په بازتاب ډول سره ترسره کېږي، له ادراک څخه به خبرې نه کيږي، په بل عبارت که حسي اطلاع په مســتقيم ډول سره عضلاتو يا مرغېږيو ته لاړ شي مثلآ د کسي نور منقبض کړي اوخوله د لاړود ترشح يا زيم لپاره پرانيستی پرېږدي.

ګرمي د خولې او ساړه د لړزې موجب ګرځي، له احساس څخه ښايې خبره وشي، اما که چېرې د حــسي اطلاع او ځواب په منځ کې رابطه شــتون ولــري يعنې تفکر په عمل بدل شي نو له ادراک څخه به ښايې خبره وشي.

**د ادراک خطــا:** مختلفو تجربو داښــودلې ده چې ادراک، رونوشــت، ياســاده ښــکاره کونکې واقعيــت نــه دی، کله چې اداراک له واقعيت سره تطبيق نشي اصطلاحا وايو چې په ادراک کې مو خطا کړې ده.


البتــه نه بايده، د ادراک خطا اوګمان وړلو منځ کې اشــتباه وکــړو، ګمان وړل عبارت له هغه ادراک څخــه دی، چې مشــخصه موضوع نه لــري اود فردي اختلا لونو په اثرمنــځ ته راځي، دغه اختلالونه ممکن جسمی وي، لکه مسموميت او ياهم رواني وي ( مزمنې پرتې ) ګمان کول معمولا په رنځورو اشخاصوکې ليدل کېږی، اما ادراک خطا برعکس په لومړي سرکې په ټولو افرادو کې ليدل کېږی ثانيا يوه مشخصه موضوع لري.

د ادراک خطا په ټولو افرادو کې يوشان ده، او ټولو خلکو هغه آزمويلې ده، په داسې حال کې ګمان کول يوشــی يايو برابرندی، د ادراک د خطا يو برابروالی موجب شــوی دی، چې وکولای شــو هغه په ازمويښــتي ډول مطالعه کړو، حال داچې د ګمان کولو ازمويښــتي مطالعه امکان منونکې نــه ده، پــه ټولو وګړيو کې د ادراک د خطا له يوه برابر والي څخه موخه داده، چې ټول په يوه راز يا په يوشان  خطا کوي.

د ادراکي خطا ګانو بېلابېل ډولونه شتون لري، چې ځينوته يې په لاندې ډول اشاره کوو.

**د مولــر خطــا:** لابــر د ادراکي خطا ګانو لــه نمونو څخه يــوه نمونه ده، که چېــرې د A او B دواړوخطونو اوږد والی يو برابر او يو شی وي، نود A خط به له هرلوري دوو مقابل ښاخونوته او B خط به له متضادو يا مخالفو دواړو لوريو څخه محدود وي، د هغوی اوږدوالی ښــايي متفاوت وليدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د ځلورم ځپرکي لنډيز:**

احساس يعنې د رانيوونکو غړيو له لارې د محيطي تحريکونو اخيستنه او د هغوی لېږد هغو مرکزونو ته چې د هغوی د موندنې لپاره ځانګړي شوي دي، ادراک يعنې د احساس تعبيراو تفسير، نــو پــه همدې بنا کېدای شي وويل شي، چې احســاس دژوند يوجريان او د يــو بديهي چاپيريال د تحريکونــو لپاره د رانيونکو غړيو غبرګون دی، تردوو خاکســتري ياخړو مربعــو پورې نور يو برابر منعکس کوي، ځکه چې هغه موله يوه خړ کاغذ څخه پرې کړی، او که يوفزيک پوه هم له همدغه منعکس شــوي نور څخه اندازه واخلي، ښــايې ووايي چې هغه يو راز دوه نوره منعکس کوي اما متفاوت يې وينو، بناءً د نور ادراک يوازې د نور د فزيکي شدت محصول نه دی، که چېرې په متن کې دوه خړ مربع يو شــان واقع شي يو شــان ادراک يا يو شان ځلا به ايجاد کړي. همداشان کېدای شي وښــودل شي چې دنورځرنګوالی يعنې د رنــګ ادراک په دې خاطر چې اصولاً د نور د موج په طــول پــوري تړلی دی، په نورو عواملو پــورې لکه هغه ځای چې په هغې کــې قرارنيسي د هغې شــبکې ناحيه چې نورهلته منعکس کېږي د ســترګو انطباق يعنې ( رنګونــه چې مخکې لا ادراک شوي دي) تړلي دي دلته هم همدا شان د رنګونو ادراک يوازې د محرکو فزيکې ځانګړتيا وو پايله ده. ړوند رنګي يعنې د رنګونو په ليدنه کې بې وسي ځينې وګړي هېڅ يورنګ نشي تشــخيصولای او په حقيقت کې په رنګونو کې بشــپړ ړوندالی لري، د داســې وګړو تعداد ډېرکم دی د دوديزې ړوندرنګۍ ډول د سرو اوشنو رنګونو په ليدنه کې چې اصطلاحاً Daltotism نومول کېږي.

که چېرې حسي اطلاع دکورتکس لوړو مرکزونو لېږد وومي نوښــايې ادراک شــتون ولري او د خلکو چلنه په د مغز د بهرني قشر د جريانونو او د حسي اطلاع تر حاکميت لاندې وي.

ادراک د ساده واقعيت څرګند وونکې نه دی، کله چې ادراک له واقعيت سره تطابق ونه ښيې اصطلاحاً وايو چې په ادراک کې خطا شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څلورم څپرکي پوښتنې:**

۱ـ کله چې له ګرمې بخارۍ سره لاس لګېږي، نوپرته له کوم ځنډ يې اثر د مرکزعصبي دســتګاه ته لېږدول کيږي، دې پديدې ته ويل کېږي؟

الف: بازتاب. ب: يادونه. ج: رفتار. د: احساس.

۲ـ له لاندې مواردو څخه کوم يود ادراک په حوزه کې شتون لري؟

الف: خولې کېدل دګرمۍ په اثر. ب: د غذا په وخت د خولې د اوبو زيم. ج: د سترګې د کسي بندېدل اوخلاصېدل. د: دپنجرې ترنه د يخنۍ له امله.

۳ـ ادراکي خطا ګانې ښيې چې ادراک:

الف: له واقعيت سره مطابقت نه ښيې. ب: په ګڼو عواملو پورې ترلی دی.

ج: په مختلفو وګړوکې توپيرلرونکې دی. د: په ټولو انسانانوکې شتون نه لري.

۴ـ له لاندې پديدو څخه کومه پديده د احساس تر سلطې لاندې ده نه د ادراک؟

الف: کتل. ب: پېژندل. ج: تفکر. د: بازتاب.

۵ـ ولې د کم عمره ماشومانو خبرې معمولاً د لويانو تعجب راپاروي؟

الف: د خبرو تعجب آوري. ب: د لويانو په انتظارسره د تضاد په اثر.

ج: د کوچنيانو پېژندنې موقعيت. د: دکوچنيانو د معصوميت په علت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## شرطي کېدل او یادېدنه

**تولیزه موخه:**
د زده کړ ې غوره طریقې په موخه بیزه توګه او د هغوی کارول،
د ژوند په مختلفو اړخونوکې.

**د څپرکي د زده کړې موخې:** زده کونکي به د دې څپرکي په پای کې:
- یادېدنه د اروا پوهنې له مخې توضیح کړي.
- په یادېدنې پورې اړونده مفاهیم توضیح کړي.
- د یادېدنې ډولونه ښایې زده کړي.

**شرطـــي کېـــدل او یادېدل:** په تېرو څپرکو کې مو وویل چې په ارواپوهنه کې لومړی او اصلي د تحقیـــق زمینه یادېدنه ده، نوبناءً د رفتارپه هکلـــه منظمه مطالعه اوپه هغو پورې اړونده نظریې بایـــد د یادېدنې د پدیدو په مطالعه کولـــو سره پیل شي، د پدیدې د اصطلاح یادېدنه شرطي کېدل له ځانه سره لری. هغه پدیده چې ډېر زر د ارواپوهنې د علم په بدلون کې څرګنده شوې او اوس هم بنســـټیز رول لري، د کړو وړو اصلي دوه ټاکونکـــي عاملونه عبارت له یادېدنې او توارث څخه دي، هغوی په بشپړه توګه یو له بل سره تړلي دي، په اوسني حالت کې له محصل څخه غواړو چې د دې دوو متغیرو شـــتون هېڅکله له پامه ونه باسي که چېرې غیر شرطي غبرګونونه لکه د ډوډی پـــه وړاندې دخولـــې د اوبودا پیدا کېدل او د نور په وړاندې د ســـترګې دکسي نیولتیا یوه طرف ته پرېږدو، نو د انســـان او نورو ژوو کړه وړه د یادېدنې تراغیز لاندې دي، اما هرشرطي یا غیر شرطي یـــون د تـــوارث تر اغیزلاندې نـــه وي، لکه په ګرمۍ کې خولې کېدل، یا پـــه یخنۍ کې لړزېدل، اما نـــشي کېدای، چې داسي کړه وړه و مونـــدل شي، چې هغه د توارث تر اغیزولاندې نه وي، په عادي چاپیریال کې توارث دی چې د مغزو ډول اوهم دحسي او حرکي د اعضا وو ډول ټاکي. او هغه فرد چـــې لـــه هغوی څخه برخه وړي له هغې برخې سره په اړه یې یادوي، ارثي توپیرونه د دې موجب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي چې انسان وکولای شي هغه څه یادکړي، چې کوتره یا بیزو یې یادولای نشي، توارث دی چې موږتــه اجازه راکوي؛ څو ووایوهرڅوک او هر شي ځانته خپل خاصیت لري هره ښــځه ځانته خپل خوی او خاصیت لري.

د درمند ټکول دهرې وزې کارنه دی
غواړي نر غویی او زوړ سری

ســپی، پشــی، او بیزوګانې حتی کله چې په یوشــان موقعیت کې واقع شي، نو مختلف شیان ترلاسه کوي، د نورو ټولوحیواناتو وضع په همدې ډول ده، یادېدنه د عالي حیواناتو په کړو وړوکې همېشــه بنسټیزاثرلري، او توارث هم په همدې ډول بنسټیز اثرلري، ځینې خلک د یادېدنې اثربې اهمیتــه بــولي او ډېر اهمیت یادېدنې ته ورکوي دواړه عاملونه متقابل کړه وړه لري، په یادو لری، هغه کســان چې د توارث سهم یا برخه نادیده نیسي ورځخه وپوښتی چې ولې  قاطر او اسپه سره له دې چې په چاپېریال کې برابره وده کوي خوبیاهم کاملآ متفاوتې ځانګړتیاوي لري.

**د یادېدنې په اړه د مفاهیمو بدلون:** په تېرو وختونو کې په یادیدنې کې لوی پر مختګ هغه مهال رامنځه شوی چې دغه پدیده په خپلو ډېرو ساده شکلونو کې مطالعه شوې وه. دغې پېژندنې په ځانګړې ډول هغه مهال خپورتیا موندلې چې دحیواناتو یادېدنه مطرح شوې ده.

لــه دې ټولــو سره سره دیادېدنــې مطالعه نه په حیواناتو پیل شــوې، نه په شرطــي کولو. په تېروڅېرکــو کې موولیدل چې د انســان یادېدنه کېدای شي ډېره پېچلې وي، په همدې بنا داســې ښــکاري چــې دهغه مطالعه هــم باید پېچلې وي، امــا ابینګهاوس پــه ۱۸۸۵ کال کې یوه طریقه پیداکړه، چې له هغې پکارونې سره د یادېدنې د ازمویښــت مطالعه شــونې شــوه تر کال ۱۸۸۵ م پورې تصورکېده چې هېڅکله نشي کېدای یادېدنه په ازمویښتي توګه مطالعه شي.

مســلماً پوهېدل چې یادېدنه شــتون لري، او همدا راز پوهېدل چــې کوچنیان یې یادولی شي او د فکراوخیال د غوښــتنو په اړه نظریې او د دې غوښــتنو د ترلاسه کولو طرز او طریقه د ارسطو لــه زمانې راهیســې د بحث وړ ګرځېدلې، اما داســې ښــکاري، چې د یادېدنــې د مطالعې ځای په ازمویښــتونوکې ناشــونی دی، ابینګهاوس ټول دغه تصورات په ناځایــزه توګه په بل ډول کړل هغــه خلکو ته په بې مانــا هېجاګانو او افرادو ته یې د هغو په وریادولو سره وکولای شــول دغه ســتونزه حل کړي، او وښــیې چې د د غې پدیدې آزمویل آســانه او راحت دي، په هغه پســې بیا مــورګان Morgan و، چې د یادېدنې د مطالعې په هکله یې لومړني ګامونه اوچت کړل، ترانډایک Thorandike سمه د مورګان لارې ته ادامه ورکړه، هغه د نولسمې پېړۍ په پای کې دیوې منظمې


(c) ketabton.com: The Digital Library

مطالعې په واســطه سره وشــو کولای، پاولوف ته چې له یوه ځانګړي اهمیت څخه برخمن و، او د روســیې په هېواد کې او سیده ځان ورســوي او ویې پېژني، پاولوف فزیولوجست وو، ظاهراً ډېر ناوخته له اروا پوهنې سره آشناشــو او له بل لوري ارواپوهان هم تر ۱۹۱۸م کال پورې د نوموړي کارونو ته متوجه نه شول، د دې زماني څخه وروسته دوو څېړنیزو لړیو یوله بله سره پیوند وخوړ، او په او سني حال کې یوه ازمویښتي مقوله په حساب راځي.

د ابنګهاوس اختراع لکه څرنګه چې پورته اشــاره وشــوه له بې مانا هېجاګانو څخه عبارت وه، یعنې له دوو بې غږه تورو ترکیبونه چې په منځ کې یې یوغږ لرونکې توری شتون لري، لکه: TOZ ، DAP ، FUD،ZIL او ...

هغه له دغو هجاګانو څخه د هغوی د ساتلو په موخو تیارکړل. له دغو فهرستونوڅخه استفاده د تېزي یادېدنې د مطالعې لامل شــو. یعنې دامعلومه شــوه چې یو فهرســت څوځلې باید وویل شي څو وکولای شــو هغه پرته له غلطۍ تکرارکړو، همدا رازمعلومه شــوه چې هېرونه د وخت د تېرېدنې او د تمرینونو تعداد سره څه اړیکه لري.

لکه لاندیني تصویر د حافظې منحنی راښیې چې د هېرېدنې سرعت لومړی تېز وروسته بیاپخ دی، البتــه د هېرېدنې تخمیني بڼه د مواردو پــه ماهیت او هغه شرایط چې یادېدنه په هغه کې ترسره کېږي تړلې ده.




د ابنګهاوس ســاتونکې یاد شــوی انځور د دیارلســګونو فهرستونو له ســاتنې څخه تر بې مانا هېجاګانو پوري. ابنګهاوس به له بې مانا هېجا وو څخه مختلف فهرســتونه حفظول، له حفظ کړل شــویو څخه به یې ځینې ۲۰ دقیقې وروســته تکرار کړل او ځینې نور یوساعت وروسته، په همدې ډول تر آخره پورې پورتنی منحني منځنی یا د مختلفو فهرستونو له پایلو سره ښیې.

کله چې په ابنګهاوس د یوه فهرست یادول بیل کړ او هغه شمېر چې هغه کولای  شوای پکې فهرست یاد کړي شمېرل. او بیاددوهم ځل لپاره به یې بیا فهرست یاد کړ او د هغې د تکرار لپاره به یې اړینې دفعې شمېرلې. پورتنی منحني داښیي، چې ابنګهاوس به د فهرستونو په نوې یادېدنه کې د شلو دقیقو په زماني فاصله کې د لومړۍ یادېدنې په پرتله شپېته په سلو او یوساعت په زماني فاصله کې پنځه څلوېښت په سلوکې به یې لړپلټنه پکار وړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په همدې بنا دهغه په شل د قيقييزه  فاصله کې شـپيته په سـلو کې هېجاګانې چې يې مخته زده کړې وې په ياد يې لرلې، او د يو سـاعت په زماني فاصلې سره يې يوازې پنځه څلوېښت په سلوکې په ياد لرلې.

**يادېدنه او دهغې ډولونه:**

**لاره ليدنه:**

**يادېدنه له لارې ليدنې څخه:** آلماني کشالت پال اروا پوه  کهلر لومړنی سړی و، چې  اعلان يې وکړ، چې د يادېدنې ټول ډولونه نشي کېدای په شرطي کېدلو بيان شي، نوموړي له هغو ازمويښـتو نو څخه وروسته دغه نظراعلان کړ، چې په خپلو شمپانزو باندې، چې يوډول خاصې بيزوګانې دي، چـې TONY نومول کېږي، ترسره کړي وو. TONY (چې يوخـاص ډول بيزوده) زده کړې يې وه چې له قفس څخه بهريوه ټوټه کاغذ د يوه لرګي په واسـطه راواخلي، کهلر تصميم نيسي؛ څو يوه ټوټـه ډوډۍ د لرګي له اوږدوالي څخه پـه لرې واټن کې کېږدي، او بيا دوه لاسي لرګی د حيوان په اختيار کې پرېږدي دغه دوه لرګي داسـې وو، چې وشي کولای دواړه يوله بل سره ونښـلوي او يو اوږد لرګی ورڅخه جوړکړي.



( تصوير ښيې. )

Tony  پـه لومړي سرکې هڅه کوي چې يوازې په يوه لرګي سره د ډوډۍ ټوټه ترلاسـه کړي، خو په خپل دې کار کې نه بريالې کيږي. بېرته د شـا په خواځي او د لرګو په لاس وهنه پيل کوي TONY ناهيلی کېږي او په يوه کونج کې کښيني، وروسته له څه مودې څخه ناڅاپه پورته کېږي او دواړه کوچني لرګي يوله بله نښلوي او يو اوږد لاستی لرګی جوړوي او ډوډۍ ترلاسه کوي، کهلر د دې پېښـې د بيـان لپاره يعنې د يوې مسـئلې په ناڅاپي توګه د ځـواب موندنې لپاره د ليدنې اصطـلاح پـه کار يووړه، کهلر متوجـه کېږي، چې دغه ډول ليدنه په تدريـج يعنې په ورو ورو او د تمرينونو د پياوړتيا په مرسـته سره نه زده کېږي، داسـې ښـکاري چې دغه ليدنه کله چې د يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مس‌ئلې عناصر په سمه توګه سره په سمه توګه د یوه بل په څنګ کې واقع شي. یوځل جرقه وهي، د لیدنې له لارې په یادېدنه کې د پېښــو په منځ کې اصلي رابطه په ناڅاپي توګه کشــفېږي، نه د هڅې او خطا له لارې څخه.

**ادراکــي یادېدنــه Perceptual Lengarni :** له حسي دســتګاوو څخه چې کله یوه دســتګاه یوټاکلی محرک مومي، لکه کله چې ســترګې نوراخلي، نو وایو احساس (sensation) صورت نیولی دی. بنا پردې احساس یعنې د حســي عضو د عمل په حوزه کې د یوه محرک قرار نیول. او س که احساس شوي محرک ته معنی او مفهوم ورکړو، په هغه صورت کې ښایې ووایو ادراک Perception صورت نیولی دی. ادراکي یادېدنه یوه شي په ادراک کې تلپاتې بدلون سره له یوې پېښې.

**پټــه یادېدنــه:** پټه یادېدنه هغې یادېدنې تــه ویل کېږي، چې دیادېدنــې پرمهال کوم ځواب شاته نه لري، یعنې پټه یادېدنه ظاهراً پرته له کوم تقویته زده کېږي. فرض کړئ، د ژمي په موسم کې مو څلورکلن ماشــوم له کوره بهربوولی او هغه ماشــوم د واورې پرمخ یو موټر ویني چې هغه موټرغواړي مخ پربره ولاړشي ولې نشي کولای مخ پربره و خېژي، نو ماشوم له خپله ځانه هېڅ کوم غبرګون نه ښیې، خوشل کاله وروسته چې کله نوموړی د موټرڅېښتن جوړېږي نو په ژمي کې ورپه یادېږي، چې که موټر مخ پربره ولاړشي ښــایې احتمالآ بېرته مخ په کښــته وګرځېږي، همدا راز کله چې مونږ په تلویزیون کې جاپانی سریال وینو یاپه لومړي ځل له چېنایانو یا جاپانیانو سره مخامخ شو، فکرکوو چې هغوی ټول په یوه ډول او په یوه راز دي، اما وروسته له څه مودې څخه متوجه کېــږو، چې هغــوی ډېرزیات توپیرونه پخپل منځ کې لري. دغه ډول یادېدنه چې ظاهراً تقویت له ځانه سره نه لري پټه یا پټه شوي یادېدنه نومول کېږي.

**د پنځم څپرکي لنډیز:**

حــاضر څپرکی د دې مطلب په یاد راوړنې سره پیل شــو، چې یادېدنــه او توارث کاملآ په یوه ردیــف کــې دي. او یادېدنې ته پاملرنــه نه بایدو توارث ته د پاملرنې د لړوالي لامل شي، وروســته بیاپه یادېدنې پورې د اړونده لومړنیو ګامونو ځمونې د دریو انســانانو د آثارو له ګزارشي لنډیز سره وړاندې شــوي. هرمان ابنګهاوس په ۱۸۸۵کال  کې د انسان یادېدنه له حفظ کولو سره ادواد ترندا په ۱۸۹۹م کال کې د پشــیو یوه یادېدنه د معما په جعبه کې او ایوان پاولف بیا په ۱۹۰۲کال  کې د سپیو د خولې د  اوبو شرطي کول ترمطالعې لاندې ونیول.

دغو دریو څېړنیزو لړیو ادامه ومونده او کېدای شي وویل شي، چې نن ورځ د نوې ازمویښــتي اروا پوهنې یوه لویه برخه جوړوي.

تقویــت د کلمــې په کلي مانا کې یعنې هغه پېښــه ده چې له ځوابه وروســته پرته له کومې فاصلــې څخــه حضور پیداکوي؛ ترڅو د هغه د تکرار احتــمال (هغه مهال چې آزموینې په هماغه موقعیت کې قرار نیسي) زیاتوالی ورکړي، کله چې یې احتمال و شي چې یوځواب زیاتوالی مومي.

مفهوم یې دا دې چې هغه ځواب د زده کړې په حال کې دی.

په شرطي کولوکې مو د ځواب له ډولونو څخه مثبتاو منفي تقویت کونکو ته او هم مو اولیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ثانویه تقویت کونکوته اشاره وکړه.

مثبــت تقویت کونکی له خپل حضــور سره اومنفي تقویت کونکی یــې له خپل حضورسره د ځــواب د ځرګندېــدو احتمال زیاتوي. د ابینګهــاوس تر او تراندایک او پاولــف تر مطالعې لاندې یادېدنه په هېڅ وجه په ورځني فعالیت کې د انسانانو د یادېدنې د کلۍ منعکس کونکې نده، یوه بله یادېدنه شتون لري، چې د پېژندیزې یادېدنې تر عنوان لاندې موهغوی یاد کړه.

شــناختي یا پېژندنیزه یادېدنه عبارت ده له پتې لارې نه پیژندنه او مشــاهده یې یادېدنه هم له لیدنیزې لارې څخه یادېدنه، ده یعنې د پېښــو ترمنځ د اصلي را بطې کشــف په ناڅاپیزه توګه سره نه د کوښــښ او خطآ له لارې، پټه یادېدنه چې هغه ته یادنیونه ویل کېږي د تولید  په مهال اوظاهري غبرګون په ځنګ کې نه لري.

**د پنځم څپرکي پوښتنې:**

۱ـ غیرشرطي محرک کوم یودی؟

الف: روغتون    ب: وېره    ج: امپول    د: سپین لباس

۲ـ شرطي محرک کوم یودی؟

الف: سپین پوښی پالونکی    ب: درد آوره پېچکاري

ج: د کوچني مور    د: روغتون

۳ـ له سپین پوښو افرادو څخه وېره څه نومول کېږي؟

الف: شرطي محرک    ب: غیرشرطي محرک

ج: شرطي ځواب    د: غیرشرطي ځواب

۴ـ د انځورپر بنسټ دهېرېدنې سرعت څه ډول دی؟

الف: لومړی تېز بیاپڅ    ب: لومړی پڅ بیا تېز

ج: تدریجي او یو قسم    د: له تصادفي نوښتونوسره

۵ـ یادېدنه دلیدنې له لارې څه ډول ده؟

الف: دپېښو تر منځ د اصلي رابطې ناڅاپیزکشف

ب: د خطاوو د تعداد تدریجي لږوالی

ج: د مختلفو پېښو ترمنځ د رابطې ایجاد

د: د سختومسایلود حل لپاره د پلټنې پخاطر

۶: مشاهده یې یادېدنه څه ډول ترسره کېږي؟

الف: د طبیعي مشاهدې په طریقې سره

ب: د ذهني مسایلو په عیني کولو سره

ج: د کنشکر په شرطي کولوسره

د: له نورو څخه د نمونې اخیستلو په طریقې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## هوښ

**ټولیزه موخه:**
دهوښ مطالعه او د هغه پرحقایقو او ارزښتونو ځان پوهول او له هوښ څخه استفاده د شخصیت، ټبر یا کورنۍ پراساس.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې زده کونکي باید و کولای شي:

- هوښ تعریف او هم یې ځانګړتیاوې توضېح کړي .
- د مسایلو په حل کې له هوښ څخه د استفادې اهمیت.
- دهوښ د اندازې نیونې طریقې توضېح کړي.
- د هوښ د آزموینو د اصل ځانګړتیاوې توضېح کړي
- په هوښ باندې په چاپیریالي اغیزو باندې پوه شي.
- د ذهني پس پاتې والی عوامل توضېح کړي.
- په مختلفو عمرونوکې پر ضریب هوښیو پوه شي.

**د هـــوښ تعریـــف:** ډېری څېړونکي پوهېږي چې هوښ د هغو اســـتعدادونو او ځانګړتیاوو له مجموعې څخه دی، چې مستقیماً د مشاهدې وړ نه دی. له دغو ټولو تعریفونو سره سره هوښ د کلونو په اوږدو کې بدلون موندلی، او تراوســـه لا داسې تعریف چې د ډېری ارواپوهانو د تایید او منلو وړ وي په لاس ندی راغلي. د وخت په تېرېدو سره ارواپوهان په دوو ډلو ویشـــل شـــوي دي، لومړۍ ډله پردې باورده چې هوښ له یوه کلي استعداد او واحد څخه جوړیږي، خو دویمه ډله په دې باور ده، چې د هوښ مختلف ډولونه شتون لري، د هوښ لومړنۍ آزموینې، هوښ+ د یوداسې کلي ذهني استعداد په بڼه، چې ټولې پېژندنیزې کړنې یې یوځای جمع کړې په نظر کې ونیوه.
**لکه:** لومړی هوښـــي آزموینه چې یوه فرانســـوي ارواپوه آلفردبینه په ۱۹۰۵م کال کې ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــړه، یـــوازې یوکلي عدد یې په لاس ورکاوه او په واقعیت کې یې هوښ یوه کلي توانايي په نظرکې نیوله، (اســـپیرمن) د همدغې نظریې له طرفدارانو څخه و، هغه  د بېلابېلو رواني آزموینو د نمراتو ترمنځ، چې له آزموینو څخه د یوې ډلې په هکله ترسره کېده پورتنۍ همبستګي یې په لاس راوړه، او په دې اساس معتمد شو، چې هوښ یوه  یوازنۍ پېژندنیزه توانايي ده او هغه  یې د g عامل یا کلي هـــوښ ونوموله، د هغه په نظرد g عامل یا کلي هوښ په ټولوپېژندنیزو زمینو کې اســـتدلال د مســـایلو حل او د ښـــو پایلو اخیستنه شـــونې کوي، په بل ډول که په کلي هوښ یا د g په عامل کې یو فرد لوړ وي، په ډېرى مواردو کې یوه ښـــه بریا او لاس برى ښـــايي ترلاســـه کړي، اما په برعکس حالت کې ضعیفې پایلې ښـــايي ولري. د مطلب د لا روښانتیا لپاره کېداى شي د بنز د موټر ماشین د ژیان د موټر له ماشـــین سره پرتله کړو، لومړى په هره جاده او شرایطو کې ښايي ستونزه ونلري، او دویم د لومړي په ډول په ډېرى شرایطو کې ښـــايي نه وي پاتې، د اســـپرمن له کارونو څخه په الهام اخیســـتنې سره او د هوښ د اندازې نیونې لپاره د کلي هوښ ســـتنډرډ آزموینې تهیه شوې او د نظامي مراکزو، مکاتبو، پوهنتونونو، او  فابریکو په اختیار کې ورکړ شوي دي، له اسپیرمن څخه وروسته، ترسون اعلان وکړ چې، هوښ له اوو ذهنیو، بنیادي او مستقلو استعدادونو څخه یو له بل څخه جوړېږى. کلامي ادراک، کلامي روانوالى، عددي اســـتعداد، د فضايي جســـم استعداد، تداعي حافظه، ادراک او استدلال سرعت.

ګلیفورد له ډېرو کلونو څخه وروســـته دغه شـــمېر ته زیاتوالى ورکـــړ، او څرګنده یې کړه چې هوښ لږ تر لږه له ۱۲۰ عاملونو څخه جوړېږى. له ګلیفورد سره تقریباً په یوه وخت ریموند کتل، (Raymondcattel) د هـــوښ د بېلابېلو ډولونو د شـــتون نظریه رد کـــړه او دایې څرګنده کړه چې دوه ډوله هوښ شـــتون لري، ســـیال هوښ (fluid intelligence) اومتبلور هوښ  (Crystallized intelligence ) سیال هوښ یعنې د تازه پېژندنو د کسب توانايي او استعداد او د تازه مسایلوحل.

متبلـــور هوښ یعنې د ژوند پـــه اوږدو کې د پېژندنو تراکم په بل عبارت متبلور هوښ یعنې د مســـایلو په حل کې د مخکینیو پېژندنو کارونه د ســـیال د هوښ د درجې سره زموږ ټولې پېژندنې په دود دســـتور، ښـــوونه اوروزنه، او د ژوند په تجاربو، یا ازموینښتونو پورې تړلي دي، څېړنې ښيي چې متبلور هوښ د عمر په لوړ والي سره زیاتېږي، په داسې حال کې چې سیال هوښ د څلوېښت کلنۍ له عمر څخه نزولي ســـیر لري. ســـیال هوښ توارث ته او متبلور هوښ یادېدنې ته نسبتېږي. پورتنۍ وینا ته په پاملرنې سره کېداى شي، هوښ په دې ډول تعریف شي.

هـــوښ له هغه مجموع اســـتعداد څخه عبارت دى، چې له هغو سره شـــناخت یا پېژند ګلوي پیدا کوو، پېژند ګلوۍ یاد ته سپارو او د فرهنګ تشکیلوونکي عناصر په کاروو؛ څو د ورځني ژوند مســـایل حل کړو او له ثابت چاپېریال او هم له هغه چاپېریال سره چې د بدلون په حال کې دي سازګار شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د هوښ اندازه نیونه:**

مووویــل چې د هــوښ تعریف د کلونو په اوږدو کې بدلون موندلی، او داســې تعریف چې د ډېرې ارواپوهانو د منلو وړ وي، تراوسه لاشتون نه لري، کله کله هوښ په دې ډول تعریفېږي.

څه شی چې هوښي آزمویني اندازه کوي، پرهمدې بنا که همدغه تعریف ومنو او پوهېږو چې هوښي آزمویني څه شی دي، نوبیا به انشاالله د هوښ د تعریف ستونزه هم حل شي.

هوښي آزموینه عبارت له هغو مجموعو مسایلوڅخه ده چې د ازمویل کېدونکي په اختیار کې اېښودل کېږي څو په کاملاً مشخصو او معینو شرایطو کې ځواب ورکړي، دغو مسایلو د حل لاس ته راغلې پایلې د نورو افرادو له پایلو سره تفاوت وشي. په هوښــي آزموینو کې هره آزموینه یوه نمره ترلاسه کوي، چې دغه ته هوښي ضریب یا هوښبهر ویل کېږي. په هره ټولنه کې په پراخو ګروپونو کې آزموینې ترسره کوي، او د هغوی اوســط ۱۰۰ په نظرکې نیسي، بناءً د ســلو ضریب هوښــي د منځني هوښ ښکارندوی وي. له هغه څخه پورته او کښته د با هوښۍ او بې هوښۍ د درجاتو په ترتیب ښيي، فرض پردې دی چې ضریب هوښي کولاي شي د تحصیلي بریالیتوب وړاندوینه وکړي، نو په همدې بنا دضریب هوښۍ هره اندازه چې له سلو څخه لوړه وي په هماغه اندازه په مکاتبو او مدرسوکې د کوچنیانو د بریالیتوب احتمال ډېروي. او برعکس ضریب هوښي نشي کولای دټولو ذهني اســتعدادونو ښــکارندوی وي او الزاماً نشي کولای په واقعي نړۍ کې دبریالیتوب د درجې وړاندوینه وکړي، چې ماشــومان به په راتلونکې کې غوره اوښــه مدیران، رهبران او همسران ولري او که نه.

څرنګــه چې د هوښ په هکله بحث نشي کولای له انــدازې نیونې څخه یې بېل وي او څرنګه چې هوښ په هوښــي آزموینواندازه کېږي، نو اړینه ده لومړی هوښي آزمویني مطالعه کړو. د دې کار لپاره باید خپل بحث د هغوی په څو اصلي ځانګړتیاوو پیل کړو. اروپوهان د هوښــي آزموینو لپاره او په کلي توګه سره د رواني آزموینولپاره په څواصلي ځانګړتیاوو قایل دي.

**د هوښي آزموینو اصلي ځانګړتیاوې:**

۱ سټندرد والی:

۲ اعتبار( ثبات یا پایښتني )Graduate record examination

۳ اعتماد Reliability

**ســټندردوالی:** د هوښــي آزموینو په هکله سټندرډ والی یعنې نورمال یا هنجار درلودل، په بل عبارت ټولې ازموینې باید له آزموینو څخه په پراخه او وسیعه ډلګۍ کې ترسره شي، منځنۍ لوړۍ او ټیټۍ نمرې باید له وسطه معلومې شي.

**په دویمه مانا:** سټنډرد والی یعنې داچې د ازموینې دکړنې تګلاره کاملاً ځانګړې وي او تل په یــوه ډول تــرسره کیږي د آزموینې د اجرآ شرایط باید د ازموینې په دفتر کې په څرګند ډول پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابهام څخه باید توضیح شي. ازموینې باید یوشـــان د کړنلارو دســـتور وومومي له ســـتېنډرد والي څخه موخه د هغه دشرایطو اجرا ده چې مشاهده شوي تفاوتونه د آزموینو په پایلو کې باید د آزموینو د استعدادونو توپیرونو ته منسوب شي، نه د سوالونو د کړنې ډول ته د توپیر په تګلاره کې د رسېدو لپاره د سوالونو شمېر اود اجرا شرایط د دې هدف لپاره دي، چې دځوابونو د نمرې اېښودنې تګلاره کاملآ په څرګنده او روښانه ډول سره توضیح شي.

**اعتبار ( ثبات یا پایښت):** د یوې آزموینې اعتبار یعنې داچې د پرلپسي کړنو پایلې په یوه ټاکلې ډله کې ثبات ولري.

**مثـــلاً:** که چېـــرې ۳۰ زده کوونکي په یوه ټاکلې آزموینه کې پرلپســـې تریـــوې آزموینې لاندې ونیســـو، نـــو د دوو نوبتونو پایلـــې به سره نیژدې وي، په دې ډول چې پیـــاوړي افراد په وړو وړو نوبتونو کې پایلې پیاوړې او منځني افراد په دواړو نوبتونو کې متوسط یا منځني او کمزوري افراد په دواړو نوبتونوکې کمزوري وي.

**اطمینـــان یـــا اعتماد:** روایي یعنـــې دازموینې توانایي د رښـــتنی اندازې نیونـــې لپاره هغه څه چـــې وغـــواړي اندازه کړي د بېلګې په توګه که چېرې د ارواپوهنې ښـــوونکی وغواړي د محصلینو معلومات د عمومي ارواپوهنې په درس کې وارزوي، نو باید د دې کتاب له مطالبو څخه پوښـــتنې ورکـــړي. هغه کولای شي پـــه یوه آزموینه کې د تعریف روایی، اعتبار او د ســـتېنډردوالي  په هکله پوښتنه وکړي.

**هوښي ازموینې او تحصیلي پرمختګ:** د هوښي آزموینومختلف ډولونه شتون لري، او هریو له هغـــوی څخه هوښ له بېلا بېلو زاویو اوله نوروڅخه په لږ توپیر سره مطرح کوي، له دې ټولو سره سره ډېری دغه ازموینې کوښـــښ کوي؛ څو داسې استعدادونه اندازه کړای شي، چې تحصیلي پایلې غوره منعکس کړي، دلته د آزموینو په تشریح پیل کوو چې ډېر دود لري.

**د هوښ فردي ازموینې:** لومړنۍ فردي هوښي آزموینه، چې په ډېر پراخه مقایس کارول کېږي، د استفورد ـ بینه آزموینه ده، په لنډه توګه سره دغه آزموینه د هغې ازموینې له رویه چې د لومړي ځل لپاره د شـــلمې پېړۍ په لومړنیو کې آلفرد بینه په فرانســـه کې جوړه کړې وه، منځ ته راغلې، په ۱۹۱۶م کال کې لوتنیزترمن د بیني ازموینې د امریکا د اکســـفورد په پوهنتون کې له دری کلنو کوچنیانـــو څخه تر شـــپاړلس کلنو پورې د هوښ اندازه نیونه تـــر بیا کتنې نیول کېږي، اوهغه ته د اکســـفورډ آزموینه ویل کېږي. د مینامد بینه د دغې ازموینې وروستنۍ بیا کتنه په ۱۹۸۵م کال کې ترسره شـــو، د ازموینې له انفرادي اجرآ څخه موخه دا ده چې ازمویښت کوونکي په هر نوبت کې یوازې کولای شي یوه آزموینه زه ده کړي، په لومړني بیا کتنه کې دغه آزموینه د ازمویښت ترپایلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې به د عقلي عمر په ډول بيا نېده، عقلي سن يا عمر يعنې دغې کوچنۍ ازموينې ته په ځواب کې د ځومره عمر توانايي درلوده، مثلاً: که يوه اوه کلن ماشوم د اته کلنو ماشومانو متوسطه پايله تر لاسه کوله، نو ويل کېده به چې نوموړي د اته کلنو ماشومانو عقلي سن يا ذهني توانايې لري.

د عقلي ســن عيب داوو، چې نســبي نه وو، او د شــاته پاتې والي ميزان يې په د قيقه توګه نه شود.

**مثلاً:** که د يوه شــپږکلن ماشــوم عقلي عمر پنځه کاله او د يوه دولس کلن ماشــوم عقلي عمر يولس کاله وي، يو له هغو څخه يو کال شــاته پاتې والی درلود، اما واقعيت دا دی چې شــپږ کلن ماشــوم د دوولس کلن ماشــوم په پرتله ډېر پس پاتې و، ځکه چې د شــاته پاتې اهميت زيات په ټيت عمرکې وي.

(۱/۱۲ >۱/۶) د دې عيب د له منځه وړلو لپاره ضريب هوښــي محاســبه کوي، چې يونســبي عدد دی، او د عقلي او تقويمي ســن رابطه ښــي، د ضريب هوښۍ د محاسبې لپاره عقلي عمر په تقويمــي عمر باندې تقســيموي، او د دې لپاره چې په لاس راغلی عدد اعشــاريه ونلري، هغه په سلوکې ضربوي، نو په همدې بنا د ضريب هوښ د محاسبې فورمول به ښايي داسې وي.

$$1Q = \frac{MA}{CA} \times 100$$

په همدې ترتيب که د يوه اوه کلن ماشــوم عقلي ســن ياعمر اته کاله وي نو نوموړي ضريب هوښي ښايې ۱۱۴ وي

$$1Q = \frac{MA}{CA} \times 100 = 8.7 \times 100 = 1.14 \times 100 = 114$$

په دې فورمول کې که چېرې د کسر صورت اومخرج برابر وي، يعنې که د عقلي او تقويمي سن يو برابر وي، نوضريب هوښي ښايي ۱۰۰ وي، په همدې بنا ويل کېدای شي، چې عادي ماشوم هغه ماشــوم دی چې د هغه عقلي تقويمي ســن يو برابر وي، ياپه بل عبارت بهنجار ماشوم د خپل سن يا عمر مطابق طاقت اوتوان لري.

فرض پردې دی چې د استفورد بينه له آزمون څخه لاس ته راغلې پايلې ـ کولای شي د تحصيلي پايلو وړاندو وينه کړي. هغه ماشومان چې د لوړهوښۍ ضرايب لري اصولآ بايد خپلو زده کړو نه تر لوړو ســطحو پورې ادامه ورکړی. اوښــې پايلې لاسته راوړي. د استنفورد- بينه او نورو تحصيلی اســتعدادونو د آزموينو د همبســتګی ضرايب د (0.70-0.80) تر منځ دي به دې اساس ويل کېدای شي چې ضريب هوښي اود تحصيلاتو لپاره استعداد نسبتآ نيژدې اړيکې سره لري په همدې ترتيب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بيني د استفورد آزموينه د تحصيلي بريالیتوب د وړاندوينې لپاره يوښه غوره شاخص دی.

پــه هوښ بانــدې د چاپېريال اغيز: پرهــوښ باندې د چاپيريال د اغيــز د اړونده مطالعې له بېلابېلو څېړنيزو فونونو څخه مرســته ترلاســه کوي، يوله دې فنونو څخه د ضريب هوښۍ د ټاکنو د موقعيتي عواملو مطالعه ده. بايد په ياد ولری، چې ضريب هوښـــي هغه عدد دی، چې مونږ ته آزموينـــه راکــوي، په همدې بنا په ځينو مواردو کې د هــوښ د ارزونې موقعيت کولای شي ترېوې اندازې پورې ټولنيز اواقتصادي توپيرونه منعکس کړي.

له همدغو مطالعاتوڅخه په يوه مطالعه کې ازموينښت کوونکو هڅه کړی ده، چې د نه ځواب په مهال آزموينې په بشپړآرامش کې په سریوسي. دغه ازموينښت کوونکي د دې په ځای چې ساړه اوبې طرفه واوسېږي، تود، ګرم او دوستانه برخورد دې وکړی او د آزموينو د کړنلارې د تفهيم لپاره يې هم ښه اوغوره پلټنه په کاروړې ده.

پايلــه داشــوه چې د کوچنيانيو پرېشــاني د ازموينې په مقابل کې د پــام وړ لړوالی ومومي. د هغوی د هوښـــي ضرايب په مجموعه کې شــپږ نمرې لوړ د ګوا له ډلې څخه چې د ازموينښـــت په عــادي حالــت کې وو په لاس راغلې، نو پــه همدې بنا څرګند معلومېږي، چــې له آزموينو سره د برخورد طرز او طريقه چې يوچاپيرياليز عامل دي. او ضريب هوښي تر اغيزلاندې راولې، په همدې ترتيب يوازې ټولو ماشــومانو ته د ځواب ورکونې د شرايطو په ښــه کولو سره کېدای شي د مالداره او ناداره کورنيو د کوچينانو د هوښی ضريب تر منځ واټن کم شي.

**ذهني شاته پاتې والی:** هوښي ازموينې که څه هم عيبونه لري خوبياهم د هغو افرادو د ذهني استعدادونو د ارزونې لپاره چې فکر کېږي له هنجار څخه لږه ذهني توانايي لري کارول کېږي .

له متوسطو څخه د ټيټوافرادو د ازموينې په مرسته توپيرورکول کېږي. او تر ځانګړو ازموينښتونو لاندې قرارنيسي، انکار نشي کېدای چې ذهني شاته پاتې والی ياهغه کسان چې ځانګړې مرستې ته اړتيالري د هوښي آزموينو په ځواب ورکونه کې ضعيف دي.

په اوس حال کې ټول اســتادان يا پالونکي دا مني، چې بايد وروســته پاتې زده کونکي د خپل استعدادونو، توان او طاقت سره سم مناسبې زده کړې ومومي. نن ورځ چې کوم اشخاص د ذهني توان په ضعف مخصوصاً د ذهني کړنې د سرعت له نظره ضعف لري په ډېره آســانۍ سره پيژندل کېږي.

اروا پوهان هغه افراد د ذهني شــاته پاتې والي کســانو په کتار کې ډلبندی کوي چې له اوياوو څخه کم هوښـــي ضرايب ولري، مســلماً ذهني شاته پاتې اشــخاص څرنګه چې يې جدول ښي، د ذهني پس پاتيوالی په بېلابېلو درجو کې دي. په ذهني پس پاتې کســانو کې هم د بهنجار کســانو د بريالیتوب په شان شخصيت او انګېزش مهم رول لوبوي، ځکه چې دغه اشخاص په وار وار ماتې خوري او رشخند کيږي، او په آسانۍ سره په خپل نفس باور او عتماد له لاسه ورکوي او نشي کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نویو کارونولاس پورې کړي. هغوی د هغو کارونو د ترسره کولو لپاره چې په خپله یې کولای شي پرغــاړه واخلي معمولاً په خپل پلار اومور یا نــورو قریبانو پورې تړل کېږي. نوپه همدې بنا ذهني شاته پاتې کسان باید داسې کارونو ته هدایت شي چې زیاتره په هغو کې بریالي کېږي. او په پایله کې په خپل نفس باور او اعتماد تر لاســه کوي. سربېره پردې احتمال لري، چې دغه افراد په ځینو زمانوکې بااستعداده او په ځینو نورو وختونو کې کم استعداده وي. د ذهني وروسته پاتیوالی یا د هیجاني اشــخاصو ډېرې تعجب آورې نمونې شته، لکه: د محاسبې دسرعت، دیوه شي حفظ کول او یاهم د موسیقۍ د یادولو په زمینوکې واقعي پوهه په حساب راځي.

| دشاته پاتې والي درجه | د هوښۍ ضریب | په سلو وګړوکې | ځانګړتیاوې |
|---|---|---|---|
| خفیف | ۷۰-۵۰ | ۸۵-۸۰ په سلو کې | معمولاً کولای شي داسې کارونه یادکړي چې له هغوی سره خپل ځان اداره کړي. کولاې شي یوه کورنۍ تشکېل کاندي، کوچنیان ولري او په غیرتخصصي مشاغلو اشتغال وکړي |
| منځني | ۴۹-۳۵ | ۱۲-۱۰ په سلو کې | کولای شي ساده او غیرتخصصي کارونه ترسره کړي، کولای شي له خپلو اړتیاوو څخه یوه برخه برطرفه کړي . |
| شدید | ۳۴-۲۰ | ۷-۴ په سلو کې | کولای شي یولاس کارونه تکرارکړي، اما همېشه باید ترڅارنې لاندې وي، په مناسبې زده کړې سره کولای شي د ارتباط د برقرارۍ اولیه مهارتونه زده کړي |
| ژور | له ۲۰ څخه کم | یو په سلو کې | یوازې کولای شي لومړني رفتارونه تر سره کړي، لکه په لاره تلل، د ډوډۍ خوړل اود خبروکولو څو ټکي |

سن (عمر) او ضریب هوښي: د هوښي آزموینو پایلې د عمر په زیاتوالي سره بدلون مومي. تر سترګو کېږي، چې که چېرې ازموینښتونه لازمه زمانه آزموینو ته د ځواب ورکونې لپاره په اختیارکې ولــري. دهغوی پایلې د کلونوپه اوږدوکې شــایي ثابتې پاتې وي، اما که چېرې مجبوره شي چې په یوه محدوده زمانه کې ځواب ورکړي نو له څلویښت کلنۍ څخه وروسته د هغوی پایلې په هوښي آزموینوکې نقصان یا کمی وښودلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لويانو د آزموينو اجرا داښيي، چې د عمر زياتوالى دکلامي آزموينو په پايلو کې اغيز نه لري، اما د غير کلامي آزموينو پايلې ټيټې يا کښته راولي.

دغه پېښــې لره کېداى شي د ســيال د هوښ او د متبلور هوښ له نظريې له مخې چې مخکې ورته اشــاره وشــوه بيان شي. په دې ډول متبلور هوښ په لوړو عمرونوکې تقريباً زياتوالى مومي، اما ســيال هوښ کمېږي، ځکه چې د عمر په زياتوالي سره دعمل سرعت کمېږي انعطاف مننه هم لږوالى مومي او په پايله کې وګړي نشي کولاي تازه اطلاعات ترلاسه کړي، په لوړوعمرونوکې دقت دسرعت ځاى نيسي.

## د شپږم څپرکي لنډيز:

د هوښ په تعريف کې ارواپوهان په دوو ډلو وېشل کيږي، لومړۍ ډله معتقد پر دې  دي، چې هوښ يوکلي ذهني اســتعداد دى، چې ټولې پېژندونکې کړنې راټولوي. دويمه ډله بيا پردې عقيده ده چې هوښ له متعددو عواملو څخه جوړېږى، له لومړۍ ډلې څخه ســپيرمن او له دويمې ډلې څخه ترستون او کليفور ته مو اشاره وکړه، اسپرمن په کلي هوښ يا عامل معتقد وو، او ترستون بيا کلامي ادراکي وو ســيالي کلامي، عددي اســتعداد فضايي تجسم، تداعي حافظه د ادراک اواستدلال سرعت ته اشــاره کوي، حتى ګليفورد په دې     باور ووچې هوښ له ۱۲۰ عاملونو څخه جوړيږي، هم مهاله ګلفورد کتل، په دې معتقد وو چې دوه ډوله هوښ لرو، ســيال او متبلور، ســيال هوښ يعنې د تازه پېژندنو د کسبولو وسنه او د تازه مسايلو حل.

متبلورهوښ يعنې د ژوند په اږدو کې د پېژندنو تراکم د عمر په زيات والي سره لږوالى مومي، اما دويم يې ډېرېږي، په نهايت کې مو هوښ په دې ډول تعريف کړ.

مجموعه هغه اســتعدادونه چې له هغوى سره شــناخت پيداکوو پېژندنې په ياد ســپارو او د فرهنګ تشــکيلوونکي عناصر کاروو؛ څو د ورځنې ژوند مســايل حل کړوو، او له چاپېريال سره د بدلون په حال کې سازګاره شو. هوښ په هوښي آزموينو اندازه کوي.

هوښــي آزموينې له يو شمېر پوښتنو او مســايلو د پروسې د سختى درجو سره جوړيږي، دغه ازموينــې چې په يــوه ځانګړې تګلاره سره چمتو کېږي، د ازمويښــت کونکو په اختيار کې وي. او د افــرادو د پايلــو په پرتله د هغوى هوښــي ضرايب پــه لاس راځي، هره هوښــي ازموينه بايد دا ځانګړتياوې ولري، ستندرد والى، روايي او اعتبار درلودل.

تندردوالى يعنې داچې ازمويښــت بايد په يوه شــان اجرا او نمره ګــذاري شي او بايد د هنجار درلودونکــې وي، روايــي يعنې د نظر وړ موخه اندازه کړي او اعتبار يعنې د متوالي کړنو د پايلو تر منځ بايد دمنلو وړ تړاو ولري. هو ښې ازموينې اجازه ورکوي، چې موږ د افرادو د هوښۍ ضرايب اندا زه کړو، ذهني پاتې شــوي افراد عادي افراد او نور رســيدلي کســان تشــخيصوو او هغوى ته مناســبې زده کړې ورکړو، ذهني وروسته پاتې شــوي کسان هغه کسان دي، چې د هغوى هوښي ضرايب له ۷۰ څخه لږ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتلي ذهني وروســته پاتې کسان هغه کسان دي چې د هغوی هوښي ضرایب له ۷۰ څخه کم وي، غوره او وتلي کسان هغه دي چې هوښي ضرایب یی له ۱۴۰ څخه لوړ وي، معولاً ذهني شاته پاتې کســان مســاله ســاز دي، نو په همدې دلیل زیاتره تر مطالعې لاندې نیول شوی دي، څرنګه چې وتلي یا غوره مســاله نه خلقوي، نوځکه خو لږ د پام وړګرځي، لومړنی څوک چې دغه ډله یې مطالعــه کړه ترمن امریکایی ؤ. د هغه مطالعاتو دا ښــودلې ده، چې غوره او وتلي افراد د نورو د قالبي تصوراتو برخلاف ناهنجاره او بیمار نه دي، بلکه د شغل رضایت له ژوند څخه درامد او همدا راز له خپلې ښځې او اولاد سره د رفتار له نظره په پورتنۍ سطح کې قرارلري، وروسته پاتې افراد معمولآ له خپلو میندو څخه له ۲۰ څخه کم او له ۳۵ څخه ډېرنړۍ ته راځي، همدا راز په نیستمنو کورنیو کې د ذهني شاته پاتو کسانو تعداد د شتمنو کورنیو په پرتله ډېروي، په مجموعه کې ویل کېدای شي. چې د انسان هوښي توپیرونه دوه اصلي سرچینې لري.

توارث اوچاپیریال: اروپوهان پرهوښ باندې د توارث د اثر د ښــودلو لپاره یوازې وکولای شول د حیواناتو په هکله ازمویښتونه ترسره کړي.

**د شپږم څپرکې پوښتنې:**

۱ د استفورد عمده توپیرـ بینه او کسلر کوم یو دی؟

الف: د استفورد آزموینه ـ بینه د عمرله مخې درجه بندي شوې ده

ب: د هوښ آزموینه او کسلرله دریو ترپنځلس کلنۍ پورۍ اندازه کېږي

ج: د استفورد له ازموینې څخه وروسته آزموینه او کسلر بینه جوړه شوې ده

د: لومړی یې فرانسویانو او دویمه یې امریکایانو تیاره کړې ده

۲ـ د استفورد د نورو آزموینو تفاوت همدا راز دبیني اوکسلر تفاوت دا دی چې؟

الف: د استفورد ازموینه ـ د کلامي او غیرکلامي بینه ده

ب: کسلراو آزموینه دوې برخی لري کلامي او غیرکلامي

ج: د لومړۍ آزموینې روایي غوره ده روایي دویمه آزموینه ده

د: د تحصیلي یادېدنو لومړی استعداد اندازه کېږي

۳ـد ګروهي آزموینو له کړه او عمده معایبو څخه یو دادی چې؟

الــف: مهمــې توانایۍ نه انــدازه کوي ب: ټول کولای شي چې هغه اجــرأ کړي ج: عمیق یا ژوراطلاعات نشي وړاندې کولای د: ډېر ژر څرګندېږی او نشرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ د عمر په لوړېدو سره کوم ډو ل هوښ کمښت مومي؟
الف: کلامي  ب: متبلور ج: استدلال  د: سیال

۵ـ په هوښ کې دچاپېریال او توارث رول کېدای شي په دې ډول بیان شي؟
الــف: توارث مهمتردی  ب: چاپېریال مهمتردی  ج: متقابل کردارلري  د: هر یو پنځوس فیصده رول لري

۶ـ کوچنی څو په سلوکې خپل هوښ په ارث وړي؟
الف: په سلو کې شل  ب: په سلوکې پنځوس  ج:په سلوکې اتیا
د: نه دی معلوم

۷ـ وروسته پاتې شوي کوچني هغه کوچني دي؟
الف: چې په ابتدایه ښوونځي کې مردود شي  ب: منځنی حدیې له لسویا دوولسو کم وي  ج: دهغه ضریب هوښي له اویاوو څخه کمه وي  د: له ښوونځي سره جوړښت ونه ښیي

۸ـ رسیدلی یا ذکي کوچنی هغه دی چې؟
الف: ځلېدونکي اســتعدادونه ولري  ب: له هنجار یا طبیعي څخه لوړ ضریب هوښــي ولري ج: په ټولو مواردوکې په هنجارسره وي  د: له یوسل اوځلوېښتو څخه لوړه ضریب هوښي ولري

۹ـ هوښ عبارت دی له؟
الف: د صنفي مطالبو د یادېدنې توان  ب: له سن سره د معلوماتوسمون  ج: هوښي ازمویښت ته د ځواب ورکونې توان  د: د مطالبو په حفظولو کې وس او توانایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## انګېزش (Motivation)

**ټولیزه موخه :**
د انګېزش درک او پوهېدل او هغه عوامل چې په انسان کې د انګېزش او تحرکاتو باعث ګرځي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې له زده کوونکوڅخه ټمه کېږي؛ څو:

- انګېزش توضېح او تعریف کړي.
- د انګېزش علل او عوامل توضېح کړي
- انګېزش د انسان د داخلي مشابه عامل په توګه وپیژني
- د انګېزش توپیر په تحریک سره توضېح کړي
- انګېزش طبقه بندي کړي

ولې مونږ له ځانه یو رفتار ښیو؟ مثلاً په ډوډۍ پسې ځو. ولې بېلابېل رفتارونه ښیو؟ مثلاً دغذا اوبو، شــهرت، قدرت کســب، ټولنیز پذیرش او د مال په ټولولو پسې ځو. ولې په ډېرې وختونوکې فعال یو او یوه لحظه هم نشو کولای ارامه واوسو؟ څرنګه چې علامه اقبال لاهوري ویلي دي: ولې موږ ژوندي یو هغه څه ته چې ارام ونه نیســو او شــهریار بیاوایې ولې د عشق پېښه په افسون او افسانه ونه ترله شي. او همدارنګه نور ډېر سوالونه.

پورتنیو پوښتنو ته له ځواب ورکولو څخه بله هېڅ چاره نه لرو پرته له دې چې ویې منو. داسې عوامل شتون لري چې نه یوازې داچې مونږه فعالیت ته اړباسي بلکه زموږه فعالیت د یوه ځانګړي هــدف لپاره هڅوي. ارواپوهان دغه عوامل انګېزه یــا( Motive ) نوموي بناءً ویل کېدای شي چې انګېــزه په موجوده ژوند کې ډېرمهم ځای لري او د رفتــار لومړنی جوړونکی عنصردی، انګېزه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې محصلين دې ته اړباسي؛ څو په ساعتونو ساعتونو د ارواپوهنې په مطالعه مصروف شي، بل زده کونکی دې په ازمويښــتونو کې د ميکروب په کشــف اومشاهدې مشغول شي او دويم زده کونکی دې پــه ورزش بوخــت شي دغه انګېزه ده چې څــوک د مال او متاع په ډېرولو او څوک بيا د خلکو خدمت کولو ته هڅوي. نوبناءً د انګېزې مطالعه يو ځانګړی اهميت لري.

د انګېــزش تعريــف: هروخت د انګېزې يا انګېزش بحث پيښــېږي، معمولاً دغه پوښــتنه زده کوونکو ته مطرح کېږي چې انګېزه له انګېزش سره څه توپيرلري.

د فارسي ژبې د دســتور له نظره انګېزه اســم اوانګېزش اســم مصدر د انګيختن له مصدرڅخه دی، د دهخــدا د لغت نامې د نوشــتې ياليکنې په بنا انګيخــتن يعنې په حرکت راوړل څرنګه چې حافظ وايي.

**اګرغم لشکر انګيزد که خون عاشقان ريزد**

**من و ساقي به هم سازيم وبنيادش براه اندازيم**

انګېزه يعنی سبب، علت، او هغه څه چې په يوه کار اړ باسي انګېزش يعنې تحريک او ترغيب نوبنــاءً څرنګــه چې مو پورته اشــاره وکړه انګېزه يوداخلي عامل دی چې انســان په کلي توګه سره ژونــدی موجــود په حرکت راولي.او انګېزش داســې يوحالت دی چې د انګېــزې د دخالت په اثر ژوندي موجود ته لاس ورکوي، د مثال په توګه: ويل کېدای شي چې د بدن د غذايي موادو کمښت يا غذا ته اړتيا انګېزه او د لوږې حالت انګېزش دی دبدن د اوبو کمښت يا اوبوته اړتيا انګېزه او د تندې احســاس يا د تندې حالت انګېزش دی، مخالف جنس ته اړتيا انګېزه اومين کېدل او مخالف جنس ته د تمايل احساس انګېزش دی.

**د انګېزې او تحريک توپير:**

ومــو ويل چې محرک د راپارونې ســبب ګرځي. بنا پردې محــرک هم د انګېزې په څېر ژوندی موجود په خوځښــت راولي. د بېلګې په توګه کله چې غږ اورو، د هغه لور ته ورګرځو. کله، چې تېزه رڼا زموږ په سترګو لګېږي، مخ ورنه اړوو او يا هم سترګې پټوو؛ څو سترګو ته مو د ډېرې رڼا د ننوتنې مخنيوی کړی وي. کله چې ډېر وېرېږو او يا ډېره يخني احساســوو، د ونې د نازکو ښاخونو په شان لړزېږو. اوس دا پوښتنه پيدا کېږي، چې د انګېزې توپير له محرک سره (چې دواړه ارګانيزم په خوځښــت راولي.) او د انګېزې توپير له تحريک سره ( چې دواړه د ارګانيزم حالتونه ښــيي) څه دي. په روان پوهنه کې انګېزه او راپارونه هغه وخت کارول کېږي، چې د شــخص کړه وړه له ننه څخــه هدايــت شي. کله چې د نورو پر وړاندې د ســترګې د ګردي د پټولو پــه اړه خبرې کوو، کله چې د خوړو لپاره د خولې د ترشــح شــوو اوبو په اړه خبرې کوو له انګېزې نه خبرې نه دي، ځکه دغــه ټول حالتونه د بهرنيو محرکونو په وســيله منځ ته راغلي دي. د ټيټو ســطحو د ځارويو کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړه په داســې ډول دي، چې په پورتني ګراف کې مو وليدل؛ يعنې بهرني محرکونه هغوی هدايت کوي. خو په تدريجي توګه د لوړو ســطحو په څارويو کې دغه اندازه لوړه خېژي. د لوړو ســطحو څاروي تر ډېره د هغوی فزيولوژيک حالتونه چې تل د بدلون په حال کې دي او د پخوانيو عصبي تجربو په وســيله اداره کېږي. په بله وينا د لوړو ســطحو د څارويو او په ځانګړې توګه د انســان کړه وړه يوازې د بهرنيو محرکونو په مرسته ( هغه محرکونه چې تل وجود لري) نه هدايت کېږي. بلکه د فزيولوژيکي غوښتنو او په حافظه کې د پخوانيو تجربو پر اساس اداره کېږي؛ نو بنا پر دې نشو کولای چې ووايو هغه ماشوم چې داوبود چينې تر څنګ ولاړ دی، شايد اوبه وڅښي، له دې پرته چې موږ د هغه د تندې په اړه خبرووو. همداراز نشــو کولای چې له اور سره د ولاړ ماشــوم دا وړاندوينه وکړو، چې هغه به وســوځي يا به هم کوم ضرر ورته و نه رســېږي، له دې پرته، چې د هغه د پخوانۍ تجربې نه باخبره واوســو، په دې ترتيب د انګېزې لومړنی توپير له تحريک سره دا دی، چــې انګېزه د منځنيو عواملــو د دخالت په اثر منځ ته راځي؛ خو تحريک معمولاً د بهرنيو عواملو دخالت دی. له تحريک سره د انګېزې دوهم توپير دا دی، چې د تحريک منځ ته راوړونکي عوامل (رڼا، غږ، يخني او ګرمي) په مستقيمه توګه د پام وړ دي. خو د انګېزې د راپاروونکو عواملو يــا د کړو وړو د منځنيو عواملو مســتقيمه مطالعه ممکنه نــه ده. په هماغه توګه چې فزيک پوه نشي کولای د ځمکې د جاذبې قوه مســتقيماً مطالعه کړي؛ بلکې يو شــمير پديدې تر کتنې لاندې نيــسي او د ځمکــې د جاذبې قوه معلوموي. روان پوه هم کولای شي، چې د يو فرد له کړو وړو نه د هغــه محرکــه توان معلوم کړي. دريم توپير دا چې هر تحريک د يو ټاکلي محرک له امله منځته راځي، د بېلګې په توګه په خوله کې د خوړو اچول د خولې د اوبو د ترشــح ســبب ګرځي؛ خو يوه ټاکلې راپارېدنه کېدای شي بېلابېلې راپارونې ولري. د مثال لپاره کېدای شي د يو قتل پايله غوســه، وېره، اميدواري، عشق او يا نورې انګېزې ولري.

**د انګېزې ډلبندي:**

انګېزې په دوو عمده ډلووېشل کېږي.

**الف: فزيولوژيکي يا لومړنۍ انګېزې:** يعنې هغه انګېزې، چې د يو ژوندي موجود د ژوند د اړتياوو پر بنا منځ ته راغلې وي او ذاتي جنبه لري؛ لکه لوږه، تنده او جنسي اړتياوې.

فزيولوژيکې انګېزې د فزيولژيکي اړتياوو يا د حيواني انګېزې په نامه هم يادېږي، ځکه چې د انسان او حيوان ترمنځ شريکې دي. دغه ډول انګېزې د حياتي تعادل له اصل نه پيدا کېږي او موخه يې د ارګانيزم ساتنه ده.

**ب: ټولنيــزې يــا ثانوي انګېــزې:** يعنې هغه انګېــزې دي، چې د ژوند اړتيــاوې نه پوره کوي، بلکه د يادولو له امله منځ ته راځي. لکه د قدرت ترلاســه کول، مقام، مال، پرمختګ، د ټولنې سره جوړجاړي، واک ته رســېدل، د يو ټاکلي رنګ خوښــول، د پســتي ټکټونو راټولولو د انګېزو په څېر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــې دغه ډول انګېزو ته اکتســابي انګېزې هم ویل کېږي. لــه فزیولوژیکي یا لومړنیو انګېزو څخه کېدای شي په لنډه توګه یادونه وکړو.

**لوږه:** لوږه د هغو مهمو غوښــتنو څخه ده، چې ژوندی موجود فعالیت ته هڅوي او هم یې فعالیــت یوه لوري ته ســموي. د لوږې انګېزه په دې خاطر مهمه ده، چــې د اړتیا وړ انرژي بدن تــه ورکوي او هم په دې توګه د ارګانیزم موجودیت او حتی د ټولو غوښــتنو پوره کول تضمینوي. ضروري ده چې ژوندی موجود په لومړیو کې وجود ولري او ورپســې د ټولو غوښــتنو د پوره کولو لپاره هڅې وکړي. اوس دغه پوښــتنه را پیدا کېږي، چې مونږ له کومه پوهېږو، چې وږي شــوي یو او په پایله کې د خوړو لور ته ورځو. د لوږې د احســاس یوه لاره د معدې انقباض دی. یعنې کله چــې وږي کېږو په معده کــې انقباضونه منځته راځي، چــې درد ورسره وي، دغه دردونه د لوږې خبرتیا راکوي.

**تنــده:** تنده هم د لوږې په څېر له مهمو انګېزو څخه یوه ده، ځکه چې د ارګانیزم موجودیت تضمینوي. که یو ژوندي موجود د ډېر لږ وخت لپاره له اوبو نه محروم شي، حتی ډېری غوښــتنې شاته پرېږدي، او په لټه کې شي، کله یې چې د اړتیا وړ اوبه وڅښلې د نورو اوبو د پیدا کولو هڅه به پرېږدي، په دې توګه داسې په نظر راځي، چې د تندې په وخت کې په بدن کې داسې څه واقع کېږي، چې ژوندی موجود تر ډېر فشــار لاندې راولي. کوم عامل د تندې انګېزه راښــیې؟ له پېژندل شــوو انګیزو څخه د خولې او ســتوني وچېدل دي. په دې توګه کله چې اوبه ارګانیزم ته نه رسېږي، د هغه خوله او ســتونی وچېږي. د خولې او ســتوني د وچېدلو احســاس د اوبو لږوالی منعکسوي. داسې په نظر راځي، چې د اوبو لپاره اړتیا او د ژوندي موجود ټولېز فعالیت یې تنده جوړوي. کله چــې ارګانیــزم په دې حالت عمل کوي په دې پوهېږي، چې د خولې او ســتوني د وچوالي لرې کول تنده له منځه وړي.

**جنــسي انګیزې:** جنسي اړتیاوې یوه بله قوي انګېزه ده، چې ژوندی موجود فعالیت ته هڅوي. ښکاره ده، چې د جنسي اړتیا نه پوره کول د یوه شخص ژوند په خطر کې نه اچوي او یوازې د هغه د نوع د له منځه تللو ســبب ګرځي. د تندې او لوږې پوره کول د بدن کمښــتونه پوره کوي؛ خو د جنسي میلان پوره کول انرژي نه ترلاســه کوي، بلکې له لاســه یې ورکوي. د انرژۍ دا ډول مصرف لازم دی او رواني فشــارونه راکمــوي. او لازمه ده چې د دغو میلانونو پوره کول طبیعي مســیر ته هدایــت شي؛ څو د راتلونکو منحرفېدلو نه مخنیوی وشي. انســانان باید خپل جنسي میلان له هغو لارو نه پوره کړي، چې ټولنې اجازه ورکړې وي، له دې پرته به په منحرفو کسانو کې وشمېرل شي.

**مورنۍ انګیزې:** یو قوي عامل د ماشــوم ســاتنې میلان دی، چې کــولای شي یو ژوندی موجود فعالیت ته وهڅوي. ښایي چې دغه میلانونه له انسان نه په حیواناتو کې قوي دي او حتی هغوی اړتیا لري، چې د خپل نوي زیږیدلې ماشوم ساتنه زده کړي. له همدې مخې د ماشوم د ساتنې چلند پــه حیواناتو کې یو غریزه یې چلند شــمېرل کېږي. غریزه یي چلنــد هغه چلند دی، چې په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډولونو کې یو ډول لیدل کېږي، له زده کړې بېل دي، د یوې ځانګړې موخې لپاره نه ترسره کېږي، یو بل عامل کولای شي د مور چلند تر اغیزې لاندې راولي، مور ته د ماشوم درلودلو لېوالتیا د ماشوم له زیږېدو مخکې پیدا کېږي. کله ناکله ښځې له غوښتنې پرته د ماشوم څښتنې کېږي، په دې حالت کې د هغوی علاقه د ماشـوم ســاتنې نه تر یوې اندازې کموي. البته ډېرې موارد لیدل کېږي، چې مور مخکې د ماشوم درلودلو ته لیوالتیا نه درلودله؛ خو وروسته یې له خپل ماشوم سره ډېره مینه درلودله. خلاصه دا چې د انســان مورنی چلند د حیواناتو مورنې چلند ته په ورته چوکات برابر نه دی، بلکه په شدت د زده کړې تر اغیزې لاندې دي. هغه نجونې چې په ماشومتوب کې په نانځکو ډېرې لوبې کوي او د نجونو لوبو ته لیوالتیا ښیي او د ماشوم د درلودلو پر محال ښې میندې کېږي.

**د درد انګېزې:** دا چې یو ژوندی موجود هڅه کوي له درد نه ځان لرې وساتي، درد هم د یوې انګېزې په توګه شــمېرل کېږي. درد د عصبي پوســت یا د بدن د غړو د ډېر ازاد تحریک په وسیله منځته راځي.

د بېلګې په توګه د ســتنې څوخول او یا د برق شاک د پوست د اعصابو رشتې تحریک کوي او مرکزي عصبي دستګاه ته د تحریک اثر منتقل کېږي او په پایله کې ژوندی موجود درد احساسوي. د لــوږې، تندې او جنسي انګېزو پر خــلاف چې جزبوونکی حالت لري، د درد انګېزه دفاعي حالت لــري. له همدې املــه ژوندی موجود له هغې نه مخنیوی کوي. په انســان کې د درد انګېزه نورو انګیزو ته ورته د زده کړې او درک تر اغیزې لاندې دي په دې مانا چې انسان د مخکینیو تجروبو پر اساس او په هغه موقعیت کې، چې دی، د درد په مقابل کې د بېلابېلو بڼو عکس العمل ښیي، هغه سرتېري چې په جګړه کې ټپي کېږي تر عامو خلکو چې همغه ټپونه ورپورې دي ډېر مقاومت ښيي او یا هم لوبغاړي، چې د سیالۍ پر مهال ټپي کېږي.

**د خوب انګېزه:** که چېرې ژوندی موجود د یوې مودې لپاره له خوبه محروم شي مري؛ نو خوب هم له فزیولوژیکې انګېزو څخه شــمېرل شــوی دی. د خوب د پیدا کېدو لپاره درې نظریې په پام کې نیول شوې دي:

**لومړۍ نظریه:** د سر د وینې کموالی د معدې له ډکېدو ورچاپېر یې د وینې راټولېدل د خوب لامل بلل کېږي.

**دویمه نظریه:** په حجراتو کې د ســتړې کوونکو کېمیاوي موادو تولید د وینې له لارې مغز ته رسېږي او فعالیت یې پڅوي.

**دریمه نظریه:** د عصبي سیســتم په هایپوتالاموس کې یو د خوب مرکز او یو د ویښــېدو مرکز موقعیت لري. د دغو دوو مرکزونو تحریک د خوب او د ویښــېدو لامل کېږي، په بدل کې د هغو تخریبول یا د بې خوبۍ او یا هم د اوږد مهاله خوب لامل کېږي.

**د پرمختګ انګېزه:** دا چې پرمختګ کولای شي انســان د شــتمنۍ له پلوه د هغه ژوند تضمن کــړي او هــم د هغه مقام لوړوي؛ نو له قوي انګېزو څخه شــمېرل کېږي. لکه په دغه متل کې بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زحمته راحت نشته- که راحت غواړې زحمت درلره بويه «Nopain,Nogain »

دا د اهميت بېلګه ده، چې خلک د هڅو او پرمختګ لپاره لاس په کارېږي.

په ننۍ ټولنه کې د پرمختګ انګېزه تر بل هر وخت ډېره تر سترګو کېږي. ځوانان وينو چې د هېواد له لرو پرتو ســيمو هغو ښــارونو ته ځي، چې ډېر پوهنتونونه پکې دي. په ډېر شوق خپلې لوړې زده کړې مخته وړي. څېړنې ښيي چې په هره اندازه د پرمختګ انګېزه ډېره وي، نوسيالي به هم په همغه اندازه ډېره وي، لکه د دوو زده کوونکو او يا دوو کارکوونکو تر منځ سيالي د ذهني وړتياوو له پلوه په يوه کچه وي؛ خو که د پرمختګ د انګېزې له پلوه سره توپير ولري، نو پايلې به هم سره توپير لري. دغه توپير به د هغه چا په ګټه وي، چې د پرمختګ قوي انګېزه لري.

**د اړيکو او منلو انګېزه:** په نورو پورې تړاو او د هغوی له خوا د منلو احســاس، ملګری کېدل، ډله جوړول، مرسته کول، او د ټولنو غړی کېدل ټولې هغه کړنې دي، چې د انسان اړتيا معاشرت ته او د هغه بېزاري له يوازېتوب نه ښکاره کوي. د دغې اړتيا يا انګېزې رامنځته کېدل داسې بيانولی شــو، کله چې ماشــوم دې نړۍ ته راځي د ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره په بشپړه توګه په نورو پورې تړلې وي. هغه د نورو له مرستې پرته خپله هېڅ ډول اړتيا نشي پوره کولی، او په نورو پورې د هغــه تــړاو د دې لامل ګرځي، چې د خپلو اړتياوو د پوره کولــو لپاره د نورو رضايت خپل کړي. لــه همدې کبله د نورو تــګلارې مني، له بله پلوه د اړتياوو پوره کولو لپاره د هغوی د تګلارو منل ماشــوم ته آرامتيا وربښــي. په پايله کې پياوړی کېږي، کله چې ماشــوم لوی شي د خپلو مخکينيو تجروبــو له مخې هغــه لارې تعقيبوي، چې مخکې يې تجربه کړې دي او ډېر هغه لور ته هدايت کېږي، چې ټولنه يې مني.

د ماشوم د لويدو سره سم د هغه اړتياوې هم پراخېږي او ورو ورو پردې پوهېږي، چې د ډېرو اړتيــاوو لپاره لکــه لوبې کول، له نورو سره همغږی شي. دلته دي، چــې هغه ډلييزو لوبو ته مخه کوي او ټولنې ته راکښل کېږي. د دې لپاره چې ده ته په ډلو کې ځای ورکړي، اړ دي چې هر ډول ســتونزې ومني؛ نو منطقي به وي چې ووايو ټولنيز کېدل نورو ته د منلو وړ کېدل او له نورو سره د اړتيا يوه ټولنيزه او زده کړه ييزه پديده ده.

### د اووم څپرکي لنډيز:

د دغــه څپرکي مطالب مو پــه دې ډول پيل کړل، چې مونږ بايد اجبــاري فعاليت ولرو، څکه داســې اړتيــاوې، چې که هغه پوره نه کړو؛ نو ژوند بــه مو له خطر سره مخامخ شي. دا چې زمونږ اړتياوې بېلابېلې دي؛ لکه اوبه، خواړه، اکســيجن، مخالف جنس، پرمختګ او داســې نورې اړتياوې لرو، نو فعاليتونه او کړه وړه به موهم بېلابېل وي. روان پوهان هغه عوامل، چې ژوندی موجود له هغې څخه انسان په فعاليت راولي، انګېزه بولي او هغه حالت چې په ارګانيزم کې انګېزه رامنځته کوي راپارونه ورته وايي د بېلګې په توګه کولای شو، چې ووايو د خوړو د اړتيا لپاره احساس انګېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او لـوږه انګېـزش ده له انګېزې سره د انګېزش اړیکه د محـرک او تحریک اړیکې ته ورته ده. هماغـه ډول چې محرک تحریک رامنځته کوي، انګېزه هـم انګېزش رامنځته کوي؛ خو انګېزش او تحریک سره توپیر لري او هغه دا دي.

۱- انګېزش د تحریک په خلاف، د منځنیو عواملو له امله رامنځته کېږي.

۲- د انګېزش د منځته کېدو لامل نه لیدل کېږي.

۳- یو انګېزش ممکن له بېلابېلو انګېزو څخه رامنځته شوی وي.

۴- کېدای شي یو انګېزش په بېلا بېلو طریقو ولیدل شي.

۵- انګېزش د تحریک خلاف دوراني دی.

انګېـزش په دوو عمده ډلو ویشـل شـوی، فزیولوژیکې یا لومړنۍ انګېـزې، ټولنیزې یا ثانوي انګېـزې، فزیولوژیکـې هغه دي، چې د ژوندي موجود د ژوند اړتیـاوې پوره کوي او هدف یې دا دی، چې د ارګانیزم موجودیت له خطر سره مخ نشي. لوږه، تنده، جنسي اړتیا، درد او خوب له دغو مهمو انګېزو څخه شمېرل کېږي.

د لوږې او تندې، درد او خوب انګېزې د ارګانیزم موجودیت تضمینوي. جنسي انګېزې د شـکل دوام تأمینوي؛ خو نه پوهېږو چې د اکتشـاف انګېزه دارګانیزم موجودیت تضمینوي که نه؟ خو دا چې په ټولو کې دي او د کړو وړو لامل کېږي له انګیزې څخه شمېرل کېږي

**د اووم څپرکي پوښتنې:**

۱:- د ژوندي موجود د اصلي فعالیت لاملونه دا دي چې.

الف: د هغه د وجود لپاره لازم مواد دایماً کمېږي.

ب: بهرني محرکونه هغه په حرکت راولي.

ج: داسې جوړ شوي، چې باید فعالیت وکړي.

د: که فعالیت ونه کړي، نو سمدستي له منځه ځي.

۲:- د انګېزش او تحریک تر منځ دغه توپیر دی چې:

الف: یو ټاکلی تحریک بېلابېل محرکونه لري.

ب: یوټاکلی انګېزش بېلابېلې انګېزې لري.

ج: تحریک دوراني خو انګېزش مقطعي دی.

د: انګېزش بهرنی؛ خو تحریک داخلي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳:- کـوم لانـدني حالتونـه معمـولا د بهرنیو عواملـو د لاس وهنې لـه املـه رامنځته کېږي
الـف: ځانګـړې لـوږه.  ب: جنـسي اړتیـا.  ج: د مورمینـه.  د: د خولې د اوبو ترشح کېدل.

۴:- د لوږې اصلي لاملونه دا دي:
الف: د معدې انقباضونه.  ب: د وینی د شکر کمېدل.
ج: د ځانګړو موادو اړتیا .  د: ځانګړې لوږه.

۵:- د تندې احساس په کوم یو لامل پورې تړلی دی:
الف: د چاپېریال توده هوا.  ب: مصرفي خواړه.
ج: د حجراتو د اوبو کموالی.  د: د خولې وچوالی.
۶:- په انسان کې له درد څخه د مخنیوي انګېزه هم د زده کړې تر اغیزې لاندې ده؟
الف: په ټولو انسانانو کې لیدل کېږي.  ب: د انسان موجودیت تضمینوي.
ج: زغم یې په حالاتو پورې تړلی دی.  د: انسان هڅوي.

۷:- انګېزه یو له هغو عواملو څخه ده چې ژوندی موجود فعالیت ته هڅوي.
الف: منځني.  ب: ټولنیزې.  ج: فردي.  د: فزیولوژي.

۸:- کومه یوه لاندې انګېزه حیاتي تعادل تر پوښتنې لاندې راولي؟
الف: درد.  ب: اکتشاف.  ج: لوږه.  د: مورني مینه.

۹:- له انګېزش سره د تحریک یو بل توپیر ............. دی.
الف: دوره یې والی  ب: انعطاف نه منل  ج: نا ډکېدونکې  د: موقتي والی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

## هیجان

**ټولیزه موخه:**
په هیجان پوهېدل اودهغه اهمیت  د انساني مسؤولیتونو او واقعیتونو په درک کولو کې

**د زده کړې موخې:** له زده کوونکو نه تمه کېږي، چې د دې څپرکي په پای کې:
- هیجان تعریف کړي او د هغه ماهیت توضیح کړي.
- د هیجان عکسل العمل توضیح کړي.
- د عصبي دستگاه رول او اهمیت په هیجان او رواني عکس العملونو کې پوه شي.
- د هیجان په هکله د نظریاتو په بېلابېلو ډولونو باید پوه شي.

**د هیجــان تعریف:** هیجان یعنــې کلي عکس العمل، قوي او لنډ ارگانیــزم په یوه غیر منتظره موقعیت کې سره له یوه خووښوونکي او یا نه خوښوونکي عاطفي حالت ته وایی

هیجــان د انگلیـسي د Emotion کلیمې ژباړه ده. د Emotion لغت د ریښــې له نظره یعنې هغه عامل چې ارگانیزم په حرکت راولي. مثلاً غوســه داسې عامل دی، چې یو فرد بې هوښه کوي، ښادي، غم، هېره او نگراني هم کولای شي د هیجان له نمونې څخه یوه ښه نمونه وي.

ښــه ده چې غوســه ، ویره، غم، کرکــه، ماتې، بخیلي، شرمندگي او نور ټــول د هیجان اجزاوې شــمېرل کېــږي. د دغو ټولو حالتونو تعریف کول ډېر ســتونزمن کار دی. دغــه برخې دژوند مهم عواطف جوړوي، ځکه د ذهن مهم موقعیتونه منظم کوي. د هیجان د حالتونو ځانگړتیاوې دا دي، چې رواني او فزیولوژیکي ستونزې له ځانه سره لري. د دې ستونزو ظاهري بڼې ته هیجان وایې.

**د هیجان اصلیت:** په روان پوهنه کې هیجان ډېر یو بنســتیز او حســاس ځای لري، ځکه چې د هغــه اړیکــه له اړتیــاوو او انگېزش سره ډېره نږدې ده او کولای شي، چې د بدن رواني ســتونزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځته راوړي. هيجانونه کولای شي، چې د انسان سلامتي تضمين کړي د بېلګې په توګه وېره سبب ګرځي، چې انسان له خطر نه خپل ځان وساتي. او غصه سبب ګرځي، چې په دښمن حمله وکړي.

فيلسوفانو، فزيولوجستانو او روان پوهانو، چې د هيجان په هکله ډېرې هلې ځلې کړې دي، د هغوی اصليت او د عمل شېوې ترې اوسه هم په روښانه توګه بياني شوې نه دي او د يوې فرضيې پــه حالت پاتې دي دغه محققانو د هيجــان فزيولوژيکي بڼې (د زړه او تنفس د ضربې تغيرات، دخولې وچېدل، خولې کول....) او د هغو اثر د ذهن په تګلاره کې (د تلقين منني ډېرښت، د ارادي کنترول کمښت)او له هيجان څخه راپيدا شوي کړه وړه(ژړا، خندا، تښتېدل، پټېدل...)مطالعه کوي. دغه مطالعې ښــيي، د هيجان دځرک په تکوين او ښــکاريدنه کې دود ډېر رول لري. لکه په چېن کې چې انســان په غوســه کېږي؛ نو خپلې سترګې را وباسي. له دې شرايطو سره سم د هيجان توليد او د فزيولوژيک پايې تر اوسه هم په ښه توګه نه دي پېژندل شوي.

هيجان نه يوازې له راپارونکي عامل سره تړاو لري، بلکې خپله شخص، د فعل جسمي او ذهني حالت، د شخصي ژوند د شخصيت تاريخچه او د هغه په پخوانيو تجربو پورې هم تړلی دی. سمه ده، چې په ځينو استثنايي حالتونو کې ډليز حالتونه راپيدا کېږي.

او د ډېرو خلکو لپاره يو شان معنی ورکوي ( لکه له زلزلې يا په ښار کې د دښمنانو له خوا له بمبارد څخه ناڅاپي وېره) د هيجان اصول فردي احســاس دی. يعنې امکان لري د يو شخص ټاکلی حالت په بشــپړه توګه په غوســه واړوي او يايې ووېروي؛ خو په بل مــورد کې ممکن هېڅ عکس العمل را منځته نه کړي.

په ټولييزه توګه هيجان هغه وخت رامنځته کېږي، چې انسان له يوه ناڅاپي حالت سره مخامخ شي او يا هم د انســان حالت د زغم وړ نه وي. په حقيقت کې هيجان د تعادل د برابرولو لپاره د ارګانيزم له هڅې او موقعيت سره د انسان نه برابرېدل دي، چې د لنډې مودې لپاره له منځه تللي. نو ويلای شو د هيجان موخه د تعادل رامنځته کول او د ارګانيزم د موجوديت ساتنه ده.

**د هيجان عکس العمل:**

کولای شو ووايو چې هيجان د فزيولوژيک رواني مجموعه ده او د هغه عضوي نښې ډېر نوی والــی لري؛ نو ځکه که چېرې فکر وکړو، چې هــر هيجان يو خپل خاص فزيولوژيک عکس العمل لري کاملا ساده فکر به وي.

کلــه چې دا هيجان په ډېــره چټکۍ سره تېرېږي، د هغه فزيولوژيــک عکس العمل له هغې موقع نه يو نواخته دی، چې هيجان ملايم او اوږد مهاله وي.

د وينــې او تنفس کمېدل او ډېرېدل او د ســطحي رګونو انقباض د عکس العمل له جملې نه دي، چې د غم، ښــادۍ، غوســې او وېرې په هيجانونو کې په چټکۍ سره ليدل کېږي. هغه وخت چې هيجان ملايم او اوږد مهاله دی، لکه د حسادت فزيولوژيکي عکس العملونه د شديد هيجان له عکس العمل څخه توپير لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر حال د هیجان د ډول او د هغه د جسمي عکس العمل تر منځ اړیکه یوه ساده اړیکه نه ده، د هیجان په فزیولوژیکي عکس العمل کې راپارېدلي او تحریک شـوي ډولونه لیدل کېږي، چې په ورته وخت کې بېلابېل جوړښتونه لري. لکه د غم هیجان د افسرده ګۍ په ډول څرګندیږي؛ نو په ترتیب سره لاندې حالتونه په انسان کې لیدل کېږي:

سســتي، کســالت، قد کوږوالی، داوړو لوېدل، د خبرې راټولېدل، د وجود د حرکت نشتوالی، د وینې د راتاوېدو پخېدل، د عضلو بې حسه کېدل او د ذهن له کاره لوېدل. همدا راز د غم هیجان کولای شي فعاله بڼهځان تدویني، چې په هغې حالت کې ژړا، چیغې، زګېروی او د وینې را تاوېدل او د تنفس د دستګاوو له حده ډېر فعالیتونه جسمي او رواني تحریک لیدل کېږي. نو د غم فعاله فزیولــوژي له ځینو اړخونو د ښــادۍ فعالې فزیولوژۍ ته به ورتــه شي. بر عکس د غم غیر فعاله فزیولوژي له ځینو اړخونو به د ښادۍ د ارامې فزیولوژۍ ته ورته وي.

**د هیجان عصبي اســاس:** ډېری منځني هیجان عکس العملونه خود سره عصبي دســتګاه سره تړاو لري.

دغه دســتګاه له دوو عصبو ســمپاتیک (د عصب سیستم) او پاراسمپاتیک چې د دوی عمل له یو بل سره مخالف دی جوړېږي. هغه حرکتونه چې خود سره عصبي دستګاه منځته راوړي معمولا پاشلي، اوږد او کنډ اثر لري. دغه اثر د ترشح شوې غدې، لکه ادرینالین په وسیله تقویت کېږي، نو ځکه داســې ښــکاري، چې د منځني عکس العمل خودسره عصبي دستګاه تړاو لري چې یو پورتني مرکز سره چې نن یې ځای په تالاموس یعنې په منځني مغز کې تشخیص کېږي، هماهنګ کېږي. د څېرې ظاهري حرکات او غیر ارادي کتل هم دې مرکزسره تړاو لري. په دې حال کې ارادي اکتسابي حرکات دکورتکس (د مغز بهرنی قشر) د کنترول لاندې وي. د پیدایښت او تکوین له نظره د مرکز عصبي دستګاه له بېلابېلو قسمتونو، منځني مغز، چې د هیجان د عکس العمل له تنظیم کوونکي غړي نه شــمېرل کېږي، له مغز د بهرنې قشر نه (کورتکس) ډېر پخوانی دی. او همدا راز د بشپړتیا له پلوه هیجان یو زوړ او د ټیټې کچې عمل وشمېرو. څرنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه دوه عصبه ســمپاتیک او پاراســمپاتیک له یو بل سره مخالف عمل کوي. د سمپاتیک عصب ارګانیزم د اضطراري حالاتو سره د مقابلې لپاره وي؛ خو پاراسمپاتیک عصب هغه د خوب او آرامتیا لوري ته بیايي. د هغوی د عمل کولو تفاوت دا دی، چې هر یو بېل بېل کېمیاوي مواد آزادوي. دسمپاتیک عصــب هغه مــاده افرازوي، چې د هغه اثر لکه ادرینالین هورمون، چې دغه غده کلیوي ده، او د حرکت ســبب ګرځي. د هغه په عوض کې پاراســمپاتیک عصب هغه ماده آزادوي، چې د آراموونکو خاصیت لري. د ســمپاتیک عصب رول د هیجان په پیدا کولو کې کولای شو په لاندې توګه خلاصه کړو:

د زړه ضربان ډېرېږي؛ څو ډېره وینه عضلاتو ته ورســېږي او هغوی د خطر سره په مقابله کې چمتو کوي. د بدن د سطحې رګونه وړېږي؛ څو د وینې فشارونه پورته ولاړ شي او د ګنګس والي د حالت فشار په سطحي توګه ترلاسه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړېږي، تنفس ډېرېږي؛ څو لازمه اکسیجن ارګانیزم ته ورکړل شي. د سترګې توروالی خلاصېږي؛ څو خطر په ښــه توګه وپېژندل شي، ذخیره شــوي خواړه مواد په سرې کې آزادېږي؛ څو لازمه نیرو د بدن دفاع او یا له خطر نه تېښته چمتو کړي.

**د هیجان اړوندې نظریې:**

د هیجــان په وخــت د آګاهۍ د حالت تحلیل دوې نظریې منځ تــه راولي، چې یو له هغو نه ځانګړی اړخ د پام وړ ګرځوي، یوه نظریه چې هرپارت آلماني فیلســوف ته نســبت ورکول کېږي، چــې ذهني واقعیتونه ښــېې، یعنې فکرونــه د هیجان د پیدا کېدلو اصلي عامــل دي. له دې امله ارګانیزم موقعیتونه مناســب او موزون درک کوي او په پایله کې د ښــادۍ هیجان له لاسه ورکوي او یا برعکس نامناسب حالت درک کوي، چې له هغه وروسته یا خواشیني او یا هم غوسه کېږي.

روښــانه ده چې د هغه د درک او حالت پوهاوی د هیجان په تولید کې ارزښــتناک رول لري؛ خو په خپله هیجان نه دی. امکان لري چې یو انســان بېلابېل حالتونه په بشــپړه توګه درک کړي او د هغوی اړیکې هم ورته روښــانه وي؛ خو هېڅ ډول هیجان احســاس نکړي. دوه تنه د یو ځای خطر درک کوي.

د پورتنیو نظریو پر خلاف کولای شــو موضوع پرته له هییجان نه هم یاده کړو، انســان په یو وخت کې د غم احساس کوي، له دې پرته چې په عامل یې پوه شي، کسل یا غمجن کېږي. د دغو حالتونو لامل ډېر وخت فزیولوژیکه ریښــه لري. پــه دوراني اختلالونو کې ناروغ په دوره یي توګه کله خوښ او کله هم خواشینی وي. له دې پرته چې هغه یو پېژندل شوی لامل وي، هغه ناروغي، چې د پاتې کېدو په حالت کې ده د هېڅ بدې پېښــې یا اندېښــنې په مرســته نه خواشینی کېږي. هغه ناروغي، چې د افسرده ګۍ دوره تېروي، له هر ډول خوښــې پیښې پرته له خپل غم څخه نه خلاصېږي.

بلــه نظریه برعکس د هیجــان د فزیولوژیک په نورو پدیدو ټینګار کــوي. دغه نظریه لومړی دیــکارت مطــرح کړه، جیمز او لانګه په ډېر دقت دغه نظریې ته وده ورکړه، دغه نظریه د دې پر ځای چې هیجان د عضوي پدیدو لامل وبولي، عضوي پدیدې د هیجان لاملونه بولي. د دغې نظریې له مخې، چې د جیمز لانګه په نظریه شهرت لري، هیجان د عضوي اختلالونو درک بلل کېږي.

**د اتم څپرکي د مطلبونو لنډیز**

هیجان د ارګانیزم د لنډ، شدید او کلي عکس العمل یو غیرمنتظره موقعیت ته له ځانه سره یو عاطفي حالت خوښ او ناخوښ څخه عبارت دی. هیجان هغه عامل دی، چې ارګانیزم په خوځولو راولي، دا چــې هیجــان د ارګانیزم د اړتیاوو او انګیزو سره نیــږدې اړیکې لري، او کولای شي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېــرو رواني اختلالونو یا بدني روان ریښــه وي، او له لــوړ اهمیت نه برخمن وي. هیجان نه یوازې د هیجــان راپارونکــی اصلي عامل بلکــې په خپله فرد ته او د هغه فعلي حالت، جســمي، ذهني، شــخصیت، د ژوند تاریخچې او مخکینیو تجروبو سره تړاو لري، هیجان هغه وخت منځ ته راځي، چې شخص غافل ګیر شي، او یا که حالت له تحمل نه بهر وي. د دې سره سم د هیجان موجودیت د فــرد ناســازګاري د ارګانیزم د موقعیت تلاش د تعادل برقــراري ده، چې موقتاً له منځه تللې ده. هغه عکس العملونه چې د ارګانیزم په وړاندې هیجان ښیې،

منځنــي د لیدنې او حرکتي عکس العملونه دي، په منځنیو عکــس العملونو کې ټول ارګانونه شــامل دي، لکه د وینې د راتاوېدو تنفس، غدو او د عضلو سیستم. په هر حال د هیجان پر محال د دغو ارګانونو کړنې بدلون مومي، د بېلګې په توګه د زړه حرکت چټک او یا هم پڅېږي، د وجود سطحي رګونه تنګېږي، او د انسان رنګ اوړي، غړ او تنفس یې بدلېږي د معدې، مرۍ او د کولمو حرکتونــه درېږي، د خولې دغدو ترشــح پــرې کېږي، په بدل کې د ځینو نورو غدو ترشــح لکه د اوښکو، متیازو او خولو ترشح ډېرېږي، ویښتان مستیقم ودرېږي او د څېرې کرښې بدلېږي.

هیجان حرکتي او لیدني عکس العمل، لکه د وېرې د هیجان یادونه کولای شو: له وېرې څخه د ترسره شوي کار ځای لرېوالی، تمایل، حتې د پټېدو لرې ځای ته له وېرې څخه د ځان ساتنې تمایل پــه خپــل ځای کې د بې حرکتۍ تمایل د هغو هڅو پر وړانــدې منفي عکس العملونه چې غواړي د وجــود غړي په حرکت راولي. چیغې کول او پــه ځینې مواردو کې د فعاله دماغي کړنو ته اقدام (غرغرکول، د شونډو چیچل، منګولې اچول)

د هیجــان د ظاهري عکــس العملونو برخې ته د هیجان جلوې وایــې. د هیجان ډېری جلوې غیر ارادي دي، لکه د لاســونو رېږدېدل، د رنګ اوښــتل او داســې نورو په بدل کې کولای شــو د هغــه هیجان لــه جلوو څخه یادونه وکړو، چې په چاپېریال او ښــوونه - روزنه پورې تړلي دي په اصطلاح کې ورته کســبي او ټولنیزې جلوې وایي، لکه خندېــدل، چې لومړۍ جلوه هغه کړنه ده، چې کولای شي د ښوونې او روزنې تر اغیزې لاندې راشي او شکل یې بدل شي، لکه مینه ناکه خندا، تحقیروونکــې خنــدا، ځورونکې خندا، مالګینه خندا او یا نېش لرونکــې خندا ولرو. هیجان کولای شي د ذهن کړنې تر اغیزې لاندې راولي، په دې توګه د هغه د تحریک او راپارونې سبب وګرځي.

د هیجــان د تولیــد د اصلیت او څرنګوالي په اړه، چې د آلماني هربــارت نظریاتو ته ورته والی ورکوي معتقد دی، چې هیجان د موقعیت د درک له امله منځ ته راځي.

په دې توګه، چې ارګانیزم یو موقعیت ښه او مناسب درک کوي او په پای کې په ښادۍ او شوق راځــي او بل موقعیت ډېر خطرناک ترنظــر ورځي او په نتیجه کې وېرېږي او یا غمجن کېږي، بله نظریه چې د جیمز لانګه په نظریه پېژندل شوې ده د هیجان فزیولوژیکي پدیده ده. دې نظریې ته ورته د جمسي بل ډول والي څخه خبرتیا د هیجان سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اتم څپرکي پوښتنې:**

۱:د هیجان جلوه عبارت ده له:
الف: فزیولوژیک عکس العملونه. ب: د هیجان منځني عکس العملونه ج: د بل رقموالي ظاهري برخې. د: د ډېر شدید زر تېرېدونکی دخالت

۲: له لاندې عکس العملونو نه کوم یو د هیجان اکتسابي تجسم شمېرل کېږي؟
الف: مسخرې. ب: خندا. ج: سړه خوله د: ژړا

۳: د هیجان د اصلیت په بیان کې له موجوده ستونزو نه یوه دا ده:
الف: د هیجان جسمي نښې ثابتې او روښانه نه دي.
ب: د هیجان په اړه بېلابېلې نظریې شته.
ج: د هیجانونو نښې د محیط تر اغېزې لاندې راځي.
د: هیجان یو فردي احساس او بشپړ خصوصي دی.

۴: د لاندې موردونو څخه کوم یو ډېر د هیجان تر اغېزې لاندې راځي؟
الف: تل پاتې او پخوانۍ زده کړې.
ب: بشپړ ټینګ او غریزه یې عادات.
ج: د فرد عکس العملونه او خود سره عملونه.
د: د شکل نیولو په حال عادات.

۵: د هربارت په نظریه، چې له عقل اخیستونکې نظریې سره سمه ده، هیجان عبارت دی له
الف: د عضوي پدیدو څخه پوهاوی.
ب: د هیجان په موقعیت نه پوهېدل.
ج: د خودسره عصبي دستګاه لاس وهنه.
د: د هیجان احساس د بدني تغیراتو له امله.

۶: د هیجان لرونکی شخص معمولاً
الف: د انرژۍ کموالی لري. ب: اخلاقي موانع نه لري.
ج: ښه پرېکړه کوي. د: ډېره ښه حافظه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷: د جیمز لانگه له نظریې سره باید ووایو
الف: لومړی وېرېږو او له هغه وروسته رېږدو.
ب: لومړی ژړا کوو وروسته غمجن کېږو.
ج: لومړی سپی وینو، وروسته وېرېږو.
د: لومړی درک کوو، وروسته وېرېږو.

۸: د هیجان په هکله هغه څه، چې ډېر ارزښت لري، عبارت دي له
الف: د هیجان د وضعیت شدت.
ب: د پېښې پر وړاندې د لیدنې طریقه.
ج: تازه او یا هم زوړوالی.
د: د پدیدو د پېښو خپل اهمیت.
۹: کوم لاندېنی عبارت ښیي، چې هیجان کولای شي د جوړجاړي ارزښت ولري؟
الف: انسان هیجاني لیدل کېږي.
ب: هیجان پر دښمن د برید لامل ګرځي.
ج: هیجان ذهن پخ او فلجوي.
د: هغه حیوان چې ځان مړ ښیې؛ خو ژوندی وي.

۱۰: که یوازې د فزیولوژیکو پدیدو څخه پوهاوی د هیجان لامل شي، مونږ باید وکولای شو، چې
الف: خپل غړ پورته کړو او غوسه شو.
ب: خپله تېښته ووینو او په شدت ووېرېږو.
ج: خپل رېږدېدل وګورو او ووېرېږو.
د: حالت درک کړو او هیجاني شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچینې او اخځلیکونه:**


۱- روانشناسی عمومی   اثر دوکتور حمزه گنجی ۱۳۸۵.
۲- ارتباطات تجارت.
۳- لکچر نوت های روانشناسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د ښــوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حســابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شــاګردانو او د تخنيکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښــوونکو او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د مســلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســلکي، تخنيکــي او علمي مطالبــو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکلــه خصوصاً د هغوی املايي او انشــايي اشــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له ګرانو شــاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**